اربعین

لاتمام الحجۃ علی المخالفین



اربعين

لاتمام الحجة على المخالفين

پښتو ژباړه

تصنيف

حضرت مرزا غلام احمد قادياني مسيح موعود عليه السلام

بسم الله الرحمن الرحيم

د ژباړونکي سريزه (پيش لفظ)

حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و سلم د راتلونکي مسيح موعود په اړه دا وړاندوينه فرمايلې وه چې هغه به خزانې ويشي خو خلک به هغه خزانې نه اخلي او دا د هغو روحاني خزانو لور ته اشاره وه چې مسيح موعود به يې ويشي کنې سره او سپين خو خلک په هېڅ وجه نه پرېږدي.

الحمدلله چې خدای تعالی د حضرت مسيح موعود عليه السلام د هغو روحاني خزاينو يعنې د هغه د کتابونو د ترجمې کولو توفيق راوبښلو، الله تعالی دې قبول وفرمايي او د خلايقو د هدايت او د احمديت يعنې حقيقي اسلام د قبوليت باعث وګرځوي. آمين

دا ژباړه که څه هم په ۲۰۰۷ کال کې خاکسار کړې وه لېکن د حالاتو له وجې اوس توفيق راوبښل شو چې د تصحيح او بيا کتنې کار سرته ورسېد په دې کار کې خاکسار سره په ابتدايي ډول مکرم غيور احمد صاحب، سيد شفيق الله صاحب، سيد ولي الله صاحب په کمپوزنګ برخه کې وندې اخيستې په ډيزاينينګ کې مکرم سجيل احمد، تمثيل احمد وندې اخيستې. اوس مکرم سيد سجيل احمد صاحب، علي احمد صاحب، سيد تمثيل احمد صاحب، سيد عمران احمد صاحب، سمير احمد صاحب او شکران الله شمس صاحب د جامعه احمديه انټرنېشنل غانا د شپږم کال افغان محصلينو(مربيانو) د بيا کتنې سعادت څخه برخمن شوي دي الله تعالی دې ټولو ته اجرونه ورکړي. د لوستونکو څخه هم ددعا درخواست دی.

او الله تعالی دې زما د مور او پلار سره ټول هغو افغان صحابه او مشرانو ته چې د حق د قبلولو سعادت ورپه برخه شو او زمونږ د هدايت سبب هم شول په دې اجر او ثواب کې شريک کړي. آمين

والسلام

خاکسار سيد نعمت الله د احمديه مسلمه جماعت مبلغ غانا ۳ د اګست ۲۰۲۶

اربعین لاتمام الحجة علی المخالفین

دکتاب پیژندنه

(د حضرت مولانا جلال الدین شمس صاحب رضی الله عنه لخوا)

۲۶ د جولای ۱۹۰۰ء کال حضورعلیه السلام پر مخالفینو باندې د حجت د تمامولو لپاره د څلوېښتو اعلانونو د خپرولو اراده وکړه او د څلورو پاڼو یو اعلان یې هم ولیکلو چې د اربعین نمبر۱ په نامه سره خپور کړ. او ویې فرمایل چې پنځه لس پنځه لس ورځې ورسته به په دې شرط چې کوم خنډ ورانده رانه شي به خپریږي ترڅو چې څلوېښت اعلانونه پوره شي (وګورئ د همدې ټوک ۳۴۳ پاڼه او حاشیه) .

لېکن اربعین۱، نمبر۲، نمبر۳ او نمبر٤ ځکه چې د لویو رسالو په شکل کې خپرولو ته اړتیا پیښه شوه له همدې امله حضرت اقدس علیه السلام په اربعین نمبر٤ کې لاندې اطلاع تحریر وفرمایله:

’’ ما دا خپله اراده ښکاره کړې وه چې ددې اربعین رسالې څلوېښت اعلانونه جلا جلا خپاره کړم او زما ګمان و چې زه یواځې یوه یوه پاڼه اعلان یا کله یوه نیمه پاڼه یا آخرد کار دوه پاڼې اعلان خپور کړم. او یا کله شاید درې یا څلور پاڼې لیکلو به اتفاق پیښ شي. لېکن داسې پیښې رامنځته شوې چې ددې برخلاف پیښ شول او نمبر دوه ۲ او درې ۳ او څلور٤ د رسالو په څېر شول. نو ددې رسالې نږدې اویا پاڼو ته شمېر ورسېد. او په حقیقت کې هغه خبره سر ته ورسېده د کومې چې ما ارده کړې وه ددې لپاره ما دغه رسالې یواځې تر څلورم نمبر پای ته ورسولې او په راتلونکي کې به نه خپریږي.‘‘

(اربعین نمبر٤، روحاني خزاین ټوک نمبر۱۷، پاڼه ٤٤۲)

او اربعین نمبر٤ په دسمبر۱۹۰۰ء کال کې ولیکل شوه او خپره شوه ددې لپاره د تألیف او اشاعت د زمانې له لحاظه ګواکې تحفه ګولړویه په همدې مهال کې لیکل شوې. اربعین ته په هغې سبقت حاصل دی، ددې لپاره اربعین د تحفه ګولړویه څخه ورانده کېښودل مناسب دي.

خاکسار

جلال الدین شمس

الحمد لله و المنّه

چې ټولو مخالفينو باندې د الهي حجت پوره کولو لپاره، دا رساله چې نوم يې دی

اربعين

لاتمام الحجة على المخالفين

د قاديان په مقام، د ضياء الاسلام په مطبعه کې، د حکيم فضل دين صاحب د مطبعې مالک په اهتمام چاپ او شايع شوه

۱۵ دسمبر کال ۱۹۰۰

نصيحت: هغه ټول دوستان کومو ته چې دا رساله وخت په وخت ورسيږي هغوی ته پکار ده چې دا جمع کړي او بيا د په يوه ترتيب سره دغه يوه رساله جوړه کړي او د دې رسالې نوم به **« اربعين لاتمام الحجة على المخالفين »** وي.

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلی

اربعین لومړی شمېره

نن ما د اتمام حجت لپاره دا اراده کړې ده، چې د مخالفینو او منکرینو د بلنې لپاره ځلوېښت (٤٠) اعلانونه شایع کړم *[1] ترڅو په قیامت کې زما له خوا د خدای په حضور کې دا حجت وي، چې د کوم کار لپاره چې زه رالېږل شوی وم، هغه ما تر سره کړ. نو اوس زه په ډېر ادب او عاجزۍ سره ښاغلو مسلمان عالمانو، عیسایي عالمانو هندو او آریه پنډتانو ته دا اعلان لېږم او اطلاع ورکوم چې زه د اخلاقي، اعتقادي، ایماني کمزورېو او تېروتنو د اصلاح لپاره نړۍ ته رالېږل شوی یم. او زما پل د حضرت عیسیٰ علیه السلام په پل دی او د همدې معنا له مخې زه مسیح موعود ګڼل کېږم، ځکه چې ماته حکم راکړل شوی دی، چې یواځې د غیرمعمولي ښېو او د پاک تعلیم په ذریعه ریښتینولي په نړۍ کې خپره کړم، زه د دې خبرې مخالف یم، چې د دین لپاره توره پورته کړی شي او د مذهب لپاره د خدای د بندګانو وینې تویې شي.

او زه مامور یم تر کومه چې زما په وس کې وي، دا ټولې تېروتنې د مسلمانانو ځخه لېرې کړم. او هغوی پاک اخلاقو، زغم، حلم، انصاف او د ریښتینولۍ د

[1] * د دې اعلان ځخه وروسته به انشاالله هر یو اعلان پنځلس پنځلس ورځې بعد خپرېږي، په دې شرط چې کوم خنډ را وړاندې نه شي تر هغه پورې چې ځلوېښت اعلانونه پوره شي یا تر هغه، چې کوم مخالف د صحیح نیت سره، پرته د ځه ناپاکه بحث کولو ځخه چې د هغې بد بوی تر هر یو پورې رسېږي میدان ته راوځي او زما په شان کوم نشان وښودلای شي؛ لېکن په یاد ولرئ چې په دې مقابله کې د چا سره مباهله موخه نه ده او نه د کوم مخالف د ذات په اړه ځه وړاندوینه ده، بلکه یواځې دا مقابله به وي چې د چا په لاس الله تعالی د غیب خبرې او خوارق ښکاره کوي او دعاوې قبلوي. او ذاتیات مباهله او ملاعنه دا دواړه امور به په مستثناء امر کې داخل وي، او هرې داسې وړاندوینې ځخه به مخنیوی کېږي، چې دې عام امن او حکومت د موخو مخالفه وي یا د کوم خاص کس په ذلت یا مرګ باندې مشتمله وي. منه

حاشیه

لارو ته راوبلم، زه په ټولو مسلمانانو، عیسایانو، هندوانو او آریه (مذهبو) باندې دغه خبره ښکاره کوم چې په نړۍ کې زما هېڅوک دښمن نه دی، زه د بني نوع سره داسې مینه کوم، لکه څنګه چې مهربانه مور د خپلو بچو سره، بلکه د دې څخه هم زیات. زه یواځې د هغو باطلو عقیدو دښمن یم د کومو له امله چې د ریښتینولۍ وژنه کیږي، د انسان همدردي زما فرض دی او درواغ، شرک، ظلم او هرې یوې بدې کړنې، بې انصافۍ او بد اخلاقۍ نه بېزاري زما اصول دي. زما د همدردۍ د جوش اصل محرک دا دی، چې ما یو د سرو زرو کان را ایستلی دی او زه د جواهراتو پر معدن خبر کړل شوی یم او په نېکمرغۍ سره ماته د هغه کان څخه یوه ځلانده او بې بها ملغلره په لاس راغلې. او د هغې قیمت دومره دی چې که زه د هغې قیمت خپلو ټولو بني نوع ورونو کې ووېشم، نو هغه ټول به د هر هغه کس څخه زیات شتمن شي، د چا سره چې نن په نړۍ کې تر ټولو زیات سره او سپین دي. هغه ملغلره څه شی دی؟ ریښتینی خدای. او د هغه تر لاسه کول، د هغه پېژندل او پر هغه ریښتنی ایمان راوړل او ریښتیني مینې سره د هغه سره تعلق پیدا کول او د هغه څخه حقیقي برکات حاصلول دي. نو د دومره شتمنۍ د تر لاسه کولو څخه وروسته سخت ظلم دی، چې زه بني نوعه د دې څخه محروم وساتم، هغوی د لوړې مړه شي او زه عیش وکړم. دا به زما څخه هېڅکله ونه شي، زما زړه د هغو فقر او لوړې په لېدو سره کباب کیږي. د هغو تیاره او تنګ ګذران څخه زه ډېر خفه کیږم او زه غواړم چې له آسماني مال څخه د هغوی کورونه ډک شي او د ریښتینولۍ او د یقین جواهر دومره تر لاسه شي چې د هغوی د استعداد لمنې ډکې شي، ښکاره ده چې هر شی د خپل نوع سره مینه کوي، ان تردې چې میږي هم، که چېرې کومه ځان غوښتنه تر مینځ حایله نه وي. نو کوم کس چې د الله لوري ته رابولي د هغه فرض دی چې د ټولو سره ډېره زیاته مینه وکړي، نو زه د نوع انسان سره تر ټولو زیاته مینه کوم، هو د هغوی د بدو کړنو او هرډول ظلم، فسق او بغاوت دښمن یم، د چا د ذات دښمن نه یم له دې کبله هغه خزانه چې ما ته تر لاسه شوې کومه چې د جنت د ټولو خزانو او نعمتونو کیلي ده، هغه د مینې او جوش له امله انساني نسل ته وړاندې کوم. او دغه خبره، هغه مال چې ما ته تر لاسه شوی دی، هغه په حقیقت کې د ملغلرو د سرو او سپینو د ډول څخه دی، کوم جعلي څیزونه نه دي په ډېرې

آسانی سره موندل کېدای شي او هغه دا چې په هغه ټولو درهم، دینار او جواهراتو باندې د شاهي سکې نښه ده، یعنې هغه آسماني ګواهۍ زما سره دي کومې چې د بل چا سره نشته، ماته ویل شوي دي چې په ټولو دینونو کې یواځي د اسلام دین ریښتینی دی. ما ته فرمایل شوي دي چې د ټولو هدایتونو څخه یواځې قرآني هدایت د صحت په بشپړه درجه باندې او د انساني لاس وهنو څخه پاک دی. زه پوهول شوی یم چې په ټولو رسولانو کې بشپړ تعلیم ورکوونکی او د اعلی درجې پاک او د حکمت څخه ډک تعلیم ورکوونکی او د انساني کمالاتو د خپل ژوند په ذریعه د اعلی نمونې ښودونکی یواځې حضرت سیدنا و مولانا محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دی. او ماته د خدای د سپېڅلي او مطهرې وحې په ذریعې اطلاع راکړل شوې، چې زه د هغه د لور څخه مسیح موعود او مهدي معهود، د ننیو او بهرنیو اختلافاتو **حَکم** یم. او دا چې زما نوم مسیح او مهدي اپښودل شوی، په دې دواړو نومونو زه رسول الله صلی الله علیه وسلم مشرف کړی یم، او بیا خدای په خپلې بلا واسطه مکالمې سره همدغه زما نوم کېښود او بیا د زمانې اوسني حالت دا غوښتنه وکړه چې زما به همدا نوم وي، مطلب زما د دې نومونو دا دې ګواهان دي. زما خدای چې د آسمان او ځمکې مالک دی، زه هغه ګواه ګرځوم او وایم چې زه د هغه له خوا یم او هغه په خپلو نشانونو سره زما ګواهي ورکوي، که چېرې په آسماني نښانونو کې څوک زما مقابله وکړای شي، نو زه دروغجن یم، که د دعاوو په قبولیت کې زما څوک برابری وکړای شي، نو زه دروغجن یم، که د قرآني نکاتو او معارفو په بیانولو کې څوک زما برابری وکړای شي، نو زه دروغجن یم، که چېرې د غیب په پټو خبرو او رازونو کوم چې د خدای اقتداري ځواک سره د وخت نه مخکې زما څخه ظاهریږي په هغوی کې که زما څوک برابري وکړای شي، نو زه د خدای له لورې نه یم. اوس چېرته دي هغه پادري صاحبان چا به ویل چې نعوذبالله د حضرت سیدنا او سید الورای محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم څخه کومه وړاندوینه یا کوم غیرمعمولي امر ښکاره شوی نه دی. زه ریښتیا، ریښتیا وایم چې پر ځمکه یواځې هماغه یو کامل انسان تېر شوی، د چا د وړاندوینو او د دعا ګانو قبلیدل او نور خوارق ښکاره کېدل یو داسې امر دی چې تراوسه پورې د امت ریښتینو منونکو په ذریعه د دریاب په شان څېپې وهي، د اسلام

پرته هغه مذهب چېرته او کوم دی چې دا خصلت او طاقت په خپل ځان کې لري او هغه خلک چېرته او کوم ملک کې اوسيږي چې د اسلامي برکاتو او نشانونو مقابله کولای شي؟ که چېرې انسان د داسې مذهب منونکی وي، په کوم کې چې د آسماني روح هېڅ ګډون نه وي، نو هغه خپل ایمان ضایع کوي. مذهب هماغه مذهب دی کوم چې ژوندی مذهب وي او د ژوند روح په خپل ځان کې ولري او ژوندي خدای ته يې رسوي.

او زه یواځې دا دعوا نه کوم چې یواځې د خدای تعالی د پاکې وحې په ذریعه پر ما د غیب خبرې ښکاره کیږي او غیر معمولي امر ښکاره کیږي، بلکه دا هم وایم، کوم کس چې زړه پاک کړي او د خدای او د رسول ریښتیني مینې په لرلو سره زما پیروي وکړي هغه به هم د خدای څخه دا نعمت ترلاسه کړي. ولې یاد ولرئ چې د ټولو مخالفانو لپاره دا دروازه بنده ده. او که چېرې دروازه بنده نه ده، نو څوک به د آسماني نښانو په ذریعه ما سره مقابله وکړي؟ او په یاد ولرئ چې هېڅ کله به مقابله ونه کړای شي، نو دا د اسلامي حقیقت او زما د حقانیت یو ژوندی دلیل دی.

لومړۍ اربعین پای ته ورسید

والسلام علی من اتبع الهدای ۲۳ جولای کال ۱۹۰۰م

خپروونکی مرزا غلام احمد مسیح موعود د قادیان څخه

ضیاء الاسلام مطبعه قادیان

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلی

اربعین

دوهمه شمیره

رب اغفر ذنوبنا واحد قلوبنا انک الذّ الاشیاء ان یُسقَ* جرعة من عرفانک ولا یُسقی الا بفضلک و امتنانک. رب انی اشکو الی حضرتک من مصیبةٍ نزلت علی هذه الامة من انواع الفتن والتفرقة. ربّ ادرک فاِنّ القوم مُدرَکون.

څرنګه چې انسان د خدای تعالی د عبادت او معرفت لپاره پیدا کړل شوی، له همدې کبله خدای تعالی غواړي چې خلک د هغه په عبادت او معرفت کې پرمختګ وکړي، او هرکله چې داسې زمانه راشي چې اکثر ډلې د مخلوقاتو د دنیا لور ته متوجه کیږي او د دنیا سره زړه لګوي، مینه پیدا کوي او د خدای تعالی محبت، اخلاص، ذوق او شوق د زړونو څخه پورته کیږي او د خدای د پېژندنې لارې پټیږي او د خدای تپر نښانونه کوم چې هغه د خپلو پاکو نبیانو په لاس ښکاره کړي وو یا یوازې د کیسو او افسانو په شان منل کیږي او د زړونو تبدیلي او انقطاع الی الله او پاکوالی د هغو څخه نه ترلاسه کیږي، بلکه د هغوهیڅ هیبت او عظمت په زړونو کې نه پاتې کیږي او یا هغه یوازې درواغ ګڼل کیږي او پر هغو خندا او تمسخر کیږي، لکه څنګه چې نن سبا نېچري صاحبانو یا برهمو صاحبانو کې اکثر همداسې خیال کوي. مقصد، په داسې وخت کې او داسې زمانه کې، کله چې د خدای پېژندنې رنا په کمېدو او زرګونو نفساني تیارو په پردو کې پټیږي، بلکه اکثر خلک د ملحدینو په شان کیږي او ځمکه د ګناه، غفلت او بې باکۍ نه ډکیږي، د خدای تعالې غیرت او جلال او عزت غوښتنه کوي چې بیا ځلې خپل ځان پر خلکو ښکاره کړي، نو څرنګه چې د پخوا څخه د هغه سنت دي زمونږه په دې زمانه کې، چې همدارنګه حالات او علامات پخپل ځان کې جمع لري خدای تعالی زه د څوارلسمې پېړۍ په سر کې د دې ایمان او معرفت د تجدید لپاره مبعوث کړی یم او د هغه د ملاتړ او فضل سره زما په لاس آسماني نښې نښاني ښکاره کیږي او د هغه د ارادې او مصلحت سره سم زما دعاګانې قبلیږي او د غیب

* په اول چاپ کې د لیکلو سهوه ده "اَنْ یُسْقٰی" سم دی لکه څرنګه چې په مخکې سطر کې سم لفظ موجود دی (ناشر)

خبرې ښودلای کيږي او قرآني حقايق او معارف بيان کيږي او د شريعت ستونځې او مشکلات حل کيږي. او ما دې په هغه کريم او عزيز خدای باندې قسم وي چې د دروغو دښمن او د مفتري نښت و نابود کوونکی دی، چې زه د هغه له لوري يم او د هغه په راليږلو عين په وخت راغلی يم او د هغه په حکم ولاړيم. هغه هر قدم کې ماسره مل دی او هغه به ما نه ضايع کوي او نه به زما جماعت په تباهۍ کې واچوي، تر څو چې هغه خپل ټول کار پوره نه کړي، د کوم چې هغه اراده فرمايلي ده. هغه زه د څوارلسمې پيړۍ په سر کې د نور د بشپړولو لپاره مامور کړی يم او هغه زما د تصديق لپاره په روژه کې لمر او سپوږمۍ په تندر ونيول او پر ځمکه يې ډېرې ښکاره، ښکاره نښې څرګندې کړې، کومې چې د حق د طالب لپاره کافي وې او همدارنګه هغه خپل حجت پوره کړو، چې هيڅوک هم په واقعي ډول پرما باندې الزام نشي لګولای او نه زما په نښانو باندې څوک نيوکه کولای شي. ځکه چې هغه پر ما باندې داسې نکته چيني نشي کولای او نه زما پر ځينو آسماني نښانو باندې داسې اعتراض کولای شي، چې کوم اعتراض پر تېرو انبياوو او د هغوی پر ځينو نښانو باندې دښمنانو نه وي کړی چې د هغوی په حقيقت باندې دغه نادان متعصب پوه نشول، او که چېرې زما په مخالفينو کې يوه زره هم ريښتنولي شته؛ نو هغوی دې په آرام سره يو مختصر مجلس د يو څو شريفو او معززو انسانانو وټاکي، څو هغه خبرې دي ماته وړاندې کړي کومې چې د هغوی په نزد په عيب کې داخلې دي، يا څو داسې وړاندوينې دې وړاندې کړي چې د هغوی په اند نه دي پوره شوي، مګر هغه امور بايد داسې وي چې د هغوی ښلګه د انبياوو په سوانحو يا دهغوی په وړاندوينو کې تر لاسه نه شي، مګر په ياد دي وي چې که چېرې هغوی داسې مهذب او دانشمند مجلس کې دا تصفيه کول وغواړي؛ نو هرومرو به ثابت شي چې هغوی يواځې تور او افتراء کوونکي دي. غايبانه ذکر ته خو يواځې غيبت ويل کيږي، نه له دې څخه زيات. او د هغه څخه څه نه ثابتيږي؛ ځکه چې په هغه کې غيبت کوونکي کس ته د يواځيتوب په وجه د هر يو درواغو او افتراء ډېره زمينه وي، نو پرته له شکه داسې غيبت چې کوم مجلس کې اوربدل کيږي هغه د خدای تعالی په نزد د صلحاوو مجلس نه دی. که چېرې انسان په خپل زړه کې د ريښتينولۍ طلب لري، په کومه خبره چې هغه پوه نه شي، نو

پکار ده چې پوښته وکړي، که چېرې پرما دا الزام ولګول شي چې زما کومه وړاندوینه پوره نه شوه، یا د سرته رسیدلو هیله له منځه لاړه نو که ما د انبیاوو علیهم السلام د وړاندوینو په حواله دا ثابته نه کړه، چې په حقیقت کې هغه ټولې وړاندوینې پوره شوي دي یا ځینې د انتظار وړ دي او هغه په هغه رنګ کې دي څرنګه چې د نبیانووړاندوینې وې، نو پرته له شکه د زه په هر یو مجلس کې دروغجن وګڼل شم. لېکن که چېرې زما خبرې د نبیانو د خبرو مشابه وي، نو څوک چې ماته دروغجن وایي هغه د خدای څخه نه ډاریږي. ځینې بې خبره پرما یو دا اعتراض هم کوي چې د دې کس جماعت په ده باندې د علیه الصلاة و السلام دفقرې اطلاق کوي او داسې کول حرام دي، د دې ځواب دا دی چې زه مسیح موعود یم او د نورو صلوة او سلام ویل خو یو خوا خپله حضور صلی الله و علیه و سلم فرمایلي دي: چې څوک هغه وموميِ زما سلام دې هغه ته ووایي. او په حدیثونو او د احادیثو په ټولو شرحو کې د مسیح موعود په اړه په سل ګونو ځایه د صلاة او سلام لفظ لیکلی موجود دی، او بیا کله چې زما په هکله نبي علیه السلام دا لفظ فرمایلی، اصحابو فرمایلی بل دا چې خدای فرمایلی، نو زما جماعت ته زما په هکله دا فقره ویل ځنګه حرام شول. خپله په عام ډول د ټولو مؤمنانو په هکله قرآن شریف کې د صلواة او سلام دواړه لفظونه راغلي او مولوي محمد حسین بټالوي رییس المخالفین چې کله د براهین احمدیه بیا کتنه ولیکله، د هغه څخه دې پوښتنه وشي چې د ذکر شوي کتاب په ۲۴۲ پاڼه باندې دا الهام لیکلی وموند او کنه؟

اصحاب الصفه. و ما ادراک ما اصحاب الصفَّه تراٰی اعینهم تفیض من الدّمع. یصلّون علیک. رَبّنا اِنَّنَا سمعنا مناديا يُنادى للايمان و داعياً الى الله و سراجاً منيراً. ژباړه: یاد کړه د صفې اوسیدونکي او ته څه خبر یې چې د کومې مرتبې او د کومې کاملې درجې اخلاص لرونکي دي د صفې اوسیدونکي. ته به وګورې د هغوی سترګو څخه به اوښکې روانې شي او پر تا به درود ووایي[۲]* او وبه وایي، چې ای زمونږه خدایه! مونږ د یو بلونکي غږ واورېد

*[۲] انساني عادت او اسلامي فطرت کې داخل دي چې، مؤمن د کوم ذوق په وخت کې یا د قدرت د کومې معجزې د لېدلو په وخت کې درود لیږي، نو د دې یصلّون علیک په فقره کې اشاره ده، هغه خلک چې هر وخت په ځنګ کې اوسیږي هغوی به څو ډوله نشانونه وګوري، نو د دې نشانونو د تأثیر څخه به ځینې وخت د هغوی اوښکې وبهیږي او د ذوق د شدت او د رقت نه به بې اختیاره د هغوی د خولې نه درود ووځي، نو همداسې پیښیږي

حاشیه

یعنې مونږ پر هغه ایمان راوړ او د هغه خبره مو وارېده د هغه دا آواز دی، چې خپل ایمانونه په خدای باندې قوي کړئ، هغه د خدای اړخ ته رابلونکی او ځلانده ډیوه ده، اوس وګورئ چې په دې الهام کې د نبکو بندګانو دا علامت ښودلی دی، چې پرما به درود لیږي او د مولوي محمد حسین څخه پوښتنه وکړئ، که چېرې دا د نبوکې ځای و نو ولې هغه د بیا کتنې د لیکلو په وخت کې نبوکه ونکړه؟ بلکه په دې الهام کې، خو د دغه اعتراض څخه هم سخت یو بل اعتراض کیدلای شو او هغه دا چې داعی الی الله او سراج منیر دا دواړه نومونه او دواړه خطابونه ځانګړي حضورصلی الله علیه وسلم ته په قرآن کې ورکړل شوي دي، بیا همدا دواړه خطابونه ما ته په الهام کې راکړل شول. آیا دا اعتراض د درود لیږلو څخه څه کم و؟ بیا د دې څخه هم زیات د براهین احمدیه په نورو الهامونو نبوکې کیدای شوې، د کومو چې مولوي محمد حسین بټالوي تبصره لیکلې[۳]* او ځای پر ځای یې منلي چې الهامونه د خدای تعالی له خوا دي. بلکه د هغه استاد میا نذیر حسین دهلوي د څو ګواهانو پر وړاندې د براهین احمدیه په هکله، په کوم کې چې دا الهامونه دي، د حد څخه زیاته ستاینه وکړه او ویې فرمایل چې د کوم وخت څخه چې په اسلام کې د تالیف او تصنیف لړۍ شروع شوې ده، د براهین په شان افاضه او فضل او ښه والي کې چېرته هم څه داسې تألیف نه دی شوی.

او د هغه موخه د دومره ستاینې څخه د براهین احمدیه الهامونه او د هغه وړاندوینې وې د کومو څخه چې د اسلام پر مخالفینو حُجّت پوره کېدلو، همدارنګه د پنجاب او هندوستان ټولو علماوو پرته د شمېر یو څو علماوو څخه، دا الهامونه د خدای تعالی له لوري ګڼلي وو. چې په حقیقت کې هم د خدای له لوري دي، باوجود د دې چې په هغوی کې د دې عاجز دومره عزت

پاتې حاشیه[۲]: او دا پیشګویي بیا بیا را ښکاره کیږي د صحبت په شرط هریو نبکمرغه دغه کیفیت تر لاسه کولای شي، منه

[۳]*د براهین په تالیف باندې ۲۰ کاله تېرشوي دي، په دې کتاب کې هغه وړاندوینې دي چې د کلونو، کلونو وروسته اوس پوره کیږي، لکه څنګه چې دا وړاندوینه چې مونږ به تاته په ټوله دنیا کې شهرت درکړو او ستا نوم به په ټولو هیوادونو کې اوچت کړای شي هېڅوک به نه وي چې ستا نوم څخه بې خبره پاتې شي، دا د هغه وخت وړاندوینه ده کله چې په دې کلي کې هم زه ټولو خلکو نه پېژندم، او بیا بله وړاندوینه د دې سره څنګ کې ده او هغه دا ده چې خلک به د لرې، لرې ملکونو څخه ډالۍ درلیږي او د لرې، لرې ځخه به راځي، داهم د هغه زماني پیشګویي ده کله چې د لس میله څخه به هم ماته څوک نه راتلل او نه چا راته یوه پیسه هم د ډالۍ په ډول رالیږله اوس په دې ډول دا وړاندوینې پوره شوې چې د زرګونو میلو څخه خلک راځي او په زرګونو روپو سره مرسته کوي، او په یوې نړۍ کې خدای شهرت راکړ او هېڅ یو قوم بې خبره پاتې نشو، والحمد لله علی ذالک. منه

حاشیه

شوی چي د هغه څخه زيات ممکن نه دی او دبېلګې په ډول دا دي: يا احمد بارک الله فيک. الرحمن علّم القران لتنذر قوما ما انذرآباءهم ولتستبين سبيل المجرمين. قل انی امرت وانا اول المومنين. هوالذی ارسل رسوله بالهدای و دين الحق ليظهره علی الدين کله. و کنتم علی شفا حفرة فانقذکم منها. وکان امرالله مفعولا. لا مبدّل لکلمات الله.انا کفيناک المستهزئين هذا من رحمت ربک يتم نعمته عليک لتکون اية للمؤمنين. قل ان کنتم تحبّون الله فاتبعونی يحببکم الله.قل عندی شهادة من الله فهل انتم مومنون قل عندی شهادة من الله فهل انتم مسلمون. وقل اعملوا علی مکانتکم انی عامل فسوف تعلمون.عسی ربکم ان يرحمکم و ان عدتم عدنا و جعلنا جهنم للکافرين حصيرا.يخوفونک من دونه. انک باعيننا سميتک المتوکل. يحمدک الله من عرشه. نحمدک و نصلّی. يريدون ان يطفؤا نورالله بافواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون سنلقی فی قلوبهم الرعب. اذاجاء نصرالله والفتح وانتهی امرالزمان الينا اليس هذا بالحق. و قالوا ان هذا الا اختلاق. قل الله ثمّ ذرهم فی خوضهم يلعبون. قل ان افتريته فعلی اجرامی. ومن اظلم ممن افتراى علی الله کذبا. واما نرينک بعض الذی نعدهم او نتوفينک انی معک فکن معی اينماکنت. کن مع الله حيثما کنت اينما تولوا فثم وجه الله. کنتم خير اُمّة اخرجت للناس وافتخارًا للمومنين ولا تيئس من روح الله الا ان روح الله قريب. الا* نصرالله قريب يا تيک من کل فج عميق. ياتون من کل فج عميق. ينصرک الله من عنده. ينصرک رجال نوحی اليهم من السماء. انی منجيک من الغم و کان ربّک قديرًا. انا فتحنا لک فتحا مبينا فتح الولی فتح و قربناه نجيّا. اشجع الناس. ولو کان الايمان معلقا بالثريالناله. انارالله برهانه. يا احمد فاضت الرحمة علی شفتيک. انک باعيننا. يرفع الله ذکرک. و يعم نعمته عليک فی الدنيا و الاخرة. يا احمدی انت مرادی ومعی. غَرستُ کرامتک بيدی. و نظرنا اليک و قلنا يا ناركونی بردا وسلامًا علی ابراهيم. يا احمد يتم اسمک ولايتم اسمی. بورکت يا احمد و کان ما بارک الله فيک حقا فيک. شانک عجيب. و اجرک قريب. انّی جاعلک للناس امامًا. اکان للناس عجبا قل هو الله عجيب. يجتبی من يشاء من عباده. ولايُسئل عما يفعل و هم يسئلون. انت وجيه فی حضرتی اخترتک لنفسی الارض والسماء معک کما هو معی. و سرّک سری. انت منی بمنزلة توحيدی و تفريدی. فحان ان تعان و تعرف بين الناس. هل اتی علی الانسان حين من الدهر لم يکن شيئا مذکورا. و کاد ان يعرف بين الناس. وقالوا انّی لک هذا. و قالوان هذا الااختلاق اذا نصرالله المومن جعل له الحاسدين فی الارض. قل هوالله ثم ذرهم فی خوضهم يلعبون.سبحان الله تبارک و تعالی زاد مجدک ينقطع آباءک ويبدءمنک. وما کان الله ليترکک حتّی يميزالخبيث من الطيب. اردت ان استخلف فخلقت آدم. يا آدم اسکن انت و

زوجک الجنة. یا احمد اسکن انت و زوجک الجنّة. یا مریم اسکن انت و زوجک الجنّة. تموت و انا راض منک. فادخلوا الجنّة انشاءالله آمنین. سلام علیکم طبتم فادخلوها آمنین **خدا تیری سب کام درست کردیگا اور تیری ساری مرادیں تجھے دیگا.** سلام علیک جعلت مبارکا. وانی فضلتک علی العالمین وقالوا ان هو الا افک افتری و ما سمعنا بهذا فی آبائنا الاولین وکان ربک قدیرًا. یجتبی الیه من یشاء. ولقد کرمنا بني آدم وفضلنا بعضهم علی بعض. قل جاءکم نورمن الله فلا تکفروا ان کنتم مؤمنین.ان الذین کفروا وصدّوا عن سبیل الله ردّ علیهم رجل من فارس شکرالله سعیه. کتاب الولی ذوالفقارعلی. ولوکان الایمان معلقا بالثریا لناله. یکاد زیته یضیء و لولم تمسسه نار. دنٰی فتدلّٰی فکان قوسین* ادنٰی. انا انزلناه قریبا من القادیان. وبالحق انزلناه وبالحق نزل. صدق الله ورسوله وکان امرالله مفعولا. قول الحق الذی فیه تمترون. وقالوا لو لا نزل علی رجل من قریتین عظیم. وقالوا ان هذا لمکر مکرتموه فی المدینة. ینظرون الیک وهم لایبصرون. الرحمن. علّم القرآن. ولایمسه الا المطهرون. یا عبدالقادرانی معک وانک الیوم لیدینا مکین امین وان علیک رحمتی فی الدنیا والدین. وانک من المنصورین وجیها فی الدنیا و الاخرة ومن المقربین. انا بُدّک اللازم انا مُحییک نفخت فیک من لدنی روح الصدق. والقیت علیک محبة منی ولتصنع علی عینی. یحمدک الله ویمشی الیک. خلق آدم فاکرمه. جری الله فی حلل الانبیاء. ومن رُدّ من مطبعه فلا مردله. واذیمکربک الذی کَفّر اوقدلی یاهامان لعلی اطلع علی اله موسی وانی لاظنه من الکاذبین. تبت یدا ابی لهب وتب ما کان له ان یدخل فیها الاخائفا. وما اصابک فمن الله. الفتنة ههنا فاصبر کما صبر اولوالعزم. والله موهن کید الکافرین. الا انها فتنة من الله. لیحب حباجما. حبامن الله العزیز الاکرم. عطاءً غیرمجذوذ. کنت کنزًا مخفیا فاحببت ان اعرف. ان السموات و الارض کا نتا رتقا ففتقنا هما. وان یتخذونک الاهزوا اهذا الذی بعث الله. قل انما انا بشرمثلکم یوحی الي انما الهکم الهٌ واحد. والخیرکله فی القرآن. بخرام که وقت تو نزدیک رسید و پای محمدیان بر منار بلند تر محکم افتاد. پاک محمد مصطفی نبیوں کا سردار. یا عیسیٰ انی متوفیک و رافعک الیّ وجاعل الذین اتبعوک فوق الذین کفروا الی یوم القیامة. ثلة من الاولین وثلة من الاخرین. میں اپنی چمکار دکھلاؤں گا. اپنی قدرت نمایی سے تجھ کو اٹھاؤں گا. دنیا میں ایک نذیر آیا پر دنیا نے اس کو قبول نہ کیا لیکن خدا اُسے قبول کرے گا اور بڑے زور آور حملوں سے اُس کی سچائی ظاهر کردے گا. الله حافظه عنایة الله حافظه. نحن نزلناه وانا له لحافظون. الله خیرحافظا وهو ارحم الراحمین. یخوفونک من دونه. ائمة الکفر لا تخف انک انت الاعلی. ینصرک الله فی مواطن. ان یومی لفصل عظیم. کتب الله لا غلبن

*غالبا د کاتب سهوه ده د براهین احمدیه څلور واړو حصو ټوک ۱ پانه ۵۸۶ حاشیه په حاشیه ۳ کی دا الهام داسي درج دی ''فکان قاب قوسین او ادنٰی'' (مصحح)

انا ورسلی. لا مبدل لکلماته. انت معی وانا معک. خلقت لیلا ونهارا. اعمل ما شئت فانّی قد غفرت لک. انت منی بمنزلة لا یعلمه لا یعلمها الخلق. ام حسبتم ان اصحاب الکهف والرقیم کانوا من ایاتنا عجبا*[٤]. قل هوالله عجیب. کل یوم هو فی شان. هوالذی ینزل الغیث من بعد ما قنطوا.قل هاتوا برهانکم ان کنتم صادقین. وبشرالذین امنوا ان لهم قدم صدق عند ربهم. الیه یصعد الکلم الطیب سلام علی ابراهیم صافیناه ونجیناه من الغم تفردنا بذالک فاتخذوا من مقام ابراهیم مصلی.

ژباړه: ای احمده! خدای په تا کې برکت کېښود، هغه تا ته قرآن وښود، ترڅو هغه خلک وډار کړي د کومو پلار نېکونه چې نه وو وپرول شوي او ترڅو چې د مجرمانو لاره ښکاره شي یعنې معلوم شي چې څوک، څوک مجرمان دي. ووایه چې پر ما د خدای حکم نازل شوی دی او زه په ټولو مؤمنانو کې اول یم، هغه خدای چا چې خپل استازی راولېږه، هغه دوو کارونو سره رالېږلی. یو خو دا چې هغه یې د هدایت په نعمت مشرف فرمایلی یعنې د خپلې لارې د پېژندلو لپاره یې روحاني سترګې هغه ته عطا کړې او د دنیوي او لدّني علم سره یې ممتاز کړی دی او په کشف او الهام سره یې د هغه زړه روښانه کړی، او په دې توګه د الهی معرفت، محبت او عبادت چې کوم حق پرهغه و د هغه پر ځای کولو لپاره یې خپله د هغه ملاتړ کړی او د همدې کبله یې د هغه نوم مهدي کېښود.

دوهم امر د کوم سره چې هغه رالېږل شوی دی هغه د دین حق سره د روحاني ناروغانو ښه کول دي یعنې د شریعت په سلګونو مشکلاتو او معضلاتو په حل کولو د زړونو څخه شکونه لرې کول دي، نو په دې لحاظ د هغه نوم یې عیسیٰ ایښی دی، یعنې د ناروغانو ښه کوونکی. مقصد په دې آیت شریف کې چې کومې دوې فقرې موجودې دې یوه بالهدی او بله دین الحق ده د دوی څخه لومړی فقره ښکاره کوي چې هغه رالېږل شوی مهدي دی، او د خدای

*[٤] دا، دې خبرې ته اشاره ده، چې خیالي مسیح کوم چې د مخالفینو په ګمان په آسمان کې دی او خیالي مهدي چې د ځینو مخالفینو په ګمان په غار کې دی آیا دا دواړه زمونږ د هغو نښانونو څخه چې د صحیح علم او رښتیني فلسفې څخه ډک دي څه ډېر عجیبه دي؟ بې شکه چې علمي سلسله زیاته عجیبه وي ځکه چې هغه خپل ځان سره حکمت لري په کوم کې چې خیر کثیر دی. منه

حاشیه

په لاس پاک شوی او یواځي خدای د هغه معلّم دی. او دوهمه فقره یعني دین الحق ښکاره کوي چې هغه رالیږل شوی عیسیٰ دی او د ناروغانو د پاکولو لپاره او هغوی په خپلو ناروغیو خبرولو لپاره علم ورکړل شوی دی او د حق دین عطا کړل شوی دی ترڅو هغه د هر مذهب ناروغ قائل کړای شي او بیا یې ښه کړای شي او د اسلامي روغتون خواته رغبت ورکړای شي، ځکه کله چې هغه ته دا خدمت سپارل شوی دی چې د اسلام ښه والی او فوقیت د هر اړخه په ټولو مذهبونو ثابت کړي، نو هغه ته اړینه ده چې د مذهبونو د ښېګڼو او عیبونو علم هغه ته ورکړل شي او د دلایلو د قایمولو او د دښمن د خولې بندولو یو غیرمعمولي مهارت هغه ته عطا وي او د هر یو مذهب منونکی په بدیو خبردار کړای شي او د هر یو اړخ څخه د اسلام ښېګڼې ثابتې کړای شي او په هره یوه لار د روحاني ناروغانو درملنه وکړای شي، مقصد د راتلونکي مصلح *° لپاره چې خاتم المصلحین دی دوه جوهرونه عطا کړای شوي، یو علم الهدای چې د مهدي د نوم طرف ته اشاره ده چې د محمدیت د صفت ښکارندوی دی یعني باوجود د اُمي والي علم ورکړل کېدل. او دوهم د دین الحق تعلیم چې د مسیح شفا بخښونکو انفاسو ته اشاره ده، یعني د روحاني ناروغیو د لېرې کولو لپاره او د اتمام حجت لپاره د هرخوا نه طاقت عطا کېدل، او د علم الهدای صفت پر هغه فضل دلالت کوي چې بغېر د انساني وسیلې د خدای تعالی له لوري ترلاسه شوی وي او د علم دین الحق صفت افاده او د زړونو تسکین او روحاني درملنې باندې دلالت کوي. بیا له دې څخه وروسته ژباړه دا ده چې هغه دواړو صفتونو سره هغه ځکه رالیږل شوی

*° د څو مناسبتونو په لحاظ د دې عاجز نوم مسیح اېښودل شوی دی، یوهم دا چې ناروغان ښه کول او بل چټکتیا، سیل او سیاحت. او دا دې لور ته اشاره ده چې خلاف د عادت ددې عاجز به په ختیځ او لویدیځ کې ژر شهرت وشي لکه څنګه چې د برق رنا د یو خوانه ښکاره شي، دویم اړخ ته هم سمدلاسه خپله رنا ښکاره کوي، همدارنګه به ان شاءالله په دې ورځو کې کیږي، او یوه معنا د مسیح د صدیق هم دی. او دا لفظ د دجال پر مقابل دی او د دې معنا دا ده چې دجال به هلي ځلي وکړي چې درواغ غالب شي او مسیح به هلي ځلي کوي چې صدق غالب شي او مسیح خلیفة الله ته هم وایي، لکه څنګه چې دجال خلیفة الشیطان دی. منه

حاشیه

ترڅو هغه د اسلام دین پر ټولو دینونو باندې غالب کړي، ځکه ښکاره ده چې که چېرې یو انسان د مهدي په فاخره خلعت باندې ممتاز نه وي یعنې د خدای ځخه د علم لدنّي په ذریعې حقیقي بصیرت بیا نه مومي خدای د هغه معلّم نه وي نو یواځې په معمولی ډول باندې د دین واقفیت او د باطلو ادیانو باندې اطلاع موندلو سره تر حقیقي نېکۍ نه شي رسېدلی؛ ځکه ترڅو چې انسان ته په خدای او د جزا پر ورځ علم راوړلو په ذریعه پوره، پوره ایمان او یقین نه وي، تر هغې هغه ځنګه ځوک د حقیقي نېکۍ لور ته راکاږلی شي. ځکه چې ډوند، ړانده ته لار نه شي ښودلی، او دا صفت د مهدویت که څه هم په ټولو انبیاوو کې موجود دی، ځکه چې هغه ټول د خدای تعالی شاګردان دي لېکن زمونږ نبي صلی الله علیه وسلم کې په ځانګړي ډول، بشپړ او اکمل و. وجه دا ده چې نورو نبیانو د انسانانو ځخه هم تعلیم حاصل کړی دی، همدارنګه حضرت موسی لکه د شهزاده په حیث د فرعون د ځارنې لاندې تعلیم ترلاسه کړ. او د حضرت عیسیٰ علیه السلام استاد یو یهودي و، د چا ځخه چې هغه ټول بایبل ولوست او لیکل یې هم تري زده کړل. همدارنګه که چېرې یوانسان مهدي او د خدای ځخه تعلیم حاصلوونکی وي، لېکن د روحاني ناروغیو د لېرې کولو لپاره هغه ته روح القدس عطا شوی نه وي، نو بیا هم هغه پر خلکو حجّت نشي پوره کولای. او د روح القدس د تائید پخوانۍ زمانه کې بېلګه حضرت مسیح دی، نو په دې زمانه کې له عقلي اړخه هم د روح القدس د تایید اړتیا ده، ځکه چې هر یو انسان طبعاً عقلي او نقلي دلایلو ځخه داسې متأثره کیږي چې که چېرې د هغو مخالفه کومه معجزه هم وښودل شي، نو هېڅ اغېزه نه کوي، له همدې کبله د کامل مصلح لپاره تل دا شرطونه اړین دي چې هغه باید په دواړو صفتونو متصف وي، یعنې د خدای خاص شاګرد وي او بیا په هر یو میدان کې د روح القدس ځخه تائید ترلاسه کوونکی وي*[۶]

*[۶] یاد ولرئ که څه هم په هر نبي کې د مهدي کېدو صفت موجود وي ځکه چې ټول نبیان تلامیذالرحمن دي او که څه هم په هر نبي کې د مؤید بروح القدس صفت موندل کیږي ځکه چې ټول نبیان د روح القدس ځخه تائید موندونکي دي، لېکن بیا هم همدا دوه نومونه د دوو نبیانو سره یو څه خصوصیت لري یعنې د مهدي نوم زمونږ نبي صلی الله علیه وسلم سره ځانګړی دی او د مسیح یعنې مؤید بروح القدس نوم د حضرت عیسیٰ علیه السلام سره یو څه ځانګړنه لري. که څه هم زمونږ نبي صلی الله علیه وسلم د دې نوم له مخې

حاشیه

او د مهدي آخر زمان لپاره چې د هغه دوهم نوم مسيح موعود هم دی، د ذوالبروزين کيدلو په وجه د دې دواړو صفتونو په بشپړه توګه شتون ډېر اړين دی، ځکه لکه څنګه چې د دې آيت څخه معلوميږي د زمانې فاسد حالت همدا غواړي چې په دې ناپاکه زمانه کې چې کوم امام آخر زمان راشي هغه د خدای له لوري مهدي وي او په ديني امورو کې د بل چا زده کوونکی نه وي، او نه د چا مريد وي او عامو علومو او معارفو له خدای څخه ترلاسه کوونکی وي. د دين په علم کې د چا زده کوونکی نه وي او نه د فقر په امورو کې د چا مريد، او همدارنګه د پاک، سپيڅلي روح څخه تائيد موندونکی وي او په هغو ناروغيو کې کومې چې په دنيا کې خپرې دي، د هر ډول روحاني ناروغۍ په لېري کولو باندې قادر وي، او ښکاره ده چې ځينې کسان د عقلي ابتلاوو په وجه ناروغان وي ځينې د نقلي آزمويښتونو په وجه، او د عيسىٰ کېدو لپاره شرط دی چې د روح القدس څخه د تائيد ترلاسه کولو سره هر يو ناروغ ښه کړي. او ښکاره ده چې کېږي يو کس يواځې د يوې عقلي تېروتنې له کبله په شکونو کې ښکېل وي هغه ته د تسلۍ ورکولو لپاره يواځې دا کافي نه ده چې د معجزې په توګه د بېلګې په ډول يو ناروغ دهغه وړاندې ښه کړای شي، ځکه چې هغه د داسې معجزې څخه د عقلي تېروتنې د دوکې څخه خلاصون نشي موندلای، ترڅو چې د هماغې لارې څخه هغه تېروتنه ونه ويستل شي په کومه لاره چې هغه تېروتنه شوې ده. همدې لپاره زه بيا بيا وايم چې دا زمانه په کومه کې چې مونږ يو، مسيح هم غواړي او مهدي هم. مهدي

حاشيه

پاتې حاشيه[٦]: غوره دی ځکه چې هغه ته د شديد القوای تلپاتې انعام ورکړل شوی دی، لېکن د روح القدس مرتبه کې چې د شديد القوای څخه کمه مرتبه ده. حضرت مسيح ته دا خصوصيت ورکړل شوی دی لکه څنګه چې دا دواړه ځانګړتياوې د قرآن شريف څخه ښکاره دي د حضور صلی الله عليه وسلم نوم يې اُمّي مهدي کېښود او عَلَّمَهُ شَدِيْدُ الْقُوٰی (النجم آيت:٦) يې وفرمايل او حضرت مسيح يې د روح القدس څخه تائيد موندونکی وګرځاوه لکه څنګه چې يوه شاعر هم ويلي:

فيض روح القدس ار باز مدد فرمايد همه آن کار کنند آنچه مسيحا ميکرد

او د نبيانو په وړاندوينو کې دا وو چې امام آخر زمان کې به دا دواړه صفتونه يوځای شي دا دغې لور ته اشاره ده چې هغه به نيم اسرائيلي وي او نيم به اسماعيلي. منه

ځکه چې په دې ناپاکه زمانه کې د ورستنیو اړیکه د سابقینو سره پرې شوې ده، له همدې کبله اړینه ده چې ظاهرپدونکی د آدم په شان ظاهر شي د کوم چې استاد او مرشد یواځې خدای وي او همدې ته په نورو ټکو کې مهدي وایي یعني خاص د خدای څخه هدایت ترلاسه کوونکی، ټول روحاني وجود د هغه څخه ترلاسه کوونکی او د هغو علومو او معارفو خپروونکی د کومو څخه چې خلک بې خبره شوي دي. ځکه چې دا د مهدویت د صفت اړینه لازمه ده چې ورک شوي علوم او معارف بیا دنیا ته راوړي ځکه چې هغه روحاني آدم دی، همداسې پکار ده چې هغه د نښانونو په ذریعه بیا په خدای باندې یقین ورکوونکی وي، او ایمان چې آسمان ته ختلی هغه د نښانوو په ذریعه ښېرته راوړونکی وي، ځکه چې دا هم د مهدویت د صفت اړینه ځانګړنه ده. د مهدي لپاره اړینه ده چې له هر اړخه د وخت آدم وي، حقیقي او کامل مهدي نه موسی و، ځکه چې هغه د ابراهیم صحیفې وغیره لوستلې وې، او نه عیسیٰ و، ځکه چې هغه توریت او د انبیاوو صحیفې لوستلې وې، حقیقي او کامل مهدي په دنیا کې یواځې یو دی یعني حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم چې یواځې نالوستی و، همدارنګه دا زمانه په کومه کې چې مونږ یو مسیح هم غواړي؛ ځکه چې په دې زمانه کې په زرګونو روحاني ناروغۍ پیدا شوي دي، نو اړتیا پېښه شوه چې اتمام حجّت وشي او هر قسم ناروغۍ لېرې شي او په مهدي او مسیح کې ښکاره، ښکاره توپیر دا دی چې د مهدي لپاره اړینه ده چې د وخت آدم وي او د هغه په وخت کې دنیا ټوله بې لارې شوې وي او په نوع انسان کې کوم څوک د هغه د دین په علومو کې استاد او مرشد نه وي، بلکه د دې وړتیا هېڅوک هم موجود نه وي او یواځې خدای هغه ته اسرار او علوم د آدم په شان ښودلي وي، لېکن د مسیح یواځې دا معنا ده چې د روح القدس څخه تائید موندونکی وي او وخت په وخت فرشتې د هغه مرسته کوي[۷]* پاتې ترجمه دا ده او تاسې د یوې کندې په غاړه وی خدای

[۷]* دلته په ظاهره دا شک پیدا کیږي چې مهدي ته هم د روح القدس په ذریعه هدایت ترلاسه کیږي. د دې ځواب دا دی چې د مهدي په مفهوم کې دا معنا اخیستل شوې ده چې هغه به د دین په علم کې د کوم انسان مرید او شاګرد نه وي او د خدای یوې خاصې تجلۍ د لدني تعلیم لاندې په دائمي توګه پالنه مومي. چې د روح القدس د هر یو تمثل نه ډېر زیات دی او داسې تعلیم ترلاسه کول محمدي صفت دی، او همدې لوري ته آیت عَلَّمَهُ شَدِيْدُ الْقُوٰى[۱](النجم آیت:٦) کې اشاره ده او د دې فیض دائمي او نه قطع کیدو خواته آیت مَا

حاشیه

تاسي د هغې څخه وژغورلئ او دا د پيل څخه ټاکل شوې وه. د خدای خبرې هېڅوک مخنيوی نه شي کولی او هغه به د ټوکو او تمسخرکوونکو لپاره کافي وي، دا ټول کاروبار د خدای د رحمت څخه دی هغه به خپل نعمت پر تا بشپړ کړي ترڅو چې د خلکو لپاره نشان شي هغوی ته ووايه چې که د خدای تعالی سره مينه کوئ نو راشئ او زما پيروي وکړئ، چې خدای هم تاسو سره مينه وکړي. او هغوی ته ووايه، چې ما سره زما پر ريښتينولی د خدای ګواهي ده، نو د خدای ګواهي منئ او کنه؟ هغوی ته ووايه تاسو پر خپل ځای کار وکړئ او زه يې په خپل ځای کوم بيا به تاسو ته معلومه شي چې خدای د چا سره دی. خدای تجلي فرمايلې ده چې پر تاسو رحم وکړي که چېرې تاسو مخ وګرځاوه، نو هغه به هم مخ وګرځوي او د ريښتينولی مخالف تل په زندان کې وي. دا خلک تا ډاروي ته زمونږ د سترګو په وړاندې يې ما ستا نوم متوکل کېښود، خدای تعالی د عرش څخه ستا ستاينه کوي مونږ ستا ستاينه کوو او پر تا درود لېږو، خلک غواړي چې د خپلو خولو په پوکيو د الله نور مړ کړي. ولي خدای به دا نور پرې نږدي، ترڅو يې چې پوره نه کړي که څه هم منکرين يې بد وګني. مونږ به ډېر ژر د هغو زړونو کې رعب واچوو، کله چې د خدای مرسته او فتحه راشي او زمانه به زمونږ طرف ته رجوع وکړي، نو وبه ويل شي چې آيا دا ريښتيا نه وو څنګه چې تاسې وګڼل؟ وايي چې دا يوائې تصنع ده هغوی ته ووايه چې خدای دی، چا چې دا کاروبار جوړ کړ. بيا هغه پرېږده ترڅو په خپلو لوبو کې اخته وي. ته هغوی ته ووايه چې که ما افتراء کړې ده، نو دهغې ګناه به پرما باندې وي او د افتراء کوونکي څخه څوک زيات ظالم دی؟ او مونږ قادر يو، چې ستا مرګ څخه وړاندې هغوی ته خپله څه د قدرت معجزه وښيو، د کومې چې مونږ وعده کوو يا تا ته وفات درکړو، زه له تا سره يم، نو ته هر ځای ما سره اوسه. تاسې بهترين

حاشيه

پاتې حاشيه[٧]: يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ط اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْىٌ يُّوْحٰى لا(النجم آيت ٥-٤) کې اشاره ده او د مسيح د مفهوم څخه دا معناوې اخيستل شوي دي چې په دائمي ډول به هماغه روح القدس د هغه مل وي چې د شديد القوی د درجې څخه کمتر دی، ځکه چې د روح القدس تاثير دا دی چې هغه پر خپل نازلېدونکي کې په داخلېدو سره انسانان د لارې تورن ګرځوي، لېکن شديد القوای پر نازليدونکي کې په داخليدو سره د خلکو په زړونو کې د لارې اعلی رنګ پيدا کوي. منه


امت یاست، چې د خلکو د ګټې لپاره پیدا کړل شوي یاست او د مومنانو فخر یاست او د خدای د رحمت څخه مه ناهیلي کیږه. د هغه رحمت تا ته نږدې دی د هغه مرسته تا ته نږدې ده، د هغه مرسته به د هرې لارې څخه تا ته درورسیږي، د لېرې لارو څخه به مرسته کوونکي راشي، خدای به د خپل لور څخه ستا مرسته وکړي، هغه خلک به ستا مرسته وکړي د چا په زړونو کې چې به زه الهام وکړم، زه به تا د غمونو څخه خلاص کړم زه قادر خدای یم، مونږ به تاته یوه ښکاره فتحه درکړو. کومه فتحه چې ولي ته ورکول کیږي هماغه لویه فتحه وي. او مونږ هغه خپل خاص رازدار وګرځاوه. د ټولو انسانانو څخه زیات باتور دی که چېرې ایمان په ثریا کې وای، نو هغه به د هماغه ځای څخه راوړی وای. خدای به د هغه دلیل روښانه کړي. ای احمده! رحمت ستا پر شوندو جاري کړای شو. ته زمونږ د سترګو په وړاندې یې. خدای به ستا ذکر اوچت کړي او په دنیا او آخرت کې به خپل نعمت پر تا پوره کړي. ای زما احمده! ته زما مراد یې او ما سره یې. ما ستا ونه په خپل لاس ولګوله. او مونږ ستا لور ته په تا باندې نظر وکړ او ومو ویل چې ای اوره چې د قوم له خوا د فتنې اور دی پر دغه ابراهیم باندې سوړ او سلامت شه، یعنې آخر به د فتنې دغه ټول اور مړ شي. (دا وړاندوینه له دواړو اړخونو ده هغه وخت یې دا خبر راکړ، کله چې په قوم کې کومه فتنه نه وه او ملایان مصدق وو او بیایې د آخري وخت خبر ورکړ کله چې د دې فتنې نه ورسته قوم پوه شي). او بیا یې وفرمایل چې ای احمده! ستا نوم به پوره شي او زما نوم به پوره نه شي. ای احمده ته مبارک کړای شوې. او کوم برکت چې تاته درکړل شوی دی هغه هم ستا حق و. ستا شان عجیب او ستا بدله نږدې ده. زه به تا د خلکو لپاره معهود امام وګرځوم، یعنې تا به مسیح موعود او مهدی معهود کړم.آیا خلک په دې تعجب کوي؟ هغوی ته ووایه چې خدای ذوالعجائب دی، تل همداسې کوي. څوک چې غواړي خپلې خواته یې راکاږي او په خپلو غوره کړل شویو کې یې داخلوي. او هغه د خپلو کارونو په نسبت نه پوښتل کیږي او خلک د خپلو اعمالو په نسبت پوښتل کیږي. ته زما په درګاه کې د عزت خاوند یې. ما ته د ځان لپاره غوره کړې ځمکه او آسمان تا سره همدا شان دي څرنګه چې زما سره دي. ستا راز زما راز دی، ته زما سره داسې یې لکه زما توحید او تفرید. نو وخت راغلو چې تا ته به په

خلکو کې شهرت درکړل شي اوس خو پر تا باندې هغه وخت دی چې هېڅوک تا نه پېژني او نږدې دي چې ته په ټولو خلکو کې شهرت ترلاسه کړې، او وبه وایې چې دا رتبه تا ته د کومه څخه ترلاسه شوه؟ دا خو درواغ ښکارېږي، اصلي خبره دا ده، کله چې خدای تعالی د خپل کوم بنده مرسته کوي او هغه په خپلوغوره کړل شویو کې داخل کړي، نو پر ځمکه باندې د هغه لپاره حسد کوونکي ټاکي، همدا سنت الله دي. نو ته هغوی ته ووایه چې زه خو هېڅ شی نه یم. مګر خدای داسې وکړل. بیا هغه پرېږده ترڅو په بېهوده فکرونو کې پراته وي. هغه خدای ډېر پاک، ډېر مبارک او ډېر لوړ دی چا چې ستا بزرګي زیاته کړه. هغه وخت راځي ستا د پلار، نیکه ذکر به هېڅوک ونکړي [۸]*او د کورنۍ د سلسلې ابتدا به له تا څخه پیل کیږي. (او همدا د انبیاوو او معظمو مامورینو په اړه د خدای تعالی عادت دی) او خدای داسې نه دی چې تا پرېږدي ترڅو چې د پاک او پلید په مینځ کې توپیر ونه ښیي. ما اراده وکړه چې یو خلیفه پیدا کړم، نو ما آدم پیدا کړ. ای آدمه ته او ستا دوستان او ستا ښځه جنت کې داخل شئ. ای مریم ته او ستا دوستان او ستا ښځه جنت کې داخل شئ. ته به په داسې حالت کې ومرې چې زه به له تا څخه راضي وم. او د خدای په فضل سره به ته په جنت کې داخلیږې. سلامتۍ سره پاکیزګۍ سره امن سره به جنت کې داخل شې. خدای به ستا ټول کارونه سم کړي او ستا ټول مرادونه به تا ته درکړي تا باندې سلام ته مبارک کړای شوی یې.او هر څومره خلک چې ستا په زمانه کې دي پر ټولو باندې ما تا ته فضیلت درکړ. وایي به چې دا خو افتراء ده مونږ د خپل پلار نیکونو نه داسې نه دي اورېدلي او ستا خدای قادر دی څوک چې غواړي ځان ته یې راکاږي. او مونږ بنې آدم ته بزرګي ورکړه او ځینو ته مو پر ځینو فضیلت ورکړ. دوی ته ووایه چې د خدای له خوا تاسو ته نور راغلی. نو که چېرې تاسو مؤمنان یاست، نو انکار مه کوئ. کوم خلک چې کافر شول او د خدای د لارې څخه

[۸] * دا د هغې واقعې لور ته اشاره ده چې د دې خاکسار پلار نیکونه رئیس ابن رئیس او د ملک والیان وو او هغه په دې هیواد کې هم د دومره کلیو مالک او سرتېره والیان پاتې شوي چې په اورېدوالي کې سل میلو څخه زیات وو نو په دې الهامونو کې د دې خبرې لور ته اشاره ده چې اوس به د یوه نوي شهرت سلسله پیدا شي چې په پلرنۍ مرتبې او بزرګۍ باندې به غالبه وګرځي تردې چې د هغې به هېڅوک هم ذکر ونکړي. منه

حاشیه

شول پر هغوی یو سړي چې د فارس د نسل څخه دی رد وکړو.*[۹] د ولي کتاب د علي ذوالفقار دی او که چېرې ایمان په ثریا کې وای، نو د هغه نه به یې ښېرته راوړی وای. نړدې ده چې د هغه تېل په خپله لمبه شي که څه هم اور هغه ته نه دی رسېدلی. هغه خدای ته نړدې شو او نور هم وړاندې لاړ تردې چې د دوو قوسونو په مینځ کې ودرېد.



مونږ هغه قادیان ته نړدې رابنکته کړ او د حق سره مو را بنکته کړ، او د حق سره بنکته شو. او په دې کې هغه وړاندوینه پوره شوه، کومه چې قرآن او حدیث کې وه. یعنې هماغه مسیح موعود دی د کوم ذکر چې په قرآن شریف او حدیثونو کې و. ریښتنې خبره همدا ده په کومه کې چې تاسو خلک شک کوئ. ځینې به ووایي چې د دې منصب او عهدې لایق فلانی، فلانی و، کوم چې فلاني ځای کې اوسیږي او وبه وایي چې دا خو مکر دی کوم چې تاسو په بنار کې په ګډه سره جوړ کړئ. دا خلک تا ته ګوري او ته هغوی ته نه بنکاري. وګورئ دا څنګه نښه ده چې خدای هغه ته وښودله او بغیر د هغو څخه چې پاکیږي چاته د قرآن علم نه ورکول کیږي. ای د قادر بنده زه تا سره یم او نن ته ما سره امین یې، او پر تا باندې دنیا او دین کې زما رحمت دی

*[۹] یاد لرئ چې د دې خاکسار خاندان په ظاهره مغلیه خاندان دی کوم ذکر زمونږ د کورنۍ په تاریخ کې دا نه دی لېدل شوی چې هغه د بني فارس خاندان و، هو ځینو اسنادو کې دا لېدل شوي چې زمونږ ځیني نیاګاني د شریف او مشهور ساداتو څخه وې اوس د خدای د کلام نه معلومه شوه چې په اصل کې زمونږ خاندان فارسي خاندان دی، نو په دې باندې مونږ په پوره یقین سره ایمان راوړو ځکه چې د خاندانونو حقیقت څرنګه چې خدای تعالی ته معلوم دی بل هیڅا ته هیڅکله نه دی معلوم د هماغه علم صحیح او یقیني دی او د نورو شکي او ظنّي. منه

حاشیه

او ته منصور او مظفر یې، دنیا او آخرت کې وجیه او د خدای مقرب. زه ستا اړینه چاره یم، ما ته ژوندی کړې. ما له خپلې لوړې څخه په تا کې د ریښتینولی روح واچولو او خپله مینه مې پر تا راښکته کړه. او ستا پالنه زما د سترګو په وړاندې وشوه. خدای ستا ستاینه کوي او ستا په لور درروان دی. هغه آدم یعنې ته پیدا کړې او هغه ته یې عزت ورکړ. دا د خدای رسول دی د نبیانو په جامو کې.[۱۰]* کوم شخص چې د ده د مطبعې څخه ردّ کړی شو، د هغه هېڅ پټنځای نشته او یاد کړه هغه راتلونکې زمانه کله چې به یو شخص پرتا د کفر فتوا ولګوي او خپل یو داسې کس ته د چا د فتوا څخه به چې پر نړۍ عام اثر پرېږدي ووایي چې ای هامانه زما لپاره د دې فتنې اور بل کړه ترڅو زه د دې شخص د خدای په اړه اطلاع ترلاسه کړم او زه ګمان کوم چې دی دروغجن دی. هلاک شول دواړه لاسونه د ابولهب او هغه خپله هم هلاک شو(یعنې چا چې فتوه ولیکله او یا یې په چا ولیکله) هغه ته نه وو پکار چې په دې معامله کې یې ګوتې وهلې وای، مګر په ډار، ډار دا د وړاندوینې په توګه څو کاله مخکې د هغې پېښې لور ته اشاره ده کله چې زما په هکله د کفر فتوه ولیکل شوه او بیایې وفرمایل چې، د دې تکفیر د فتوې څخه چې کوم تکلیف تا ته ورسیږي هغه خو د خدای له لوړي دي دا به یوه فتنه وي، نو صبر وکړه څنګه چې اولوالعزم نبیانو صبر وکړ، نو آخر به خدای د منکرینو مکر سست کړي. پوه شه او یاد وساته چې دا فتنه به د خدای له خوا وي، ترڅو هغه تا سره ډیره زیاته مینه وکړي. دا د هغه خدای مینه ده کوم چې

*[۱۰] دا ټکي د استعاري په ډول دي، لکه څنګه چې په حدیث کې هم د مسیح موعود لپاره د نبي لفظ راغلی دی، ښکاره ده څوک چې خدای رالېږي هغه د هماغه استازی وي او استازي ته په عربی کې رسول وایي او چې د غیب خبر د الله نه ترلاسه کړي او ویې رسوي هغه ته په عربی کې نبي وایي، د اسلامي اصطلاح معنې بیلې دي، دلته یواځې لغوي معناوې مراد دي د دې ټولو مقاماتو مولوي محمد حسین بټالوي تبصره لیکلې ده او پر هغوی یې اعتراض نه دی کړی، بلکه د شلو کلونو را په دې خوا د ټول پنجاب او هندوستان علماء دغه الهامونه په براهین احمدیه کې لولي او ټولو منلي دي. ترننه پورې چا اعتراض نه دی کړی پرته د دوه درې د لدهیانوي ناپوهه ملایانو مولوي محمد او عبدالعزیز څخه. منه

حاشیه

غالب او لوی دی او د دغه مصیبت په بدل کې یوه داسې ورکړه ده چې کله به هم منقطع نه شي. زه یوه پټه خزانه وم نو ما وغوښتل چې زه وپیژندل شم. ځمکه او آسمان د یوې ټرلې پنډې په شان شوي وو، د کومو چې جواهر او اسرار پټ وو، نو مونږه دواړه خلاص کړل یعني په دې زمانه کې یو داسې قوم پیدا شو کوم چې ځمکني خواص او طبیعتونه ښکاره کوي او د هغوی په مقابل کې یو بل قوم پیدا کړل شو پر چا چې د آسمان دروازې خلاصې شوې. او ته منکرینو د خندا ځای ګرځولی یې. او وایي چې همدغه دی کوم چې خدای مبعوث کړی دی؟ ووایه چې زه خو د خدای له خوا یواځې یو بشر یم ما ته دا وحې کیږي چې ستاسو خدای یو خدای دی. او ټولې ښېګڼې په قرآن کې دي. په ناز ځه چې ستا وخت نږدې راورسید او د محمدیانو قدم په یو لوړ او کلک مینار باندې کیښودل شو. هماغه پاک محمد چې د نبیانو سردار دی. ای عیسیٰ زه به تا ته وفات درکړم او خپل طرف ته به دی پورته کړم (دا دې خبرې ته اشاره ده چې مخالف به هلې ځلې کوي چې په څه ډول داسې امور پیدا شي چې خلک ګمان وکړي چې دا شخص ایماندار او راستباز نه و. نو وعده یې وکړه چې زه به د ځرګندو نښانو سره ښکاره کړم چې هغه زما مقرب دی او زما خواته د هغه رفع شوې ده او بد غوښتونکي به نا مراده پاتې شي.) او بیا یې وفرمایل زه به ستا جماعت ته ستا پرمخالفینو تر قیامته غلبه ورکړم. یوه ډله به د اولینو څخه وي چې په لومړي وخت کې به یې قبول کړي او یوه ډله به د وروستنیو څخه وي، چې د متواترو نښانوڅخه وروسته به یې مني زه به خپله ځلا ښکاره کړم، خپل قدرت ښودلو سره به تا پورته کړم. نړۍ ته یو وډروونکی راغی، خو نړۍ هغه قبول نه کړ، مګر خدای به هغه قبول کړي او په خورا زورورو حملو سره به د هغه ریښتینولي ښکاره کړي. خدای د هغه ساتندوی دی. د خدای عنایت د هغه ساتندوی دی. مونږ هغه رابښکته کړ او مونږ په خپله د هغه ساتونکي یو. خدای غوره ساتونکی دی او هغه رحمان او رحیم دی. د کفر لارښودان به تا ډاروي ته مه ډارپږه، چې ته به بری بیا مومې. خدای به په هر یو میدان کې ستا مرسته وکړي. زما ورځ د یوې لویې فیصلې ورځ ده. زما له لوري دا وعده ده، چې زه او زما رسولان به بریالي وي. هېڅوک نشته، چې زما په خبرو کې بدلون راولي. ته ما سره او زه تا سره یم. ستا لپاره ما شپه او ورځ پیدا کړل څه چې غواړې

وکړه. ځکه چې ته ښنل شوی یې. ته ما سره داسې نسبت لرې، د کوم څخه چې دنیا خبره نه ده. آیا خلک ګمان کوي چې کوم په آسمان کې اوسېدونکی، یا په کوم غار کې پټېدونکی، هغه څه زیات عجیبه انسان دی؟ ووایه چې خدای عجیبه، عجیبه خبرې ښکاره کوونکی دی، هره ورځ یوه نوې عجوبه ښکاره کوي. هماغه خدای دی، چې د ناهیلی څخه وروسته باران نازلوي او پاکې کلمې د هغه لوري ته پورته کیږي. په ابراهیم باندې سلام (یعنې په دې عاجز باندې) مونږ د هغه سره محبت وکړ، د غم نه مو نجات ورکړ، مونږ دغه وکړ او ته د ابراهیم په پل روان شه.

اوس وګورئ! دا هغه د براهین احمدیه الهامونه دي، د کومو چې مولوي محمد حسین بټالوي صاحب تبصره لېکلې وه او کوم چې د پنجاب او د هندوستان ټولو نومورو علماوو قبول کړی وه، او پر هغوی یې څه اعتراض نه و کړی، په داسې حال کې، چې په دې الهامونو کې، ډېرځایه په دې خاکسار باندې، د خدای تعالی له لوري صلواة او سلام دی او که چېرې دا الهامونه زما له خوا په هغه موقع باندې ظاهر شوي وای کله چې علماء مخالف شوي وو، نو هغو خلکو به په زرګونو اعتراضونه کول، لیکن هغه په داسې موقع کې شایع کړل شول، کله چې علماء زما موافق وو، همدا سبب دی چې با وجود د دومره جوشونو په دې الهامونو هغوی اعتراض ونه کړ، ځکه چې یو ځل هغوی دا منلي وو او په فکر کولو به ښکاره شي، چې زما د مسیح موعود کېدلو د دعوې ښسټ د همدې الهامونو څخه شروع شوی دی او په همدغو کې خدای زما نوم عیسیٰ کېښود او چې کوم د مسیح موعود په حق کې آیتونه وو هغه یې زما په حق کې بیان کړل. که چېرې علماء خبر وای چې په دې الهامونو د دی شخص مسیح کېدل ثابتیږي، نو هغوی به هېڅکله منلي نه وای. دا د خدای قدرت دی چې هغوی ومنل او په دې لومه کې ونښتل مقصد اعتراض کوونکي د خپل اعتراض کولو په وخت کې دا فکر نه کوي، کوم شخص چې د مسیح موعود دعوا کړې ده هغه خو هغه کس دی د چا په اړه چې د الله تعالی له خوا دا عزت او درناوي الهامونه دي او چا ته چې حضور صلی الله وعلیه وسلم پخپله عزت ورکوي او فرمایي څومره نېکمرغه هغه امت دی د کوم په اول سر کې چې زه یم او په آخر کې مسیح موعود دی او د حدیثونو نه ښکاره ثابته ده، چې که څه هم هغه یو کس د امت څخه دی، مګر په هغه کې د انبیاوو شان دی، نو بیا د داسې کس په حق کې صلواة او سلام ولې غیر موذون او بې محله دی؟ معلوم نه دی چې د دې خلکو په عقلونو ولې کاڼي راوورېدل کوم کس ته چې تمامو نبیانو د دنیا د پیل څخه تر رسول الله صلی

الله وعليه وسلم پورې عزت ورکړئ هغه دومره ذليله ګڼي چې صلواة او سلام هم پر هغه باندې حرام دی. همدا خو لامل دی چې مونږ بار، بار دغه خلک متنبّه کوو چې د خدای نه وډار شئ او پوه شئ کوم کس چې مسيح موعود بيان فرمايل شوی دی هغه څه معمولی سړی نه دی بلکه د خدای په کتابونو کې د هغه عزت د انبياء عليهم السلام برابر ورکړل شوی دی، تاسو که چېرې دا ونه منئ، نو پر تاسو زمونږ څه زور نشته، لېکن که تاسو کتابونه وګورئ نو همدا به ترلاسه کړئ. ولې که چېرې دا وواياست چې مسيح موعود، خو هغه دی چې د آسمان څخه به په راښکته کېدو*[11] ولېدل شي، نو دا پر خدای باندې دروغ او د هغه د کتاب مخالفت دی د خدای تعالی کتاب قرآن شريف څخه دا قطعي پرېکړه شوې ده چې حضرت عيسیٰ عليه السلام وفات شوی دی. حيرانتيا ده، چې خدای تعالی پخپله د قرآن شريف په څو مقاماتو کې د حضرت عيسیٰ وفات ظاهر فرمايي او تاسو هغه د آسمان څخه راښکته کوئ، آيا اوس د قرآن شريف کيسې هم منسوخې شوې؟ دا هماغه قرآن دی، د کوم چې د يو آيت په اوږدلو سره يو لک صحاباوو سر ټيټ کړی و، او پرته له ځنډه يې منلی و، چې د حضور صلی الله عليه وسلم څخه وړاندې ټول نبيان عيسیٰ وغيره وفات شوي دي. او اوس هماغه قرآن دی چې بيا، بيا ستاسو په مخکې، وړاندې کيږي او تاسو ته د هغه هېڅ پروا هم نشته، تاسو خو زما غټ، غټ کتابونه نه ګورئ او تاسو سره وخت چېرته شته دی، لېکن که زما رسالې تحفه ګولړويه او تحفه غزنويه هم ووينئ کومې چې د پير مهرعلي شاه او غزنوي جماعت مولوي عبدالجبار او عبدالواحد او عبدالحق وغيره، د هدايت لپاره ليکل شوي دي کومې چې تاسو يواځې دوه ساعتونو کې په غور او تأمل سره لوستلی شئ، نو تاسو ته به په ډاګه شي چې د مسيح په نسبت قرآن څه وايي. تاسو ياد ولرئ دومره چې تاسو د مسيح د ژوند په اړه ټينګار کوئ دا د کلام الهي د منشأ خلاف دی. ای عزيزانو! ياد ولرئ، کوم کس چې راتلونکی و، راغلی دی او د کومې سلېزې په سرکې، چې بايد مسيح موعود راغلی وای،هغې باندې هم اوولس کاله تېر شول او په دې صدۍ کې په کومه چې د امت د اولياوو نظر و، په هغې کې ستاسو د قول مطابق يو وړوکی مجدد هم پيدا نه شو او يواځې يو دجال پيدا شو، آيا د دې وران کاريو به د

[11]* حضور صلی الله وعليه وسلم د معراج په شپه نه په ختو کې وليدل شو او نه په ښکته کيدوکې، نو بيا د دې خلکو فرضي مسيح آيا د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم څخه افضل و؟ منه

حاشيه

خدای په درګاه کې ځواب نه ورکول کیږي؟ که څه هم زړونه ډېر سخت شوي، آخر دومره خو ډار پکار و، چې هغه کس چې د پېړۍ په سر کې پیدا شوی او روژه کې، لمر او سپوږمۍ تندر نېولو دهغه ګواهي ورکړه او د اسلام موجوده کمزورتیا او د دښمنانو پرله پسې حملو د هغه اړتیا ثابته کړه، او د تېر شوو اولیاوو کشفونو پردې خبره قطعي مهر ولګولو، چې هغه به د ځوارلسمې پېړۍ په سر پیدا کیږي او همدارنګه په پنجاب کې به وي، د داسې سړي په تکذیب کې ښېره نه وای کړې. آخر یوه ورځ مرګ دی او هرڅه همدلته پرېښودل دي. وګورئ که چېرې زه د خدای له لوري وم او تاسو زما تکذیب وکړ، زه مو کافر وګرځولم او نوم مو راته دجال کېښود نو جناب الهي ته به څه ځواب ورکوئ؟ آیا، هماغه ډول ځوابونه به وي کوم چې یهودیانو او عیسایانو د حضور صلی الله علیه وسلم د انکار په وخت کې په خپلو کتابونو کې لیکلي دي، چې د توریت ټولې نښې نښانې پوره شوې نه دي او یو څه پاتې دي. نو څه موده وشوه چې خدای تعالی هغوی ته ځواب ورکړی دی، چې هرڅه چې ستاسو په لاس کې دي، هغه ټول صحیح نه دي او نه هغه ټولې معناوې صحیح دي کومې چې تاسو یې کوئ. کوم شخص چې د حکم په توګه رالیږل شوی دی، د هغه خبره واورئ، نو همدغه ځواب اوس هم د خدای له خوا دی، که غواړئ نو ویې منئ. آه، تاسو ته پکار وو، چې د یهودو او عیسایانو د کېسو څخه مو عبرت اخیستی وای، د هغو خلکو د حضرت مسیح او حضرت خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم په اړه همدا دلیل و چې مونږ یې نه منو، ترڅو چې ټولې نښې پوره نه شي او د اوږدې زمانې په وجه د مختلفو تغیراتو په وجه دا ناممکنه وه، د همدې امله هغوی په کفر باندې مړه شول. نو تاسو همداشان مه تېروځئ، ځرنګه چې یهودیان او نصرانیان تېروتي وو، که چېرې ستاسو ټوله ذخیره صحیح وای، نو د حَکَمْ او مجدد راتلو ته څه اړتیا وه؟ د هرې فرقې همدا خیال دی، چې څه چې زما سره دي، هغه صحیح دي اوس، نو دا ټولې فرقې خو ریښتینې نه دي،د دې لپاره ریښتیا هماغه دي کوم چې د حَکَم د خولې نه ووځي، که چېرې ایمان وي، نو د خدای تاکل شوي حَکَم په ځُکم سره د ځینو حدیثونو پرېښودل یا د هغوی تاویل کول، ګران کارنه دی. دا ستاسو د بزرګانو د خپلې خولې تجویزونه دي، چې فلانی حدیث صحیح دی او فلانی حسن او فلانی مشهور او فلانکی موضوع دی، د خدای تعالی حکم نه دی او نه د کومې وحې په ذریعې سره دا تقسیم شوی، نو بیا داسې حدیث چې د قرآن مخالف وي او ځینو نورو حدیثونو سره هم مخالف وي او د خدای د حکم سره هم مخالف وي، نو څه وجه ده، چې هغه رد نه کړای شي. آیا دا اړینه ده، کله چې څوک د خدای

له خوا راشي نو په هغه واجبه ده چې د موجوده امت هر یو رطب و یابس ومني؟ که چېرې دا معیار دی، نو نه د حضرت مسیح علیه السلام نبوت ثابت کیدای شي او نه د حضرت خاتم الانبیاء. د بېلګې په توګه د مسیح لپاره د یهودیانو په لاس کی د ملاکي نبي کتاب په حواله دا نښه وه چې ترڅو چې ایلیا نبي دوهم ځل لپاره دنیا ته رانشي مسیح به نه راځي. او بله دا نښه وه چې هغه به د بادشاه په شکل ظاهریږي او د پردو طاقتونو د حکومت څخه به یهودیان خلاصوي. لېکن آیا حضرت مسیح څه بادشاه راغی؟ یا دهغه د راتلو څخه مخکې ایلیا (الیاس) نبي د آسمان څخه نازل شو؟ بلکه دواړه وړاندوینې غلطې شوې او هېڅ کوم نشان په حضرت مسیح باندې صادق را نغی، آخر حضرت عیسیٰ علیه السلام د تاویلاتو څخه کار واخېست، کوم تاویلونه چې یهود تراوسه نه مني، او پرهغوی باندې ږېشخند او خنداګانې کوي او نعوذبالله هغه دروغجن ګڼي او وایي چې دملاکي نبي په کتاب کې خو په واضح او ښکاره ټکو کې ویل شوي وو، چې په خپله ایلیا نبي به دوهم ځل ښېرته راشي، دا خو نه وو ویل شوي، چې د هغه کوم مثیل به راځي او په ظاهري عبارت نظر اچولو سره یهودیان ریښتیني معلومیږي، همدارنګه د راتلونکي مسیح، د هغوی په کتابونو کې د بادشاه په توګه ظاهر کړای شوی و او په دې معناوو هم یهودي په ظاهره حق په جانب معلومیږي او با وجود د دې، په دې خبره کې څه شک دی چې حضرت مسیح ریښتونی نبي دی؟ ځکه چې اصل حقیقت دا دی چې په وړاندوینو کې مجاز او استعارات هم وي، د بدلون او تحریف هم امکان دی، لهذا هر یو نبي یا محدث چې د حَکَم په توګه راځي هغه دقوم د وړاندې کړای شوو خبرو کې ځینې خبرې خو قبلوي او څه رد کوي او د هغه په هکله چې، هغو خلکو کوم نښانونه ټاکلي وي څه خو پر هغه صادق راځي او څه صادق نه راځي. ځکه چې په هغوی کې څه اختلاط کیږي یا دهغوی مخالفې معنې کیږي، نو څوک چې زما په اړه دا ضد کوي چې ترڅو هغه ټولې نښې کومې چې سنیانو او شیعه ګانو د مسیح او مهدي په نسبت جوړې کړې دي، پوره نشي تر هغه به یې مونږ نه منو، نو هغه سخت ظلم کوي داسې کس که د حضور صلی الله علیه وسلم زمانه موندلي وای، نو هغه به یې هېڅکله نه وای منلی اوکه چېرې د حضرت عیسیٰ په زمانه کې وای، نو هغه به یې هم قبول کړی نه وای، ځکه چې د حق د طالب لپاره دا لاره صفا او بې خطره ده چې د کوم کس د تصدیق لپاره آسماني نښې رابښکاره شوي دي د هغه د تکذیب نه ووېرېږي، ځکه چې د حدیثونو لیکنې، د کومو څخه چې هره یوه فرقه د خپل مذهب د تائید لپاره یوه ذخیره خپل ځان سره لري، په اصل کې د ظن څخه څه زیاته مرتبه نه لري.

او شک يقين نشي لېرې کولی، مثلا دا ټولې شکي خبرې دي چې مسيح موعود به آسمان نه رابښکته کيږي بلکه يواځې شکي، وهمي او بې اصله دي، ځکه چې د قرآن کريم مخالفې دي او د معراج حديث هم، د دې مکذب دی ځکه چې حضور صلی الله عليه وسلم خوهم آسمان ته لاړ وه ولې چا د پورته کېدو او ښکته کېدو په حال کې لېدلي دی؟ لنډه دا چې ای د قوم مشرانو! تاسو چې ما ته دجال او کافر وايئ او مفتري مې ګڼئ، تاسو لږ فکر وکړئ او وګورئ چې دومره سپکه ژبه او زړه ورتيا لپاره ستاسو په لاس کې څه دي؟ ولې دا ريښتيا نه دي چې قرآن شريف چې د خدای کلام دی، د هغه واضح نصوصو څخه هم د حضرت مسيح مرګ ثابتيږي، ځکه چې خدای خو په ښکاره ټکو فرمايلي دي چې هغه وفات شوی دی، څرنګه چې آيت فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ پردې باندې ګواه دی، تاسو ښه پوهيږئ چې د توفّی معنا پرته د قبض روح بل هېڅ نه ده*[١٢] بيا دوهم چې وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُولٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ط (آل عمران: ١٤٥) (او محمد نه دی مګر يو رسول د هغه څخه وړاندې ټول رسولان تېر شوي) دا هغه آيت دی کوم چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د وفات په وخت، حضرت ابوبکر رضی الله عنه د دې استدلال په موخه تلاوت کړی و، چې ټول تېر شوي نبيان وفات شوي دي او پر دې باندې د ټولو اصحابو اجماع شوې وه. همدا شان حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د معراج په شپه حضرت مسيح د وفات شوو نبيانو په ډله کې وليد او دا يې هم وفرمايل، چې مسيح يوسل او شل (١٢٠) کاله عمر وکړ، او حضور صلی الله عليه وسلم دا هم وفرمايل چې که چېرې موسی او عيسیٰ ژوندي وای، نو زما پيروي به يې کوله او په قرآن کې حضور صلی الله عليه وسلم خاتم الانبياء ګرځولی شوی. نو اوس ووايئ چې ددې ټولو نصوصو څخه وروسته د حضرت عيسیٰ عليه السلام په وفات کې کوم شک باقي پاتې شو؟ پاتې شوه زما دعوای، نو هغه هم بې سنده نه ده په بخاري او مسلم کې صفا ليکلي چې مسيح موعود به له همدې امت څخه وي او خدای تعالی زما لپاره په آسمان کې د روژې مياشت کې لمر او سپوږمۍ په تندر ونيول اوهمدارنګه پر ځمکه باندې ډېرې نښانې ښکاره شوې او دسنت الله موافق حجت پوره شو، او قسم مې د په هغه ذات وي، د چا په لاس کې چې زما ځان دی چې که چېرې تاسې

*[١٢] څرنګه چې په لغت کې د توفّی معنا چېرته چې خدای فاعل او انسان مفعول بِهِ، وي پرته د مړکولو نور هېڅ نه ده، همدارنګه په قرآن کريم کې د اول نه تر آخره پورې د توفّی ټکی د مړکولو او د قبض روح لپاره استعمال شوی، پرته له دې په ټول قرآن کې بله کومه معنا نه ده. منه

حاشيه

خپل زړونه صفا کړئ او کوم بل د خدای نشان لپدل غواړئ، نو هغه قدیر خدای به پرته له دي چې هغه ستاسو د کوم وړاندیز تابع وي پخپلې خوښې او اختیار سره په نښان ښودلو قادر دی*[۱۳] او زه یقین لرم، چې که چېرې تاسو د ریښتني زړه څخه د توبې نیت وکړئ او زما څخه غوښتنه وکړئ او د خدای په وړاندې دا ژمنه وکړئ، چې که کوم فوق العادت امر چې د انساني طاقتونو څخه پورته وي راښکاره شي، نو مونږ به دا ټول بغض او کینه پرېږدو او یواځې د خدای د راضي کولو، لپاره د سلسلې په بیعت کې به داخل شو، نو هرومرو به خدای تعالی کوم نشان وښیي. ځکه چې هغه رحیم او کریم دی، لیکن زما په اختیار کې نه دی چې د نښانو د ښودلو لپاره دوه، درې ورځې وټاکم یا ستاسو د خوښې پیروي وکړم، دا د الله تعالی په اختیار کې دي کوم تاریخ چې غواړي وټاکي. که په نیت کې د حق غوښتنه وي، نو دا مقام څه د بحث نه دی ځکه کله چې اوسنۍ زماني ته خدای تعالٰی کومه نوي نښه وښیي نو دا به نه کیږي چې هغه څه پنځوس ۵۰ یا شپیته ٦۰ کاله وټاکي بلکه کوم معمولي موده به وي، کومه چې د محکمې په دعوو کې یا د تجارت په کارونو کې هم دا موخه لرونکي کسان د خپل ځان لپاره منظوروي، دارنګه تصفیه په دې صورت کې کېدای شي چې د زړونو څخه ټول فساد لېرې کړای شي او په حقیقت کې ستاسو اراده وشي چې د خدای د ګواهۍ سره پرېکړه وکړي او په دې طریقې کې به دا اړین وي چې لږ تر لږه څلوېښت نامتو مولویان لکه مولوي محمد حسین بټالوي، مولوي نذیر حسین صاحب دهلوي، مولوي عبدالجبار صاحب غزنوي ثم امرتسري، مولوي رشید احمد صاحب ګنګوهي او مولوي پیرمهرعلي شاه صاحب ګولړوي یو لیکل شوی اقرار لیک د پنځوسو معززو مسلمانو د ګواهۍ په ثبتولو سره د اخبار په ذریعې خپور کړي چې چېرې داسې نښه، چې په حقیقت کې غیرمعمولي وي ظاهره شوه، نو مونږ به د حضرت ذوالجلال څخه، د ډار په وجه مخالفت پرېږدو او په بیعت

*[۱۳] همدا اوس د مکې معظمې او مدینې منورې خلکو لپاره یو لوی نشان ښکاره شوی، او هغه دا چې د ۱۳۰۰ دیارلس سوو کلونو راهیسې د مکې څخه مدینې ته د تلو لپاره د اوښانو سورلۍ کارېدله او هر یو کال په لکونو اوښان د مکې څخه مدینې ته او مدینې څخه مکې ته تلل او د دغو اوښانو په هکله په قرآن شریف او حدیث کې په اتفاق سره دا وړاندوینه موجوده، وه، چې یوه داسې وخت راتلونکې دی، چې دغه اوښان به بې کاره شي او څوک به په هغوی نه سوریږي، همدارنګه **وَاِذَاالْعِشَارُ عُطِّلَتْ**ص (سورة التکویر:۵) **او حدیث یترک القلاص فلایسعی علیها** د دې ګواه دي. نو دا څومره درنه وړاندوینه ده چې د مسیح د زمانې لپاره او د مسیح موعود د ظهور لپاره، د نښان په توګه وه چې د اورګاډي تیارۍ سره سرته ورسېده فالحمدلله علی ذالک. منه

حاشیه

کې به داخل شو او که چېرې دا طریقه هم تاسو ته منظوره نه وي او داسې خیالات درسره ملګري وي، چې د داسې بیعت اقرار په خپرولو کې زمونږ کسر شان دی او یا دومره انکسار د هر یوه څخه ممکن نه دی، نو یوه بله آسانه لاره ده، چې د هغې نه آسانه لاره بله نشته، په کومه کې چې نه ستاسو کسر شان دی او نه د کومې مباهلې د کومې خطرناکې پایلې څخه دځان یا مال یا عزت په متعلق څه اندېښنه شته او هغه دا چې تاسو یواځې د الله تعالی په وېرېدلو او په دې امت محمدیه باندې رحم کولو سره په بټاله، امرتسر یا لاهور کې یوه جلسه وکړئ او په هغه جلسه کې، تر کومه چې ممکنه وي معزز علماء او دنیا داران راټول شي او زه به هم د خپل جماعت سره حاضر شم، نو هله دې هغه ټول دا دعا وکړي چې ای الهي که چېرې ته خبریې چې دا کس مفتري دی او ستا له لورې نه دی، نه مسیح موعود دی او نه مهدي دی، نو ته دا فتنه د مسلمانانو څخه لېرې کړه او د دې د شر څخه اسلام او اهل اسلام وساته، څرنګه چې تا د مسیلمه کذاب او اسودعنسي د نړۍ څخه پورته کړل مسلمانان دې د هغوی د شرڅخه وساتل. او که چېرې دا ستا له لورې دی او زمونږ د عقلونو او پوهې کمۍ دی، نو ای قادره! ته مونږ ته پوهه عطا کړه ترڅو مونږ هلاک نه شو او د ده په ملاتړ سره داسې امور او نښې ښکاره کړه چې زمونږ طبیعتونه پې ومني، چې دا ستا له خوا دی او کله چې دا ټولی دعاوې وشوې، نو زه او زما جماعت به په جګ آواز سره آمین ووایو، نو بیا د دی نه وروسته به زه دعا وکړم او هغه وخت به زما په لاس کې هغه ټول الهامونه وي کوم چې اوس لیکل شوي دي. او کوم څه به لاندې ولیکل شي، مقصد همدا چاپ شوې رساله په کومه کې چې دا ټول الهامونه دي به په لاس کې وي. او د دعا به دا مضمون وي چې ای الهي که چېرې دا الهامونه کوم چې په دې رساله کې لیکلي دي کوم چې اوس زما په لاس کې دي د کومو له مخې چه زه خپل ځان مسیح موعود او مهدي معهود ګڼم او حضرت مسیح وفات شوی ګڼم ستا کلام نه دی، او زه ستا په نزد دروغجن، مفتري او دجال یم چا چې په امت محمدیه کې فتنه اچولې، او ستا غضب پر ما دی، نو زه په عاجزۍ سره ستا په درګاه کې دعا کوم چې د نن نیټې څخه د یو کال د ننه د ژوندیو څخه زما نوم وباسه. او زما ټول کاروبار تباه او برباد کړه، او د دنیا څخه زما نښان له منځه یوسه، او که چېرې زه ستا له خوا یم او دا الهامونه چې اوس زما په لاس کې دي، ستا لخوا دی او زه ستا د فضل وړ یم، نو ای قادره کریمه همدې راتلونکي کال کې زما جماعت ته غیر معمولي پرمختګ ورکړه او غیرمعمولي برکتونه یې په برخه کړه او زما په عمر کې برکت واچوه، آسماني تاییدونه نازل کړه او کله چې دا دعا

وشي، نو ټول مخالفين دې چې حاضر دي آمين ووايي*[۱۴] مناسبه ده چې د دې دعا لپاره ټول صاحبان خپل زړونه صفا کړي او راشي کوم نفساني جوش او غضب نه وي او د ګټلو او بايللو معامله دې نه ګڼي او نه دې دا دعا مباهله ګرځوي، ځکه چې د دې دعا ټوله ګټه او زيان زما ذات پوري تړلی دی، په مخالفينو باندې د دې هېڅ اغېز نشته. ای مشرانو! بنکاره ده چې تفرقه ډېره زياته شوې ده او د دې تفرقې او ستاسو د تکذيب له امله په اسلام کې کمزورتيا راځي، او لکه چې په زرګونو پورې د دې جماعت شمېر رسېدلی دی او زما د هر يو مريد تکفير شوی دی، نو د تفرقې اندازه بنکاره ده، په داسې وخت کې د اسلامي مينې همدا غوښتنه ده څرنګه چې د استسقاء د لمانځه لپاره د تضرع او انکسار سره ځنګل ته ځي، همدارنګه په دې مجمع کې هم متضرعانه صورت اختيار کړئ او کوښښ وکړئ چې د زړه د اخلاصه او د ژړا او زاريو سره وي، خدای د مخلصينو دعاګاني قبلوي، نو که چېرې دا کاروبار د هغه له خوا نه دی، انساني افتراء او تصنع ده، نو د مرحومه امت دعا به ژرعرش ته ورسيږي او که چېرې زما سلسله آسماني ده او د خدای د لاسه ده، نو زما دعا به واړېدل شي.

نو ای مشرانو! د خدای لپاره، دا خبره خو ومنئ، د زياتې ګڼې ګوڼې اړتيا نشته د علماوو څخه د څلوېښت کسان راټول شي د دې څخه کم هم نه دي پکار، ځکه چې د څلوېښت شمېره د دعاوو د قبوليت لپاره يوه با برکته اړيکه ده او د دنيا دارو څخه چې څوک غواړي شامل د شي، او دا دعا به په تضرع او په ژړا، ژړا وکړای شي، که څه هم يو صاحب ته به څه نا څه تکليف د سفر وي او څه خرڅ به هم وي، لېکن ډېر اميد دی چې خدای به پرېکړه وفرمايي، ای مشرانو او د قوم مشايخو او علماوو! بيا زه تاسو ته د الله قسم درکوم چې دا بلنه هرومرو ومنئ. هو دا امر هم د ياد وړدی، ځکه چې په باران او ګرمۍ کې سفر کول د تکليف څخه خالي نه دی او موسمي ناروغۍ هم وي. له دې امله د دې غونډې لپاره ۱۵ اکتوبر کال ۱۹۰۰ کله چې موسم ښه او مناسب وي په دې کې هېڅ ستونزه نشته چې زمونږ د مخالفينو له خوا پيرمهرعلي شاه صاحب ګولړوي يا مولوي محمدحسين بټالوي يا مولوي

*[۱۴] په ياد دې وي چې دغه د دعا لاره په مباهله کې نه ده داخله، ځکه چې د مباهلې معنا د عربود ژبې له مخې او هم د شرعي اصطلاح له مخې دا ده چې دوه مخالفې ډلې د يو بل لپاره عذاب او دخدای لعنت وغواړي لېکن په دې دعا کې ټول اثر د دعا يوائې زما ځان پورې محدود دی د دوهمې ډلې لپاره کومه دعا نه ده. منه

حاشیه

عبدالجبار غزنوي د دې انتظام لپاره د ډلې امیر یا سکرتر په ډول شي او تر خپلمنځي مشورې څخه وروسته د منظورۍ اعلان خپور کړي. مګر د خدای لپاره اوس د کوم بل شرط څخه دا اعلان خوندي وساتئ. ما یواځې د خدای لپاره دا وړاندیز وړاندې کړی او زما خدای د حال لیدونکی دی، چې ما یواځې دحق د اظهار لپاره دا وړاندیز وړاندې کړی دی، په دې کې هېڅ یو د مباهلې جز نشته هر څه چې دي هغه زما په ځان او عزت دي، د خدای لپاره دا هرومرو منظور کړئ. وګورئ زما په مخالفت کې څومره علماء په تکلیف کې دي ځینې وخت، پرما باندې هغه نیوکې کیږي، په کومو کې چې نبیان هم داخلیږي. نبیانو مزدورۍ هم کړي او نوکرۍ یې هم کړي دي، د کافرانو شیان هم هغوی استعمال کړي د هغوی په کچرو باندې هم سواره شوي دي، کوموته چې هغوی دجال ویل، د هغوی د وړاندوینو په هکله هم ځینې خلک په ابتلاء کې پرېوتل چې د هغوی د خیال موافق هغه پوره نه شوې، لکه څرنګه چې یهود تر ننه پورې د بادشاه مسیح په اړه چې کومه وړاندوینه وه او د ایلیا چې کومه مخکې د مسیح څخه د دوهم ځل راتګ، وړاندوینه وه پر هغه باندې اعتراض کوي، او پر حضرت ابراهیم باندې مخالفینو د درواغ ویلو اعتراض کړی دی او پر حضرت موسی باندې یې په فریب سره د مصریانو د ګنو اخیستل او دروغ ویل او عهد ماتولو او د پیو څښونکو ماشومانو د وژلو، تر اوسه پورې آریه او نور اعتراض کوي. او د حدیبیې وړاندوینه کله چې د ځینو نادانو په خیال سرته ونه رسېده، نو ځینو تفسیرونو کې لیکلی دي چې دېر جاهلان مرتد شول او خپله نبي هم ځیني وخت د خپلې وړاندویني د معناوو په پوهېدلو کې غلطي کولای شي لکه څنګه چې حدیث ذَهب وهلیْ په دې شاهد دی. او د یونس نبي د عذاب وعده د کومې چې وخت څلوېښت ورځې په قطعي ډول ویل شوی و د هغې وروسته کېدل، د وعید د وړاندوینو په هکله د متقي لپاره واضحه لارښوونه کوي، لکه څنګه چې مفصل په درمنثور او د یونه (یونس) نبي په کتاب کې دي. بیا باوجود، د دې ټولو مثالونو، پر ما باندې اعتراض کول آیا دا د تقوا لار ده؟ خپله فکر وکړئ او اوس لاندې پاتې الهامونه لیکم، ځکه چې د دعا په وخت کې کله چې دا رساله په لاس کې وي، نو د دغو الهامونو لیکل هم اړین دي او هغه دا دي:

سبحان الله تبارک وتعالی زاد مجدک ینقطع اباءک و یبدء منک. عطاءًا غیر مجذوذ. سلام قولاً من رب رحیم. وقیل بُعدًا للقوم الظالمین. تری نسلاً بعیداً. ولنحییّنک حیواة طیّبة. ثمانین حولا او قریبا من ذالک او نزید علیه سنینا. و کان وعدالله مفعولا. هذا من رحمة ربک. یتم نعمته علیک لیکون آیة للمومنین. ینصرک الله فی مواطن. والله متم نوره و لو کره الکافرون. و یمکرون و یمکر الله و الله خیر الماکرین. الا ان روح الله قریب. الا ان نصرالله قریب. یاتیک من کل فج عمیق. یاتون من کل فج عمیق. ینصرک رجال نوحی الیهم من السماء. لامبدل لکلمات الله. انه هو العلی العظیم. هوالذی ارسل رسوله بالهدی او دین الحق. و تهذیب الاخلاق. و قالوا سیقلب الامر و ما کانواعلی الغیب مطلعین. انا اتیناک الدنیا و خزائن رحمة ربک وانک من المنصورین. وانی جاعل الذین اتبعوک فوق الذین کفروا الی یوم القیامة*[۱۵] وانک لدینا مکین امین. انت منی بمنزلة لا یعلمهاالخلق وما کان الله لیترکک حتی یمیزالخبیث من الطیب. فذرنی والمکذبین*[۱۶] والله غالب علی امره ولکن اکثر الناس لایعلمون. اذا جاءنصرالله والفتح و تمت کلمة ربک هذا الذی کنتم به تستعجلون. اردت ان استخلف فخلقت ادم. یقیم الشریعه و یحی الدین. و لو کان الایمان معلقا بالثریا لناله. انا انزلناه قریبًا من القادیان و بالحق انزلناه و بالحق نزل. صدق الله ورسوله و کان امرالله مفعولا. ان السموات والارض کانتا رتقًا ففتقناهما. هوالذی ارسل رسوله بالهدی و دین الحق لیظهره علی الدین کله. و قالوا ان هذا الا اختلاق. قل ان افتریته فعلی اجرامی. و لقد لبثت فیکم عمرًا من قبله افلا تعقلون. و قالوا ما سمعنا بهذا فی آباءنا الاولین. قل ان هدی الله هو الهدی. و من یبتغ غیره لن یقبل منه و هو فی الاخرة من الخاسرین. انک علی صراط مستقیم. وجیها فی الدنیا و الاخرة ومن المقربین. و یقولون انّی لک هذا. ان هذا الاقول البشر واعانه علیه قوم آخرون. افتاتون السّحر و انتم تبصرون. هیهات هیهات بما توعدون. من هذا الذی هو مهین. ولا یکاد یبین. جاهل او مجنون. قل ان کنتم تحبون الله فا تبعونی یحببکم الله. وانا کفیناک المستهزئین. ذرنی و المکذبین. الحمدالله الذی جعلک المسیح این مریم. یجتبی الیه من یشاء. لایسئل عما یفعل و هم یسئلون. امم یسرنا لهم الهدای وامم حق علیهم العذاب. و یمکرون و یمکرالله و الله خیرالماکرین. ولکیدالله اکبر. وان یتخذونک الا هزوا اهذا الذی بعث الله. ان هذا الرجل یجوح الدین. و قد بلجت

حاشیه

[۱۵]* دغه د براهین احمدیه وراندوینه د نن څخه شل ۲۰ کاله مخکښی شوی. منه

[۱۶] * دا وراندوینه هم د نن څخه شل ۲۰ کاله مخکې په براهین احمدیه کې خپره شوې. منه

آیاتی. [۱۷]* وجحدوا بها و استیقنتهم انفسهم ظلمًا و علوًّا. قاتلهم الله انّی یوفکون. قل ایها الکفار انی من الصادقین وعندی شهادة من الله وانی امرت و انا اوّل المومنین. واصنع الفلک باعیننا و وحینا. الذین یبایعونک انما یبایعون الله. یدالله فوق ایدیهم. والذین تابوا واصلحوا اولئک اتوب علیهم وانا التواب الرحیم. الامام خیر الانام ویقول العدوّ لست مرسلا. سناخذه من مارن او خرطوم. و اذقال ربک انی جاعل فی الارض خلیفة. قالو اتجعل فیها من یفسد فیها. قال انی اعلم ما لا تعلمون. و ینظرون الیک وهم لا یبصرون. یتربصون علیک الدوائر علیهم دائرة السوء. قل اعملوا علی مکانتکم انّی عامل فسوف تعلمون. ویعصمک الله ولو لم یعصمک الناس. ولو لم یعصمک الناس یعصمک الله. سبحان الله انت و قاره فکیف یترکک. انت المیسح الذی لا یضاع وقته. کمثلک درّ لایضاع. لن یجعل الله للکافرین علی المومنین سبیلا. الم تر انا ناتی الارض ننقصها من اطرافها الم تر ان الله علی کل شیء قدیر. فانتظروا الایات حتی حین. انت الشیخ المسیح وانّی معک ومع انصارک. وانت اسمی الاعلی و انت منی بمنزله توحیدی وتفریدی. وانت منی بمنزلة المحبوبین. فاصبر حتی یاتیک امرنا واندر عشیرتک الاقربین. واندر قومک و قل انی نذیرمبین. قوم متشاکسون. کذبوا بایاتنا وکانوبها یستهزون. فسیکفیکهم الله ویردّها الیک [۱۸]*لامبدل لکلمات الله. وان وعد الله حق وان ربک فعال لما یرید. قل ای و ربیّ انه لحق ولا تکن من الممترین. انا زوجناکها. انما امرنا اذا اردنا شیئا ان نقول له کن فیکون انما نؤخرهم الی اجل مسمی اجل قریب و کان فضل الله

حاشیه

[۱۷]* خدای تعالی زما په تایید کې سلوته نږدې ۱۰۰ نښانې ښکاره کړي دي لکه څنګه چې څلورهلکان د څلورو وړاندوینو مطابق پیدا شول د کومو مفصل ذکر چې په تریاق القلوب کتاب کې راغلی. همدارنګه عزتمند وررمي مولوي حکیم نورالدین صاحب په هکله وړاندوینه چې د هغه په کور کې به هلک پیداکیږی او د هغه په بدن باندې به دانې وي او د آتهم په هکله شرطي وړاندوینه، د لیکهرام د مړکیدو په هکله پیشګویي،او د قتل د تور څخه په پای کې د بریالي کیدو وړاندوینه او په ملک کې د وباء د خپریدو په اړه پیشګویي، مقصد دا چې سل وړاندویني دي چې پوره شوي دي او په زرګونو انسان د هغوی ګواهان دي او دا ټولې وړاندویني په تریاق القلوب رساله کې لیکل شوي. منه

[۱۸]* دا وړاندوینه د هغې نکاح په اړه ده په کومه چې نادان مخالف د جهالت او تعصب څخه اعتراض کوي چې د زوجناک څه معنا شوه؟ په داسې حال که چې یردّها الیک د فقري څخه صفا ښکاره ده چې د هغې ښځې یو واړي تګ او بېرته راتګ شرط دی او د دې څخه وروسته د زوجناک مرتبه ده ځکه چې اول هغه ښځه د نږدې قرابت په وجه نږدې وه بیا لرې لاړه او بیا به بېرته راشي او همدا معنا د ردّ، ده منه.

علیک عظیما یاتیک نصرتی انی انا الرحمان. واذا جاء نصرالله وتوجّهت لفصل الخطاب. قالوا ربنا اغفرلنا انا کنا خاطئین. ویخرّون علی الاذقان.لا تثریب علیکم الیوم. یغفرالله لکم وهو الرحم الراحمین. بشری لکم فی هذه الایام. شاهت الوجوه. یوم یعض الظالم علی یدیه یا لیتنی اتخذت مع الرسول سبیلا. و قالو ان هذا الاّ قول البشر. قل لو کان من عند غیرالله لو جدوا فیه اختلافاً کثیرا. و بشّرالذین آمنو ان لهم قدم صدق عند ربهم. لن یخزیهم الله.ما اهلک الله اهلک. الذین امنو ولم یلبسوا ایمانهم بظلم اولئک لهم الامن وهم مهتدون تُفتّح لهم ابواب السمآء. نرید ان ننزل علیک اسراراً من السماء و نمزق الاعداء کل ممزق. [۱۹]* ونری فرعون وهامان وجنودهما ما کانوا یحذرون. قل یاایها الکفار انی من الصادقین. فانظروا اياتي حتّی حین. سنریهم اياتنا فی الافاق وفی انفسهم حجة قائمة وفتح مبین حکم الله الرحمن. لخلیفة الله السلطان. یوتی له الملک العظیم [۲۰]* وتفتح علی یده الخزائن وتشرق الارض بنور ربّها ذالک فضل الله وفی اعینکم عجیب. السلام علیک انا انزلناک برهانا وکان الله قدیرا. علیک برکات وسلام. سلام قولا من رب رحیم. انت قابل یاتیک وابل. تنزل رحمة علی ثلث. العین وعلی الأُخریین. ولنحیینّک حیوة طیبة. انا اٰتیناک الکوثر. فصل لرّ بک وانحر. انی انا الله فاعبدنی ولاتستعن من غیری. انی اناالله لا اله الاانا. لایدالایدی. انا اذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المندرین. انی مع الافواج اتیک بغتة. فتح وظفر. انی اموج موج البحر. الفتنه ههنا فاصبر کما صبر او لوالعزم. انا ارسلنا الیک شواظاً من نار. قد ابتلی المومنون ثم یردالیک السلام. وعسی ان تکرهو اشیئا وهو خیر لکم و الله یعلم وانتم لا تعلمون. الرحی تدور وینزل القضاء. ان فضل الله لات. ولیس لاحد ان یردما اتی. قل ای وربّی انه لحق لایتبدل ولا یخفی. وینزل ما تعجب منه. وحی من رب السمٰوت العلی ان ربّی لایضل ولا ینسی. ظفر مبین. وانما نوخرهم الی اجل مسمّی. انت معی وانا معک قل الله ثم ذره فی غیّه یتمطّی. انه معک وانه یعلم السرّ وما اخفی. لااله الاهو یعلم کّل شیء ویری. ان الله مع الذین اتقوا والذین هم یحسنون الحسنی. انا ارسلنا احمد الی قومه فاعرضوا وقالوا کذابٌ اشر. وجعلوا یشهدون علیه و یسیلون کماء منهمر. ان حبّی قریب. انه قریب

حاشیه

[۱۹]*د نُمَزِّقُ الْأَعْدَاء د فقري څخه دا مراد دی چې پر هغوی به حجت پوره کړو او د هرې خوا څخه به د هغوی پلمې ختمې کړو او د نُری فرعون فقري څخه دا مطلب دی چې حق به په بشپړ ډول څرګند کړای شي د کوم د څرګندیدو څخه چې مخالفین ډارپږي. منه

[۲۰]* دلته د سلطان د ټکي څخه آسماني بادشاهت مراد دی او د ملک نه مراد روحاني ملک دی او د خزائنو څخه مراد حقایق او معارف دي. منه

مستتر. ويريدون ان يقتلوک يعصمک الله. يکلأک الله. انی حافظک. عناية الله حافظک.ترى نسلا بعيداً ابناءالقمر.انا کفيناک المستهزئين.ان ربّک لبالمرصاد. انه سيجعل الولدان شيبا. الامراض تشاع. والنفوس تضاع وسانزل وانّ يوحى لفصل عظيم. لاتعجبن من امرى. انا نريدان نعزک ونحفظک. ياتى قمر الانبياء وامرک يتاتّى. ما انت ان تترک الشيطان قبل ان تغلبه. ويريدون ان يطفؤا نورالله. والله غالب على امره ولكنّ اكثرالناس لايعلمون. الفوق معک والتحت مع اعدائک. واينما تولّوا فثم وجه الله. قل جاءالحق وزهق الباطل. الله الذى جعلک المسيح ابن مريم. لتنذر قوماً ما انذراباءهم ولتدعوا قومًا اخرين. عسى الله ان يجعل بينكم وبين الذين عاديتم مودّة. انا نعلم الامر وانا لعالمون. الحمدلله الذى جعل لكم الصهر والنسب*. اذكر نعمتى رئيت خديجتى [٢١]*هذا من رحمة ربک يتم نعمته عليک ليكون آية للمؤمنين. انت معى وانا معک يا ابراهيم. انت برهان وانت فرقان يرى الله بک سبيله. انت القائم على نفسه مظهر الحي. وانت منى مبدءالامر. وانت من ماءنا وهم من فشل. اذالتقى الفئتان فانى مع الرسول اقوم وينصره الملائكة. انى انا الرحمن ذوالمجد والعلى. وماينطق عن الهوى ان هو الاوحى يوحى. اردت ان استخلف فخلقت ادم. ولله الامر من قبل ومن بعد. يا عبدى لاتخف. الم تر انا نأتى الارض ننقصها من اطرافها. الم تعلم ان الله على كل شىء قدير. فقط.

الراقم مرزا غلام احمد از قاديان / ٢٧ سپتمبر سنه ١٩٠٠

چاپ: ضياء الاسلام پريس قاديان

تعداد اشاعت:٧٠٠

حاشيه

[٢١] * دا الهام په براهين احمديه کې درج دى او دا برخه د هغه الهام ده په کوم کې چې دېر کاله پخوا خبر راکړل شوى وو يعنى ماته زيرى راکړل شوى و چې ستا واده به په سادات خاندان کې کيږي، او د هغه څخه به اولاد وي ترڅو د حديث وړاندوينه يَتَزَوَّجُ وَ يُوْلَدُ لَهُ پوره شي. دا حديث اشاره کوي چې د مسيح موعود به د سادات خاندان سره د زوم والي تعلق وي ځکه چې د مسيح موعود تعلق د چا سره چې وعده د يولدله په موافق چې صالح او پاک اولاد پيدا شي، د اعلى او پاک خاندان څخه پکار دي او هغه خاندان سادات دى. او د فقرى خَدِيْجَتِيْ نه مراد د خديجې اولاد يعني بني فاطمه دى. منه

* ايډيشن اول کى دا الهام الذى پر ځاى الذين او الصهر پر ځاى الصحر ليکلي دى دا دواړه د کتابت سهوي معلوميږي. سم اَلذى او الصهر دى (ناشر)

اربعين دريمه شمېره

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلّی علی رسوله الكريم

رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِ وَ اَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِيْنَ ط (الاعراف : ۹۰)

ای زمونږه خدایه! زمونږ او زمونږ د قوم ترمنځ ريښتينې پرېکړه وکړه او ته غوره پرېکړه کوونکی يې. آمين

د پنځه سوو روپيو انعام اعلان د حافظ محمد يوسف صاحب ضلع دار نهر په نوم او همدارنګه په دې اعلان کې دا ټول خلک هم مخاطب دي، د کومو نومونه چې لاندې ليکل شوي دي.

مولوي پيرمهرعلي شاه صاحب ګولروي، مولوي نذير حسين صاحب دهلوي، مولوي محمد بشير صاحب بهوپالوي، مولوي حافظ محمد يوسف صاحب بهو پالوي، مولوي تلطف حسين صاحب دهلوي، مولوي عبدالحق صاحب دهلوي صاحب تفسيرحقاني، مولوي رشيداحمد صاحب ګنګوهي، مولوي محمد صديق صاحب ديوبند حال مدرس بچهرايوں ضلع مراد آباد، شيخ خليل الرحمن صاحب جمالي سر ساوا ضلع سهارن پور، مولوي عبدالعزيز صاحب لدهيانه، مولوي محمد صاحب لدهيانه، مولوي محمد حسن صاحب لدهيانه، مولوي احمدالله صاحب امرتسری، مولوي عبدالجبار صاحب غزنوي ثم امرتسري، مولوي غلام رسول صاحب عرف رسل بابا، مولوي عبدالله صاحب تونکي لاهور، مولوي عبدالله صاحب چکړالوي لاهور، ډپټي فتح علي شاه صاحب ډپټي کلکټرنهر لاهوري، منشي الهي بخش صاحب اکونټنټ لاهور، منشي عبدالحق صاحب اکونټنټ پنشنر، مولوي محمد حسن صاحب ابوالفيض ساکن بهيني، مولوي سيدعمر صاحب واعظ حيدر آباد، علماء ندوة الاسلام معرفت مولوي محمد علي صاحب سکرټري ندوة العلماء مولوي سلطان الدين صاحب جی پور، مولوي مسيح الزمان صاحب استاد نظام شاه جهان پور، مولوي

عبدالواحد خان صاحب شاه جهان پور، مولوي اعزاز حسين خان صاحب شاه جهان پور، مولوي رياست علي خان صاحب شاه جهان پور، سيد صوفي جان شاه صاحب ميرټه، مولوي اسحاق صاحب پټياله، ټول علماء کلکته او بمبی او مدراس، ټول سجاده نشينان و مشائخ هندوستان ټول اهل عقل، انصاف، تقوای او ايمان مسلمان قوم څخه.

واضح دي وي، چې حافظ محمد يوسف صاحب ضلعدار د نهر د خپل نافهمه او غلط کاره ملايانو د تعليم څخه په يو مجلس کې د لاهور په مقام کې چې مرزا خدا بخش صاحب مصاحب، نواب محمد علي خان صاحب او ميا معراج الدين صاحب لاهوري، مفتي محمدصادق صاحب او صوفي محمدعلي صاحب کلرک او ميا چټوصاحب لاهوري، خليفه رجب الدين صاحب تاجر لاهوري شېخ يعقوب علي صاحب د الحکم اخبار ايډيټر، حکيم محمد حسين صاحب قريشي، حکيم محمد حسين صاحب تاجر مرهم عيسیٰ، ميا چراغ الدين صاحب کلرک او مولوي يار محمد صاحب موجود وو په ډېر ټينګار سره يې دا بيان کړل، چې که چېرې کوم نبي يا رسول يا کوم بل څوک د مامور من الله کېدو دروغجنه دعوه وکړي او په دې ډول خلک ګمراه کول وغواړي، نو هغه دې ډول افتراء سره، سره تر ٢٣ درويشتو کالو يا د دې څخه زيات ژوندی پاتې کېدلای شي. يعنې د افتراء علی الله نه وروسته دومره عمر بياموندل د هغه د رښتينولی دليل نشي کيدای، او بيان يې کړل چې د داسي ګنو خلکو نومونه زه د ښلګې په ډول وړاندې کولای شم، چا چې د نبي يا رسول يا د مامور من الله کېدو دعوا وکړه او تر دروېشتو ٢٣ کلونو پوري يا د دې څخه زياته مودې پوري يې خلکو ته اورول چې د خدای کلام پر مونږ باندې نازليږي حال دا چې هغه کاذب وو. مقصد حافظ صاحب يواځې د خپلې مشاهدې په حواله ورکولو سره پورته په ذکر شوې دعوې باندې زور ورکړ، له کومې چې لازم راتلل، د قرآن شريف هغه استدلال کوم چې په لاندې درج شوو آيتونو کې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د الله له لورې کيدو په هکله دي صحيح نه دي، اوګواکې خدای تعالی سراسر د واقعې خلاف د نصارای، يهوديانو او مشرکانو مخکې حجّت وړاندې کړی دی. او ګواکې آئمه او مفسرينو هم يواځې په ناپوهی دا دليل د مخالفانو مخې ته وړاندې کړو. تر دې چې په شرح عقايد نسفي کې هم چې د اهل سنت د عقيدو په اړه يو کتاب دی د عقيدې په ډول

يې دا دليل ليکلی دی، او علماوو په دې خبره هم اتفاق کړی دی، چې قرآن ته سپک کتل يا د قرآن دليل د کفر کلمه ده، مګر نه ده معلومه چې حافظ صاحب کوم تعصب په دې خبره آماده کړ چې باوجود، د قرآن د حفظ د دعوې لاندې مفصل آيات يې هېر کړل او هغه دا دي: إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ. وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ. وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ. تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ. وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ ٱلْأَقَاوِيلِ. أَخَذْنَا مِنْهُ بِٱلْيَمِينِ. ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ ٱلْوَتِينَ فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَٰجِزِينَ. (وګورئ سوره الحاقه سيپاره: ۲۹) او ددې ژباړه دا ده: دا قرآن د رسول کلام دی، يعنې د وحي په ذريعه هغه ته رسېدلی دی، او دا د شاعر کلام نه دی،ځکه چې تاسو ته د ايماني فراست څخه کمه برخه ده، له دې امله تاسو هغه نه پېژنئ، او دا د کاهن کلام نه دی، يعنې د هغه کلام نه دی، ځوک چې د جناتو سره څه تعلق لري، مګر تاسو ته د تدبر او تذکر ډېره کمه برخه درکړل شوې ده. له دې کبله داسې خيال کوئ. تاسو سوچ نه کوئ چې کاهن په کوم پست او ذليل حالت کې وي، بلکه دا د رب العالمين کلام دی کوم چې د عالم اجسام او عالم ارواح دواړو ربّ دی، يعنې څرنګه چې هغه ستاسو د جسمونو پالنه کوي همغه شان هغه ستاسو د روحونو هم پالنه کول غواړي. او د همدې ربوبيت د غوښتنې په وجه هغه دا رسول رالېږلی او که چېرې دا رسول د خپل ځان څخه څه جوړ کړي وای او ويلي يې وای چې فلانی خبره پرما خدای وحي کړي ده، په داسې حال کې چې هغه کلام د هغه خپل وای، نه د خدای، نو مونږ به د هغه ښی لاس رانيولی وای او بيا به مو د هغه شاه رګ پرې کړی وای او هېڅا به ستاسو څخه هغه نه وی ژغورلی، يعنې که چېرې هغه پر مونږ درواغ تړلي وای، نو د هغه سزا مرګ وه، ځکه چې هغه په دې صورت کې پخپلې درواغجنې دعوې د افتراء او کفر لور ته په بللو د ضلالت په مرګ هلاکول غوښتل، نو د هغه مړ کېدل د هغې حادثې څخه غوره دي چې ټوله نړۍ د هغه په درواغجن تعليم باندې هلاکه شي. له همدې امله د پخوا څخه زمونږ همدا سنّت دي چې مونږ هماغه ځوک هلاکوو کوم چې د نړۍ لپاره د هلاکت لارې وړاندې کوي او دروغجن تعليم او دروغجنو عقيدو په وړاندې کولو د خدای د مخلوق روحاني مرګ غواړي، او پر خدای باندې افترا کولو سره ګستاخي کوي. اوس د دې آيتونو څخه صفا ښکاره ده، چې الله تعالٰی د حضور صلی الله عليه

وسلم په ربښتینولی باندې دا دلیل وړاندې کوي چې که هغه زما له خوا نه وی، نو مونږ به هغه هلاک کړی وای او هغه به هېڅکله ژوندی نه وای پاتې شوی، که څه هم تاسو د هغه د ژغورلو لپاره کوښښ هم کړی وای، لېکن حافظ صاحب دا دلیل نه مني او فرمایي چې حضور صلی الله علیه وسلم د وحي ټوله او بشپړه موده دروېشت ۲۳ کاله وه او زه د دې څخه هم تر زیاتې مودې پورې خلک در ښودلی شم، چا چې د دروغو د نبوت او رسالت دعوې کړې وې او با وجود د دروغ ویلو او پرخدای باندې افتراء کولو هغوی د ۲۳ دروېشت کلونو څخه هم تر زیاتې مودې پورې ژوندي وو، لهذا د حافظ صاحب په نزد د قرآن شریف دا دلیل باطل او هېڅ دی او د دې څخه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نبوت ثابتیدلای نه شي، مګر (په) حیرانتیا، چې کله مولوي رحمت الله صاحب مرحوم او مولوي سید آل حسن صاحب مرحوم په خپل کتاب ازاله اوهام او استفسار کې د پادري فنډل په وړاندې همدا دلیل وړاندې کړی و، نو پادري فنډل صاحب د هغه ځواب نه و زده، او باوجود ددې چې د تاریخ په پانو اړولو کې دا خلک ډېر مهارت لري، مګر د اصل دلیل د ماتولو لپاره هغه کوم مثال وړاندې نه کړی شو [۲۲]* او لا ځوابه پاتې شو او نن حافظ محمد یوسف صاحب چې د مسلمانانو بچي یادېدلو سره د دې قرآني دلیل څخه انکار کوي او دا معامله یواځې وینا نه ده پاتې شوې، بلکه یو داسې تحریر په دې باره کې زمونږ سره موجود دی په کوم باندې چې د حافظ صاحب لاسلیک دی کوم چې هغوی راته ګران ورور مې، مفتي محمد صادق صاحب ته د هغه عهد او اقرار سره ورکړی، چې مونږ به د داسې افتراکوونکو ثبوت ورکوو، چا چې د خدای د مامور یا نبي یا رسول کېدو دعوې وکړې او بیا هغوی د هغې دعوې وروسته ۲۳ دروېشت کالونو

*[۲۲] پادري فنډل صاحب په خپل میزان الحق کې یواځې دا ځواب ورکړی و، چې مشاهده په دې خبرې ګواه ده چې په دنیا کې څو کروړه بت پرستان موجود دي، لېکن دا ډېر فضول ځواب دی، ځکه بت پرست خلک په خپلې بت پرستۍ کې د خپلې وحيٌ من الله کېدو دعوه نه کوي، دا نه وایي چې مونږ ته خدای حکم کړی چې بت پرستي په دنیا کې خپره کړئ، هغه خلک ګمراه دي، نه په الله باندې افترا کوونکي. دا ځواب د اختلافي موضوع سره هېڅ اړیکه نه لري، بلکه قیاس مع الفارق دی، ځکه چې بحث خو د نبوت دعوا او افتراء علی الله کې دی نه یواځې په ضلالت کې. منه

حاشیه

څخه زیات ژوندي پاتې شول. په یاد دې وي چې دا صاحب د مولوي عبدالله صاحب غزنوي له ډلې څخه دی او ډېر موحّد مشهور دی. او د دې خلکو د عقایدو د بېلګې په ډول دا حال دی چې کوم مونږ ولیکلو او دا خبره له هېڅا څخه پټه نه ده، چې د قرآن د وړاندې کړل شویو دلایلو تکذیب د قرآن کریم تکذیب دی او که چېرې د قرآن کریم یو دلیل هم رد کړل شي، نو امن به پورته شي او دې څخه به لازمه وګرځي چې د قرآن کریم ټول دلایل کوم چې د توحید او رسالت په اثبات کې دي ټول باطل او هېڅ دي، او نن خو حافظ صاحب د دې ردّ لپاره دا پېټی په ځان واخیست چې زه به ثابتوم، چې خلکو درویشت کلونو پورې یا ددې څخه زیات د نبوت او رسالت دروغجنې دعوې کړې او بیا ژوندي پاتې شوي، او سبا کیدای شي حافظ صاحب دا هم ووایي چې د قرآن دا دلیل چې لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا (الانبیاء: ۲۳) هم باطل دی او دعوای وکړي چې زه ښودلای شم چې د خدای نه پرته نور څو خدایان هم شته چې ربښتوني دي مګر په ځمکه او آسمان باندې هم تراوسه موجود دي، نو د داسې باتور حافظ صاحب څخه هر څه امید کیدای شي، ولې د یوه ایماندار ه بدن به په لړزا شي، کله چې څوک دا خبره په خپله ژبه راوړي، چې فلانی خبره چې په قرآن کې ده هغه خلاف د واقعې ده، یا فلانکی دلیل د قرآن باطل دی، بلکه په کومه معامله کې چې په قرآن او رسول کریم صلی الله علیه وسلم باندې نېوکه راځي د ایماندار کار نه دی چې هغه پلید اړخ خپل کړي. او د حافظ صاحب حالت دې حد ته یواځې له دې امله رسیدلی چې هغوی د خپلو څو زړو ملګرو د ملګرتیا په وجې زما د منجانب الله کیدلو دعوې څخه انکار مناسب وګڼلو او څنګه چې دروغجن الله تعالی په همدې جهان کې تورن او شرمسار کوي له همدې امله حافظ صاحب هم د نورو منکرینو په شان د خدای د تور لاندی راغلو او داسې اتفاق وشو چې په یو مجلس کې د کوم چې مونږ وړاندې ذکر کړی زما د جماعت ځینو خلکو د حافظ صاحب په وړاندې دا دلیل مخکې کړ چې خدای تعالی په قرآن شریف کې د لوڅې تورې په شان دا حکم فرمایي چې که دا نبي پر ما باندې درواغ ویلي وای او یا په کومه خبره کې یې افتراء کړې وای، نو ما به د هغه شارګ پرې کړی وای، او د دومره اوږدې مودې لپاره به ژوندی نه وی پاتې شوی، نو اوس کله چې مونږ خپل دا مسیح موعود په دې پیمانه باندې تلو، نو د

براهين احمديه په ليدلو سره ثابتيږي چې دا دعوا د الله له لورې کيدو او د مکالمات الهيه تقريباً د دېرش کالو را ايسې ده، او د يوويشت کالونو را په دې خوا براهين احمديه خپور شوی دی، نو که چېرې تردې مودې پورې د دې مسيح هلاکت څخه په امن پاتې کيدل د ده په صادق کيدلو باندې دليل نه دی نو د دې څخه خو لازمه راځي چې نعوذ بالله د حضور صلی الله عليه وسلم تر درويشت ۲۳ کلونو پورې د مرګ نه بچ کېدل د حضور صلی الله عليه و سلم په ربښتينولۍ باندې هم دليل نه دی، ځکه کله چې خدای تعالی د رسالت يو دروغجن مدعي ته تر دېرشو کلونو پورې مهلت ورکړ او د لَوْتَقَوَّلَ عَلَيْنَا د وعدې يې هېڅ پروا ونکړه، نو همداشان نعوذ بالله دا هم قياس ته نږدې دی چې حضور صلی الله عليه وسلم ته يې هم با وجود د دروغجن والي مهلت ورکړی وي، مګر د حضور صلی الله عليه وسلم دروغجن کيدل محال دي، نو چې کوم مستلزم محال وي هغه هم محال دی او ښکاره ده چې دا قرآني استدلال ښکاره څرګند هغه وخت ګرځيدلای شي چې کله دا قاعده غونډه ومنلی شي چې خدای هغه مفتري ته کوم چې د خلقت د ګمراهۍ لپاره د مامور من الله کيدو دعوه کوي کله هم مهلت نه ورکوي، ځکه چې په دې توګه د هغه په پاچاهۍ کې بې نظمي پيدا کيږي او د صادق او کاذب تر مينځه تميز نه پاتې کيږي. مقصد کله چې زما د دعوې په تأييد کې دا دليل وړاندې کړای شو، نو حافظ صاحب د دې دليل نه سخت انکار وکړ او په دې خبرې يې ټينګار وکړ چې د درواغجن تر درويشت کلونو پورې او يا د دې څخه زيات ژوندي پاتې کېدل جائز دي، ويې ويل چې زه ژمنه کوم چې د داسې درواغجنو مثال به وړاندې کوم، کوم چا چې د رسالت دروغجني دعوې کړې وې او درويشت يا د دې څخه ډېر کلونه ژوندي پاتې شوي وي، مګر تر اوسه يې کوم مثال وړاندې نکړ، او کومو خلکو چې د اسلام په کتابونو نظر دی هغه ښه پوهيږي چې تراوسه پورې د امت علماوو څخه هيڅا هم دا عقيده نه ده ظاهره کړې، چې کوم مفتري علی الله د حضور صلی الله عليه وسلم په شان درويشت کاله پورې ژوندی پاتې کيدای شي. بلکه دا خو واضحاً د حضور صلی الله عليه وسلم پر عزت حمله او بې حده بې ادبي ده او د خدای تعالی د وړاندې کړل شوي دليل ته په سپکه سترګه کتل دي او د هغو دا حق و چې زما څخه يې د دې ثبوت غوښتی وای چې زما د مامور من الله کېدو د دعوې

نه تراوسه درويشت كاله يا د دې څخه زياته موده شوې ده او كه نه؟ مګر حافظ صاحب زما څخه دا ثبوت ونه غوښت، ځكه چې حافظ صاحب بلكه ټول علماء د اسلام او هندوان او عيسايان په دې خبره پوه دي چې د براهين احمديه په كوم كې چې دغه دعوه ده او په كوم كې چې ډېرې الهيه مكالمات درج دي، د هغه په خپرېدو باندې يويشت كاله تېر شوي دي او د همدې څخه ښكاره ده چې نړدې دېرش كاله دا دعوه د الهيه مكالماتو خپره كړای شوې ده، او هم الهام اَلَيْسَ اللهُ بِكَافٍ عَبْدَه كوم چې زما د والد صاحب په وفات باندې په يوه ګوتمې ليكل شوی دی او په امرتسر كې په يوه مهر جوړوونكي باندې جوړه شوې وه، هغه ګوته تر اوسه شته او هغه خلک موجود دي چا چې تياره كړې وه او براهين احمديه شتون لري په كوم كې چې دا اَلَيْسَ اللهُ بِكَافٍ عَبْدَه ليكل شوی دی. او څرنګه چې د ګوتې څخه ثابتيږي دا هم د شپږويشت ٢٦ كلونو زمانه ده. مطلب كه څه هم دا د دېرش كالو موده د براهين احمديه څخه ثابتيږي او په هېڅ توګه د انكار مجال نشته او دهمدې براهين احمديه مولوي محمد حسين ريويو هم ليكلي ده، لهذا د حافظ صاحب دا جرئت خو ونه شو چې د دې خبرې انكار وكړي چې د يويشت كالو را په دې خوا په براهين احمديه كې خپره شوې ده، ناچار قرآن كريم پر دليل باندې حمله وكړه، څنګه چې متل مشهور دی چې په سر يې راغلې وه نو څه به يې كول، نو مونږ په دې اشتهار كې د حافظ محمد يوسف صاحب نه هغه مثال غواړو د كوم د وړاندې كولو چې هغوی د خپل لاسليک شوي تحرير سره وعده كړې وه. مونږ يقيناً پوهيږو چې هېڅ كله د قرآن كريم دليل نشي ماتېدلای، دا د خدای وړاندې كړل شوی دليل دی، نه د كوم انسان، ډېر كمبخته او بد قسمته دنيا ته راغلل اوهغوی د قرآن دغه دليل ماتول وغوښتل، مګر آخر خپله د دنيا نه رخصت شول، مګر دا دليل مات نه شو، حافظ صاحب د علم څخه بې برخې دی هغه نه دی خبر چې په زرګونو نامتو علماوو او اولياوو د تل لپاره همدا دليل د كفارو په مخكې وړاندې كاوه او هېڅ يهودي يا عيسايي توان نه لرلو چې د كوم داسې كس مثال ورکړي چاچې د دروغو په ډول د مامور من الله كېدو دعوې كولو سره يې د ژوند درويشت كاله پوره كړي وي، نو بيا د حافظ صاحب څه حقيقت او ارزښت دی چې دا دليل مات كړی شي، معلوميږي چې د همدې له امله بعضې جاهل او ناپوهه ملايان زما د هلاكت لپاره ډول ډول

پلمي سنجوي ترڅو دا موده پوره نشي، ځرنګه چې يهوديانو نعوذ بالله حضرت مسيح د رفعې ځخه د بې برخه کولو لپاره د صليب چل سنجولی و. ترڅو د دې ځخه دليل وباسي چې عيسىٰ بن مريم د هغو صادقانو ځخه نه دی د کومو چې د الله خواته رفع کېدله، مګر خدای د مسيح سره وعده کړې وه چې زه به تا د صليب ځخه ژغورم او خپلې خواته به ستا رفع کوم ځرنګه چې د ابراهيم او نورو پاکو نبيانو رفع وشوه؛ نو همدارنګه د دغو خلکو د منصوبو برخلاف خدای ما سره وعده وکړه چې زه به اتيا کاله ۸۰ او يا دوه درې کاله کم يا زيات ستا عمر کوم، تر څو خلک د عمر د لږ والي ځځه د کاذب کېدو نتيجه ونه باسي، ځرنګه چې يهوديانو د صليب ځخه د عدم رفعې نتيجه وېستل غوښتل او خدای ما سره وعده وکړه چې زه به د ټولو خبيثو ناروغيو ځخه هم تا وساتم لکه ړندېدل تر څو د دې ځخه هم ځوک خرابه نتيجه ونه باسي [۲۳]*او خدای ماته خبر راکړ چې په دوی کې به ځيني تاته خيرې هم کوي ولې د هغوی خيرې به زه ببرته پر هغوی ور واچوم او په حقيقت کې خلکو د دې خيال ځخه چې ځرنګه ما د لَوْتَقَوَّلَ لاندې راولي په دسيسه جوړولو کې يې ځه کمښت ونه کړ ځينو ملايانو د قتل فتوې ورکړ ځينو ملايانو د قتل دروغو قضيو د جوړولو لپاره پر ما باندې ګواهۍ ورکړې، ځينو مولويانو زما د مرګ دروغجنې وړاندوينې وکړې ځينو په جوماتونو کې زما د مرګ لپاره پوزې ومښلې، ځينو لکه مولوي غلام دستګير قصوري په خپل کتاب کې او مولوي اسماعيل عليګړ والا زما په نسبت قطعي حکم ورکړو چې چېرې دا کاذب وي، نو زمونږ ځخه به وړاندې مري. او هرومرو به زمونږ ځخه وړاندې مړ شي، ځکه چې کاذب دی، مګر کله چې يې دا تأليفات په دنيا کې خپاره کړل، نو ډېر ژر پخپله مړه شول او په دې ډول د هغوی مرګ دا پرېکړه وکړه چې کاذب ځوک و. مګر بيا هم دا خلک عبرت نه اخلي، نو آيا دا يوه عظيم الشانه معجزه نه ده چې محی الدين لکهوکي والا زما د مرګ په هکله الهام خپور کړ، هغه مړ شو، مولوي اسماعيل خپور کړ هغه مړ شو، مولوي غلام دستګير يو کتاب وليکه د خپلې مړينې ځخه يې مخکې زما مرګ ډېر په

*[۲۳] د سترګو په هکله الهي الهام دا دی چې تنزل الرحمة علی ثلثٍ العينُ و علی لاخريين يعنی ستا په دريو عضو باندې به د خدای رحمت نازل شي يو سترګې او پاتې دوه نور. منه

حاشيه

زور او شور سره خپور کړ هغه مړ شو، پادري حميدالله پيښوري زما د مرګ په اړه د لسو مياشتو موده ټاکلو سره وړاندوينه خپره کړه، هغه مړ شو، لېکهرام زما د مرګ په اړه د دري ۳ کاله مودې وړاندوينه خپره کړه هغه مړ شو. دا د دې لپاره وشو چې ترڅو خداى تعالى په هره توګه خپلې نبۍ پوره کړي. زما په اړه چې کومه همدردي قوم کړې ده هغه ښکاره ده او د نورو قومونو بغض خو يو طبيعي امر دى هغه خلکو کوم اړخ زما د تباه کولو لپاره پرېښود؟ او کومه د ايذاء منصوبه ده چې انتها ته يې نه وي رسولې؟ آيا په ښېرو کې کوم کمى پاتې شوى يا د قتل فتوى نيمګړې پاتې شوې يا د ضرر رسولو او د توهين دسيسې كَمَا حَقَّهُ ظاهرې شوې نه دي؟ نو بيا هغه کوم لاس دى چې ما ساتي؟ که چېرې زه دروغجن واى، نو پکار خو دا وه چې خداى خپله زما د هلاکت اسباب پيدا کړي واى، نه دا چې وخت په وخت خلک اسباب پيدا کوي او خداى هغه اسباب له منځه وړي [٢٤*] آيا همدغه د دروغجن نښانې وي چې قرآن هم د هغه ګواهي ورکړي او آسماني نښې هم دهغه په تائيد کې نازلې شي. او عقل هم د همدې تائيد کونکى وي او څوک چې د هغه د مرګ شوقين وي هماغه دې مري. زه هېڅکله يقين نه کوم چې د نبوي زمانې څخه وروسته کوم اهل الله او اهل الحق پر وړاندې کوم مخالف ته داسې واضحه ناکامي او ذلت رسيدلاى وي لکه څنګه چې زما دښمنانو ته

[٢٤*] وګورئ مولوي ابو سعيد محمد حسين بټالوي زما د له منځه وړلو لپاره هر څه پښې لاسونه ووهل او يواځې د فضولو ويناوو سره د خداى سره وجنګيده او دعوه يې وکړه چې همدا ما اوچت کړى وو او همدا زه به يې راغورځوم، مګر هغه پخپله پوهيږي چې د دې بې ځايه وينا پايله څه شوه؟ افسوس چې هغه په خپله دغه کلمه کې يو صريح درواغ خو د ماضي زماني اړه وويل او يو يې د راتلونکي په هکله دروغجنه وړاندوينه وکړه. هغه څوک و او څه شى و چې زه يې اوچت کړى واى؟ دا د خداى پر ما احسان دى او د هغه وروسته د هېچا هم احسان نه دى. اوّل هغه زه په يو ډېر شريف خاندان کې پيدا کړم او د حسب نسب د هر يو داغ نه يې وساتلم بيا وروسته زما په حمايت کې پخپله ودريدو، افسوس چې د دې خلکو حالت تر کومه رسيدلى دى چې داسې د حقيقت خلاف خبرې په خوله راوړي، د کومو چې هېڅ اصليت نشته. ريښتيا خو دا دي چې دې بدمرغه هر ډول پرما حملې وکړې، خو نامراد پاتې شو خلک يې د بيعت څخه منع کړل. پايله دا شوه چې په زرګونو خلک زما په بيعت کې داخل شول، د قتل د اقتدام دروغجنه قضيه کې يې پادريان ګواه کړل او زما پر عزت يې حمله وکړه، مګر هماغه وخت يې د چوکۍ غوښتلو په تقريب سره يې د خپل نيت ثمر بيا موند، زما په ذاتي امورو کې يې ګنده اعلانونه خپاره کړل د هغوى ځواب د وړاندې څخه خداى ورکړى دى زما د بيان حاجت نشته. منه

حاشيه

زما په مقابل کې رسیدلای دی. که چېرې هغوی زما پر عزت حمله وکړه، نو آخر خپله بې عزته شول او که چېرې زما په ځان یې حمله وکړه او دا یې وویل چې د دې کس د صدق او کذب معیار دا دی چې هغه به زمونږ څخه وړاندې مري نو بیا پخپله مړه شول. د مولوي غلام دستګیر کتاب خو څه لرې نه دی، د مودې راهیسې چاپ او خپور شوی دی وګورئ هغه څومره په زړورتیا سره لیکي چې مونږ دواړو څخه چې څوک دروغجن وي هغه به وړاندې مري او بیا پخپله مړشو، د دې څخه ظاهره ده څوک چې زما د مرګ شوقین وو او هغوی د خدای نه دعاګاني وغوښتلې چې مونږ دواړو کې چې هریو دروغجن دی هغه دې وړاندې مړ شي، آخر پخپله مړه شول، نه یو او نه دوه بلکه پنځو کسانو همداسې وویل او د دې دنیا څخه لاړل، د دې پایله د موجوده مولویانو لپاره کوم چې محمد حسین بټالوي، مولوي عبدالجبار غزنوي بیا امرتسري، عبدالحق غزنوي بیا امرتسري، مولوي پیرمهرعلی شاه ګولړوي، رشید احمد ګنګوهي، نذیر حسین دهلوي، رسل بابا امرتسري، منشي الهي بخش صاحب اکونټنټ او حافظ محمد یوسف ضلعدار د نهر و غَيْرُهُم لپاره دا خو نه شو چې د دې واضحه معجزې څخه دغو خلکو ګټه اخیستې وی او د خدای څخه ډار شوي وای، او توبه یې کړې وای، هو د دې خلکو د د څو بېلګو څخه وروسته ملاګاني ماتې شوې او د داسې ډول لیکلونه وډار شول فلن یکتبوا بمثل هذا بما تقدمت الامثال(ژباړه: نو هغوی به ددې په څېر بیا هېڅکله ونشي لیکلی لکه څنګه چې مخکې بېلګو ښودلې ده). دا معجزه څه وړه نه وه کومو خلکو چې د پرېکړې مدار د دروغجن مرګ ګرځولی و هغه زما د مړینې څخه مخکې په قبرونو کې پرېوتل. او ما د ډېټي آتهم په مباحثه کې تقریباً د شپیتو کسانو په مخامخ دا ویلی وو چې زمونږ دواړو څخه چې څوک دروغجن دی هغه به مخکې مري، نو آتهم هم په خپل مرګ زما د ریښتینوالی ګواهي ورکړه ماته د دغو خلکو په حالتونو رحم راځي، چې د بخل د وجې د دې خلکو حالت تر کومه رسیدلی، که چېرې کوم نشان هم غواړي، نو وایي چې دا دعا وکړه چې مونږ په اوو ورځو کې مړه شو نه پوهیږی چې د خپل ځان څخه جوړ شوو مودو خدای پیروی نه کوي. هغه فرمایلي دي چې لَاتَقْفُ مَالَيْسَ لَکَ بِهٖ عِلْمٌ ط (بني اسراییل: ۳۷) او هغه خپل نبي صلی الله علیه وسلم ته وفرمایل چې وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَایْءٍ اِنِّیْ فَاعِلٌ ذَالِکَ غَدًا

(الکهف: ٢٤) نو کله چې سید نا محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د یوې ورځې موده هم د خپل ځان څخه نشي وړاندې کولای، نو زه د اوو ورځو څنګه دعوه وکړم د دې نادانه ظالمانو څخه خو مولوي غلام دستګیر هم ښه شو چې هغه په خپله رساله کې څه معیاد نه دی ټاکلی همدا دعا یې وکړه چې ای الهي که چېرې زه د مرزا غلام احمد قادیانی په تکذیب کې په حقه نه یم، نو ماته مخکې مرګ راکړه او که چېرې مرزا غلام احمد قادیانی په خپله دعوه کې په حقه نه وي، نو هغه ته زما څخه مخکې مرګ ورکړه د دې نه وروسته خدای ډېر زر هغه مړ کړو. وګورئ څنګه د صفایې سره پرېکړه وشوه که چېرې چاته د دې پرېکړې په منلو کې کوم تردد وي، نو هغه ته اختیار دی چې په خپله د خدای دا پرېکړه و آزمایي. لېکن داسې وران کارې د پرېږدي کومې چې د آیت وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَایْءٍ اِنِّیْ فَاعِلٌ ذَالِکَ غَدًا (الکهف: ٢٤) مخالفي دي د شرارت د بې ځایه استدلال څخه د بې ایمانۍ بوی راځي همدارنګه مولوي محمد اسماعیل په ښکاره توګه د خدای په وړاندې دا غوښتنه وکړه چې مونږ دواړو خواو څخه چې څوک دروغجن وي هغه دې مړ شي، نو خدای هغه هم زر تر زره د دې جهان څخه رخصت کړ. او د دې وفات یافته مولویانو د داسې دعا ګانو څخه وروسته مړ کېدل د یو خدای څخه ډارېدونکي مسلمان لپاره، خو کافي دی ولې یو پلید زړي او تور زړي دنیا پرست لپاره هېڅکله کافي نه دی. نو علیګړ خو هم ډېر لرې دی یا کیدای شي چې د پنجاب ډېر خلک د مولوي محمد اسماعیل د نوم څخه هم نا واقفه وي مګر قصورضلع لاهور، خو لېرې نه دی او په زرګونو د لاهور اوسیدونکي مولوي غلام دستګیر به پیژني او د هغه دا کتاب به هم هغوی لوستلی وي، نو ولې د خدای څخه نه ډارېږئ، ولې نه به مرئ؟ آیا د غلام دستګیر په مرګ به هم د لېکهرام د مرګ په څېر د سازش الزام ولګوئ؟ د خدای په دروغجنو باندې نه یواځې یو ځل لعنت دی بلکه تر قیامته لعنت دی. آیا د دنیا چینجي یواځې د کوم چل او تدبیر سره د خدای د مقدسو مامورینو په شان کومه قطعي پیشګویي کولای شي؟ یو غل چې کله غلا ته ځي، نو هغه ته څه معلومه ده چې هغه به په غلا کې کامیاب شي او یا به ونیول شي او بندیخانې ته به لاړ شي. بیا هغه به د خپلې کامیابۍ په ډېر زور او شور سره د ټولې دنیا په وړاندې د دښمنانو په وړاندې ځنګه پیشګویي کوي؟ مثلا وګورئ چې داسې

زوروره وړاندوينه کومه چې د لېکهرام د وژل کېدو په اړه وه د کومې سره چې ورځ، نېټه او وخت هم بيان شوي وو، د کوم شرير، بدکرداره او خوني کار دی؟ مقصد د دې ملايانو پر پوهه باندې څه داسې کاڼي وربېدلي چې د هېڅ يو نشان څخه ګټه نه پورته کوي. په براهين احمديه کې تقريباً شپاړس کاله وړاندې بيان کړل شوی و چې خدای تعالی به زما ملاتړ کې د سپوږمۍ او لمر د تندر نيولو نشان ښکاره کوي، لېکن چې کله هغه نښه ښکاره شوه او د حديث د کتابونو څخه هم دا ښکاره شوه چې دا يوه وړاندوينه وه چې د مهدي د ګواهۍ لپاره د هغه د ظهور په وخت د روژې په مياشت کې د لمر او سپوږمۍ تندر نيول وي، نو دغو ملايانو دغه نشان هم له پامه وغورځاوه د حديث څخه يې هم مخ واړولو، دا هم په حديث کې راغلي وو چې د مسيح په وخت کې به د اوښانو (سورلۍ) پرېښودل شي او په قرآن شريف کې هم راغلي وو چې وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ (التکوير: ٥) اوس خلک وينې چې په مکې او مدينې کې په ډېرې چټکتيا سره اورګاډی تيارېږي، او د اوښانو د مخه ښې وخت راغلو. او بيا د دې نشان څخه ګټه نه پورته کوي. دا هم په احاديثو کې وو چې د مسيح موعود په وخت کې به ذوالسنين(ښکرلرونکی) ستوری ښکاره کېږي، اوس د انګرېزانو څخه پوښتنه وکړئ چې يوه موده وشوه چې هغه ستوری ښکاره شوی دی او دا هم په احاديثو کې وو چې د مسيح په وخت کې به طاعون خپور شي، حج به بند کړای شي، نو دا ټولې نښې ښکاره شوي. اوس که مثلا زما لپاره په آسمان کې لمر او سپوږمۍ تندر و نه نيول، نو کوم بل مهدي را پيدا کړئ چې د الله د الهام سره دعوه کوي چې زما لپاره شوی دی. افسوس د دې خلکو په حالتونو باندې دغو خلکو د خدای او د رسول د وينا هېڅ عزت ونکړ. او پر پېړۍ هم اوولس کاله تېر شول، مګر د هغوی مجدد تر اوسه په کوم غار کې پټ ناست دی، ما سره دا خلک ولې بُخل کوي؟ که خدای نه غوښتلی، نو زه به نه وی راغلی. ځينې وخت زما په زړه کې به داخيال هم راغلو چې زه غوښتنه وکړم چې خدای ما د دې دندې څخه لېرې کړي او زما پر ځای کوم بل څوک دې خدمت سره ممتاز کړي، نو ورسره زما په زړه کې دا هم واچول شول چې د دې څخه زياته سخته ګناه بله نه ده، چې زه په سپارل شوي خدمت کې ډار وښيم. هر څومره چې زه وروسته کېدل غواړم هغومره خدای تعالی ما مخکې را کاږي. پر ما داسې شپه کمه تيريږي

په کومه کې چې ماته دا ډاډ نه راکول کيږي چې زه تا سره يم او زما آسماني لښکري تا سره دي که څه هم کوم خلک چې پاک زړي دي، د مړينې څخه وروسته به خدای وګوري. لېکن ما د هغه په مخ قسم دی چې زه اوس هم هغه ګورم، دنيا ما نه پيژني لېکن هغه ما پيژني چاچې زه راليږلی يم، دا دهغو خلکو تېروتنه ده او سر تر سره بدمرغي ده چې زما تباهي غواړي، زه هغه ونه يم کومه چې حقيقي مالک په خپل لاس لګولې ده. څوک چې ما غوڅول غواړي د دې پايله پرته د دې نورهېڅ نه ده، چې هغه د قارون او يهودا اسکريوطي او ابوجهل د نصيب څخه څه برخه اخيستل غواړي، زما هره ورځ په دې خبره سترګې له اوښکو ډکې شي چې څوک ميدان ته راووځي او په منهاج نبوت ما سره فيصله کول و غواړي بيا دې وګوري چې خدای د چا سره دی، مګر ميدان ته راوتل د کوم مخنث کار نه دی، هو غلام دستګير زمونږ د ملک پنجاب د کفر د لښکرو يو سرتېری و چې له منځه لاړ. اوس د دې خلکو څخه د هغه په شان څوک راوتل ګران او غير ممکن دی. ای خلکو! يقيناً پوه شئ چې ما سره هغه لاس دی چې تر آخره به زما سره وفا وکړي، که چېرې ستاسو سړي، ښځې، ستاسو ځوانان، بوډا ګان، ستاسو لوی او واړه ټول په ګډه سره زما د هلاک کولو لپاره دعاګاني وکړي، تر دې چې په سجدو کولو يې پوزې خوړينې شي او لاسونه يې شل شي، بيا به هم خدای هېڅکله ستاسې دعا ګاني وانه وري او نه به درپرې چې تر کومه هغه خپل کار پوره نکړي. او که چېرې د انسانانو څخه يوهم ما سره نه وي، نو د خدای فرښتې به ما سره وي او که چېرې تاسو ګواهي پټه کړئ، نو نږدې ده چې تيږې هم زما لپاره ګواهي ورکړي، نو په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ د دروغجنو مخونه نور وي او د ريښتينو نور. خدای کوم کار د پرېکړې څخه پرته نه پرېږدي، زه په هغه ژوند لعنت کوم چې د درواغو او افتراء سره وي او همدارنګه په هغه حالت هم چې د مخلوق څخه د ډار په وجه د خالق د امر څخه سرغړونه وشي. هغه خدمت چې قدير خدای په عين وخت باندې ما ته سپارلی دی او دهمدې لپاره يې زه پيدا کړی يم هېڅکله ممکنه نه ده چې زه په هغه کې سستي وکړم، که څه هم لمر له يوې خوا څخه او ځمکه د بلې خوا څخه په ګډه سره ما ځپل وغواړي. انسان څه دی يواځې يو چينجی، او بشر څه شی دی، يواځې يوه مضغه (دغوښې يوه ټوټه) نو بيا ولې زه د حیٌ او

قيوم د حكم څخه يواځي د يوه چينجي او يا د يوې مضغې لپاره سرغړونه وكړم. څرنګه چې خداى د وړاندينيو مأمورينو او مكذبينو تر منځ يوه ورځ پرېكړه وكړه همدغه رنګ به هغه اوس هم پرېكړه وكړي. د خداى د مأمورينو د راتللو هم يو موسم وي او بيا د تللو لپاره هم يو موسم، نو يقيناً پوه شئ چې نه زه بې موسمه راغلى يم او نه به بې موسمه ځم. خداى سره جنګ مه كوئ دا د تاسو كار نه دى چې ما تباه كړئ. اوس د دې اعلان څخه زما مطلب دادى چې څرنګه خداى تعالى په نورو نښانو كى هم پر مخالفينو باندې حجت تمام كړى دى همدارنګه زه غواړم چې د آيت لو تقوّل په اړه هم حجت پوره شي [٢٥]* له همدى اړخه ما دغه اعلان د پنځوسوو روپو د انعام سره خپور كړى دى او كه چېرې تسلي نه وي، نو زه دغه روپې په كوم دولتي بانک كې جمع كولاى شم. كه چېرې حافظ محمد يوسف صاحب او د هغه نور ملګري دكومو نومونه چې ما په دې اعلان كې ليكلي دي پخپلې دغه دعوه كې ريښتينې دي يعنې كه چېرې دا خبره صحيح ده چې كه كوم څوک د نبي يا رسول او د مأمور من الله كېدو دعوه وكړي او بيا په ښكاره، ښكاره ډول خلكوته د خداى په نوم كلمات واوروي او بيا باوجود د دې چې هغه مفتري وي مسلسل ٢٣ درويشت كاله پورې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وحي زمانه ده ژوندى پاتې شوى وي، نو زه داسې مثال وړاندې كوونكي ته ددې څخه وروسته چې ماته زما د ثبوت موافق يا د قرآن د ثبوت

[٢٥]* د دې زماني ځينې نادان څو ځلې د ماتې خوړلوڅخه وروسته بيا هم د حديثونو له مخې ماسره بحث كول غواړي يا د بحث كولو هيله مند وي. مګر افسوس هغه نه پوهيږي چې په كوم حال كې چې هغوى خپل څو داسې حديثونه پرېښودل نه غواړي كوم چې يواځې د شكونو ذخيره او مجروح او مخروش دي، او دهغوى مخالف نور حديثونه هم شته او قرآن هم هغه احاديث دروغجن ګرځوي، نو بيا زه داسې يو روښانه دليل څرنګه پرېښودلى شم د كوم چې يو خوا قرآن شريف تائيد كوي او د بلې خواه دهغه د ريښتينولې احاديثِ صحيحه ګواه دي او بل خوا دخداى هغه كلام ګواه دى چې پر ما نازليږي. يو خواه پخواني كتابونه ګواه دي او بل خواه عقل ګواه دى او يو لور ته هغه سلګونه نښانونه ګواه دي كوم چې زما په لاس ښكاره كيږي. نو د حديثونو بحث د تصفيې لار نه ده. خداى ماته خبر راكړى دى دا ټول حديثونه چې وړاندې كوي يې، په لفظي او يا معنوي تحريف ككړ دي او يا بيخي موضوع دي. او كوم كس چې حكم راغلى د هغه اختيار دى چې د حديثونو د ذخيرې څخه چې كوم انبار وغواړي د خداى په علم سره قبول كړي او كوم انبار چې وغواړي د خداى په علم سره رد كړي .منه

حاشيه

موافق، ثبوت راکړي پنځه سوه روپۍ نغدي ورکړم. او که چېرې داسې خلک ډېر وي، نو بيا د هغوی اختيار دی چې هغه روپۍ په خپل منځ کې وويشي. ددې اعلان د خپريدو د نيټې څخه تر پنځلس ورځو پورې هغوی ته مهلت دی چې په دنيا کې پلټنه وکړي او داسې بېلګه وړاندې کړي. دا د افسوس ځای دی چې زما د دعوې په اړه کله چې ما د مسيح موعود کيدو دعوا وکړه مخالفانو، نه د آسماني نښانو څخه ګټه پورته کړه او نه يې ځمکنيو نښانو څخه څه هدايت ترلاسه کړ. خدای د هر اړخه نښې ښکاره کړې، لېکن د دنيا بچو هغه قبولې نه کړې اوس د خدای او دهغو خلکو ګُشتي ده، يعنې خدای غواړي، چې خپل بنده کوم چې هغه راليږلی د روښانه دلايلو او نښانونو سره د هغه ريښتينولي ښکاره کړي او دغه خلک غواړي چې هغه تباه شي د هغه انجام بد وي او هغه د هغوی د سترګو وړاندې هلاک شي او د هغه جماعت متفرق او نابود شي بيا دا خلک وخاندي او خوشحاله شي او هغه خلکوته په تمسخر سره وګوري کوم چې د دې سلسلې په ملاتړ کې وو او خپلو زړونو ته ووايي چې تا ته دې مبارک وي نن تا خپل دښمن وليد چې هلاک شو او د هغه جماعت دې خور وور وليدو. آيا د هغوی مرادونه به پوره شي؟ آيا داسې د خوشحالۍ ورځ به په هغوی راشي؟ د دې همدا جواب دی چې چېرې د هغوی په امثالو باندې راغلې وه، نو پر دوی به هم راشي. ابوجهل چې کله د بدر په جنګ کې دا دعا کړې وه چې اللّٰهم من کان منّا کاذبا فاحنهُ فی هذا المَوْطنِ يعنې ای خدايه زمونږ دواړو څخه هريو چې محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم او زه يم چې ستا په نظر کې دروغجن دی، هغه د همدې جنګ پرمهال هلاک کړه. نو آيا د دې دعا پر وخت د هغه دا ګمان و چې زه دروغجن يم؟ او لېکهرام چې کله وويل چې زما هم د مرزا غلام احمد د مرګ په اړه همداشان وړاندوينه ده څرنګه چې د هغه او زما پيشګويي به وړاندې پوره کيږي او هغه به مري [٢٦]* نو څه هغه وخت هغه د خپل ځان به اړه دا

[٢٦]* همدارنګه کله چې مولوي غلام دستګير قصوري کتاب تاليف کولو سره په ټول پنجاب کې دا مشهوره کړې وه چې ما د دې پرېکړې لاره غوره کړې وه چې مونږ دواړو څخه چې څوک دروغجن دی هغه به وړاندې مړ شي، نو آيا هغه خبر و چې همدا پرېکړه به د ده لپاره د لعنت نښانه شي او هغه به مخکې مړ او د خپلو نورو ملګرو به هم مخ تور

حاشيه

ګمان و چې زه درواغجن یم؟ نو منکر خو په دنیا کې وي، لېکن لوی بدبخت هغه منکر دی چې د مرګ نه وړاندې دا معلومه نه کړای شي چې زه درواغجن یم. نو آیا خدای د وړاندنیو منکرینو په وخت کې قادر و او اوس نه دی؟ نعوذ بالله هېڅکله داسې نه دی بلکه هریو چې ژوندی پاتې شي هغه به وګوري چې آخر به خدای غالب شي. دنیا ته یو نذیر راغلو لېکن دنیا هغه و نه منلو لېکن خدای به هغه قبول کړي او په خورا زورورو حملو سره به د هغه رېښتینولی ښکاره کړي. هغه خدای د کوم چې زورور لاس ځمکو او آسمانونو او هغه ټول شیان چې په هغوی کې دی نیولي دي. هغه کله د انسان د ارادو څخه مغلوب کیدای شي او آخر یوه ورځ راځي چې هغه پرېکړه کوي، نو د صادقانو همدغه نښه ده چې پایله هم د هغوی وي. خدای په خپلو تجلیاتو سره د هغوی په زړونو نزول کوي، نو څنګه به هغه عمارت ولویږي په کوم کې چې هغه رېښتینی پاچا اوسیږي. څومره چې غواړئ ملنډې ووهئ، څومره چې غواړئ ښکنځل وکړئ، څومره چې غواړئ د ایذاء او تکلیف ورکولو دسیسې وسنجوئ او زما د له منځه وړلو لپاره هر یو ډول تدبیرونه او مکر وسنجوئ څومره چې غواړئ. بیا یاد وساتئ چې ډېر زر به خدای تاسو ته وښیي چې د هغه لاس غالب دی. نادان وایي چې زه به د خپلو پلانونو سره غالب شم، مګر خدای وایي چې ای لعنتي وګوره زه به ستا ټول پلانونه درته خاورې ایرې کړم. که چېرې خدای غوښتي وای، نو دغو مخالفو ملایانو او د هغوی منونکو ته به یې سترګې وربښلې وای او هغوی به هغه وختونه او موسمونه پیژندلي وای په کومو کې چې د خدای د مسیح راتلل اړین وو. لېکن اړینه وه چې د قرآن کریم او حدیثونو هغه وړاندوینې پوره شوې وای په کومو کې چې لیکلي وو چې کله میسح موعود ظاهر شي، نو هغه به د اسلامي علماوو دلاسه تکلیف ووینې هغوی به هغه کافر وګرځوي او دهغه د قتل فتوې به ورکړل شي او د هغه به سخت سپکاوی وشي او هغه به د اسلام د دایرې څخه خارج او د دین تباه کوونکی وګڼل شي. نو په دې ورځو کې دغه وړاندوینه دغو مولویانو په خپلو لاسو پوره کړه. افسوس دا خلک فکر

حاشیه

پاتې حاشیه[۲۶]: کړي او د راتلونکو داسې مقابلو کې د هغوی په خوله هم مهر ولګوي او هغه به ډارن کړي؟ منه

نه کوي چې که چېرې دغه دعوا د خدای په امر او ارادې سره نه وه، نو ولې په دې مدعي کې د پاکو او صادقو نبیانو په شان ډېر د ریښتینولی دلایل جمع شول؟ آیا هغه شپه هغوی ته د ماتم شپه نه وه په کومه کې چې زما دعوې په وخت په روژه کې لمر او سپوږمۍ تندرنیول عین د وړاندوینې په نیټوکې واقع شوه آیا هغه ورځ پردوی د مصیبت ورځ نه وه په کومه کې چې د لېکهرام په اړه پیشګویی پوره شوه؟ خدای د باران په شان نښانې را وورولې، مګر دغو خلکو خپلې سترګې پټې کړې تر څو داسې نه شي چې وګوري او ایمان راوړي آیا دا ریښتیا نه ده چې دغه دعوه بې وخته نه بلکه عین د پېړۍ پر سر باندې عین د اړتیا په ورځو کې ښکاره شوه او دغه خبره له پخوا څخه او د کله څخه چې بنې آدم پیدا شوی په سنت الله کې داخله ده چې عظیم الشان مصلح د پېړۍ په سر او عین د اړتیا په وخت کې راځي. لکه څرنګه چې زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د حضرت مسیح علیه السلام څخه وروسته د اوومې سلیزې پر سر کې کله چې ټوله دنیا په تیارې کې پرته وه ظهور وفرمایلو او کله چې اووه دوه چنده کړای شي، نو څوارلس کیږي په دې خاطر، نو د څوارلسمې پېړۍ سر د مسیح موعود لپاره مقدر و. ترڅو دې خبرې ته اشاره وي چې څومره قومونو کې چې فساد او خرابوالی د حضرت مسیح د زمانې څخه وروسته د حضور صلی الله علیه وسلم تر زمانې پورې پیدا شوی و، د هغه فساد څخه به، هغه فساد دوه چنده وي کوم چې د مسیح موعود په زمانه کې وي. او لکه څنګه چې مونږ اوس بیان کړی دی چې خدای تعالی یو ډېر لوی اصول په قرآن کریم کې قایم کړی و د هماغه سره یې په یهود او نصاراوو باندې حجت قایم کړی و، دا و چې خدای تعالی هغه کاذب ته چې د نبوت یا رسالت او یا د مأمور من الله کېدو دروغجنه دعوه وکړي مهلت نه ورکوي او هلاک کوي یې. نو زمونږ د مخالفو مولویانو دا څرنګه ایمانداري ده چې په خوله خو پر قرآن شریف ایمان راوړي، مګر د هغه وړاندې کړل شوي دلایل رد کوي که چېرې هغوی په قرآن ایمان راوړلو سره همدغه اصول یې زما د ریښتني او یا درواغجن کیدو معیار ګرځولی وای نو ژر به یې حق ترلاسه کړی وای.آیا زما د مخالفت لپاره اوس هغوی د قرآن شریف دغه اصول هم نه منې؟ او وایي چې که چېرې کوم داسې دعوای وکړي چې زه د خدای نبي یا رسول یا مامور من الله یم د چا سره چې

خدای هم کلام او د خپلو بندګانو د اصلاح لپاره وخت په وخت د نیغی لاری حقیقتونه پر هغه ښکاره کوي او په دغه دعوه باندې درویشت یا پنځه ویشت کاله تېر شي یعنې هغه موده تېره شي کومه چې د حضور صلی الله علیه وسلم د نبوت موده وه او هغه شخص تر هغه وخته مړ نه شي او نه قتل کړای شي، نو د دې څخه دا نه لازمیږي چې هغه شخص ریښتینی نبي او ریښتینی رسول یا دخدای له اړخه ریښتینی مصلح یا مجدد دی، او په حقیقت کې خدای د هغه سره همکلام کیږي. لیکن ظاهره وه چې دا د کفر کلمه ده ځکه چې دې څخه د خدای د کلام تکذیب او سپکاوی لازم راځي. هر یو عقلمند پوهیدلای شي چې خدای تعالی په قرآن شریف کې د حضور صلی الله علیه وسلم د ریښتیني رسالت د ثابتولو لپاره همدغه استدلال کړی. چې که چېرې دغه شخص پر خدای باندې افترأ کړې وای، نو ما به هغه هلاک کړی وای. او ټول عالمان پوهیږي چې د خدای وړاندې کړل شوي دلیل سره سپکاوی کول بالاتفاق کفر دی، ځکه چې پردې دلیل ملنډې وهل کوم چې خدای د قرآن او د رسول پر ریښتنوالي وړاندې کړی د کتاب الله او د رسول الله د تکذیب موجب دی او هغه ځرګند کفر دی. مګر په دې خلکو څه افسوس وکړای شي، شاید د دې خلکو په اند پر الله باندې افترا کول جایز دي او یو بد ګمانه ویلی شي چې دا ټول ټینګار د حافظ محمد یوسف صاحب او د هغه په هر مجلس کې بیا بیا ویل چې یو انسان که درویشت کلونو پورې پر خدای تعالی افترای وکړي نه هلاک کیږي د دې همدا وجه ده چې نعوذ بالله هغوی څو افتراوې پر خدای کړي وي او ویلي یې وي چې ما دا خوب ولید یا ما ته دا الهام وشو او بیا تر اوسه هلاک نه شو، نو زړه کې یې دا وګڼل چې د خدای تعالی د خپل رسول په اړه دا ویل چې که هغه پر ما افترأ کړې وای، نومونږ به د هغه د ځان رګ پرې کړی وای دا هم صحیح نه ده*[۲۷] او خیال یې وکړ چې زمونږ د ځان رګ خدای ولې پرې نه کړ، د دې ځواب دا دی چې دا آیت د رسولانو او نبیانو او مامورینو په هکله دی چې کروړونو انسانان خپل ځان خواته رابولي

[۲۷] * زمونږ د حافظ صاحب د شخصیت په اړه هېڅ کله دا هیله نه ده چې نعوذ بالله کله به هغه پر خدای افترأ کړي وي او بیا د کومې سزا د نه موندلو په وجه یې دا عقیده شوې ده. زمونږ ایمان دی چې پر خدای باندې افترأ کول د پلید طبع خلکو کار دی. او آخر هغه هلاک کیږي. منه

حاشیه

او د کومو افتراء څخه چې دنیا تباه کیږي. لېکن په داسې شخص چې خپل ځان د مامور من الله کېدو دعوای کوي او د قوم مصلح ځان نه ګڼي او نه د نبوت او رسالت دعوا کوي او یوائې د تمسخر په توګه یا خلکو ته خپل رسوخ ښودلو لپاره دعوای کوي چې ما دا خوب ولید او یا الهام وشو او درواغ وایي یا په هغه کې درواغ ګډوي او د هغه نجاست د چینجي په شان دی کوم چې په نجاست کې پیدا کیږي او په نجاست کې مري. داسې خبیث د دې وړ نه دی چې هغه ته خدای دا عزت ورکړي چې که تا پر ما افترأ وکړه، نو زه به تا هلاک کړم. بلکه هغه د خپل نهایت درجه ذلت په وجه د توجه وړ نه دی. کوم څوک دهغه پیروي نه کوي، څوک هغه نبي یا رسول او یا مأمورمن الله نه ګڼي. له دې پرته داهم ثابتول په کار دي چې پر دې مفتریانه عادت باندې مسلسل درویشت کاله تېرشوي دي. زمونږ د حافظ محمد یوسف صاحب سره څه زیاته پیژندګلوي نشته، مګر دا امید هم نه دی. خدای د هغه په باطني اعمالو ښه خبر دی، دهغه دوه خبرې، خو زمونږ په یاد دي او اوریدلي مو دي چې هغه اوس د هغوی څخه انکار کوي.

۱. یو داچې څو کالو موده تېره شوې ده هغه په لویو لویو غونډو کې بیان کړی و چې مولوي عبدالله غزنوي ماته وویل چې دآسمان نه یو نور پر قادیان راکوز شو او زما اولاد د هغه څخه بې برخې پاتې شو.
۲. دوهمه دا چې خدای تعالی د انساني تمثل په ډول په ظاهرېدو هغه ته یې وویل چې مرزا غلام احمد په حق باندې دی خلک ولې دهغه انکار کوي.

اوس زه فکر کوم چې، که چېرې حافظ صاحب د دې دوه واقعاتو څخه اوس انکار کوي کومې یې چې بار بار د ډیرو خلکو په وړاندې بیان کړي دي، نو نعوذبالله بې شکه هغه پر خدای تعالی باندې افتراء کړې ده [۲۸]* ځکه چې کوم څوک چې ریښتیا وایي که چېرې هغه مړ هم شي بیا هم انکار نشي کولای،

---

[۲۸]* زه به هېڅکله دا ونه منم چې حافظ صاحب د دې دواړو واقعاتوڅخه انکار کوي، د دې واقعاتو ګواه نه یوائې زه یم بلکه د مسلمانانو یو لوی جماعت ګواه دی او په ازاله اوهام کتاب کې د هغه له وینا د مولوي عبدالله صاحب کشف درج شوی. زه خو یقیناً خبریم چې حافظ صاحب به داسې څرګنده درواغ هېڅکله په خوله رانه وړي که څه هم د قوم له لوري په لوی مصیبت هم ګرفتار شي. د هغه ورور محمد یعقوب خو انکار و نه کړ، نو هغه به یې ولې کوي درواغ ویل خو مرتد کیدو څخه کم نه دي. منه

حاشیه

لکه څنګه چې د هغه ورور محمد یعقوب اوس هم ښکاره ګواهي ورکړي ده چې د یوه خوب په تعبیر کې مولوي عبدالله صاحب غزنوي فرمایلي وو چې، هغه نور کوم چې دنیا روښانه کوي هغه مرزا غلام احمد قادیاني دی. اوس همدا د پرون خبره ده چې حافظ صاحب هم دا دوه کیسې بار بار بیانولې، او لا تر اوسه هغه دومره بوډا شوی نه دی ترڅو دا خیال وکړای شي چې د زړتوب له امله یې د حافظې قوت له منځه لاړ دی او د اتو کلونو څخه زیاته موده وشوه کله چې ما د حافظ صاحب د خولې څخه د مولوي عبدالله صاحب پورتنی ذکر شوی کشف په ازاله اوهام کې خپور کړی دی. آیا دا کوم عقلمند منلی شي چې ما یوه دروغجنه خبره د خپل ځان څخه لیکلې وای او حافظ صاحب به بیا د هغه کتاب لوستلوڅخه وروسته چپ پاتې شوی وای. اوهېڅ عقل او فکر ته نه راځي چې په حافظ صاحب څه شوي دي؟ معلومیږي چې د کوم مصلحت نه عمداً ګواهي پټوي او په نېک نیتی سره اراده لري چې په بله موقع به دا ګواهي ښکاره کړم، مګر ژوند څو ورځې دی اوس هم د اظهار وخت دی، انسان ته ددې څه ګټه چې د خپل جسماني ژوندانه لپاره پرخپل روحاني ژوند چاړه تېره کړي. ما ډېر ځلې د حافظ صاحب څخه دا خبره اوریدلې وه چې هغه زما د مصدقینو څخه دی او د مکذب سره مباهلې ته تیار دی او په دې کې د هغه د عمر یوه ډیره برخه تیره شوه او د دې په تائید کې هغه خپل خوبونه هم اورول او ځینې مخالفانو سره یې مباهله هم وکړه مګر بیا ولې د دنیا خواته شو؟ لېکن مونږ تراوسه د دې خبرې څخه نا امیده نه یو چې خدای د هغه سترګې پرانیزي او دا امید شته دی ترڅو چې هغه په دې حالت کې مړ نه شي. او په یاد دې وي چې ددې اعلان څخه ځانګړې موخه هماغه ده ځکه چې په دې ورځو کې د ټولو نه وړاندې هماغه په دې خبرې ټینګار کړی دی چې د قرآن دغه دلیل چې " که چېرې دغه نبي په درواغو د وحي دعوه کړې وای، نو ما به دی هلاک کړی وای" دا هېڅ شی نه دی بلکه ډېر داسې درواغجن په دنیا کې شته چا چې درویشت کالو څخه هم تردېرې مودې د نبوت یا رسالت یا د الله له اړخه د مامور کېدو د دروغو دعوې کولو سره پر الله افترأ وکړه او تراوسه ژوندي موجود دي. د حافظ صاحب دا خبره داسې ده چې هېڅ یو مومن دا نشي زغملی، مګر هغه څوک چې د چا

په زړه د خدای لعنت وي. آیا د خدای کلام دروغ دی؟ و من اظلم من الذی کذّب کتاب الله. اَلَا ان قول الله حق و اَلَا ان لعنة الله علی المکذبین.

دا د خدای قدرت دی چې هغه په ټوله کې د هغو نورو شیانو سره دا نښانه هم زما لپاره څرګنده کړه چې زما د الله د وحي حاصلولو ورځی یې د سیدنا محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د ورځو سره برابرې کړې، د کله څخه چې دنیا شروع شوې یو انسان به هم د مثال په توګه پیدا نه شي کوم چا چې زمونږ د سید او سردار نبي صلی الله علیه وسلم په شان درویشت کاله موندلي وي بیا د الله د وحي په دعوه کې دروغجن وي. دا خدای تعالی زمونږ نبي صلی الله علیه وسلم ته یو خاص عزت ورکړی دی کوم چې د هغه د نبوت زمانه یې هم د ریښتینولی معیار ګرځولی دی. نو ای مؤمنانو! که چېرې تاسې داسې یو کس بیا مونده چې د الله له خوا د مامور کېدو دعوای کوي او تاسو ته ثابته شي چې د الله د وحي ترلاسه کولو په دعوې باندې درویشت کاله موده تېره شوه او هغه پر له پسې تردې مودې پورې د الله د وحي د ترلاسه کولو دعوه کوله او هغه دعوه د ده د خپاره شوو لیکلو څخه هم ثابت کېدله، نو یقیناً پوه شئ چې هغه د خدای له لورې دی ځکه چې دا شونې نه ده چې زمونږ د سید و مولا محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د وحي ترلاسه کولو موده هغه چا ته حاصله شي کوم څوک چې خدای تعالی پیژني چې هغه دروغجن دی. هو د دې خبرې قطعي ثبوت ضروري دی چې په حقیقت کې هغه شخص د الله د وحي ترلاسه کولو دعوه کې درویشت کاله موده ترلاسه کړې او په دې موده کې تر آخره کله هم چپ نه دی پاتې شوی، او نه د دې دعوې څخه یې لاس اخیستی. نو په دې امت کې هغه یو کس یواځې همدا زه یم چا ته چې د خپل نبي کریم پر نمونې باندې د الله د وحي ترلاسه کولو کې د درویشت کلونو موده ورکړل شوې ده. او تر درویشت کلونو پورې پر له پسې د دې وحي سلسله جاری وساتل شوه د دې د ثبوت لپاره په پیل کې زه د براهین احمدیه هغه مکالمات الهیه لیکم چې د یویشت کلونو راهیسې په براهین احمدیه کې چاپ او خپرې شوي دي او اوه، اته کاله وړاندې په شفاهي بڼه هم شایع کیدلې د کومو ګواهي چې خپله د براهین احمدیه څخه ثابته ده. او بیا له دې وروسته به هغه څو الهیه مکالمات ولیکم کوم چې د براهین احمدیه څخه وروسته وخت په وخت د نورو کتابونو په ذریعه خپاره کېدل، نو په براهین احمدیه کې دا

كلمات الله ليكلي دي كوم چې د خداى تعالى له اړخه پر ما نازل شوي. او زه يواځې د ښلګې په ډول په لنډه توګه ليکم. د مفصلې کتنې لپاره براهين احمديه موجود دى. هغه کلمات الهيه چې په کومو سره زه مشرف کړى شوى يم او براهين احمديه کې درج دي: بشرى لك يا احمدى. انت مرادى ومعى. غرست لك قدرتى بيدى. سرّك سرّى. انت وجيهٌ فى حضرتى. اخترتك لنفسى انت منى بمنزلة توحيدى وتفريدى. فحان ان تعان وتعرف بين الناس. يا احمد فاضت الرحمة على شفتيك. بوركت يا احمد. وكان ما بارك الله فيك حقا فيك. الرّحمن علّم القرآن لتنذر قومًا ما انذر آباؤهم ولتستبين سبيل المجرمين. قل انى امرت وانا اوّل المؤمنين. قل ان كنتم تحبون الله فاتبعونى يحببكم الله. ويمكرون ويمكرالله والله خيرالماكرين. وما كان الله ليتركك حتّى يميز الخبيث من الطيب. وان عليك رحمتى فى الدنيا والدين. وانك اليوم لدينا مكين امين. وانك من المنصورين. وانت منى بمنزلة لا يعلمها الخلق. وما ارسلناك الا رحمة للعالمين. يا احمد اسكن انت وزوجك الجنّة. يا آدم اسكن انت وزوجك الجنة. هذا من رحمة ربك ليكون آية للمؤمنين. اردت ان استخلف فخلقت آدم ليقيم الشريعة ويحي الدين. جرىّ الله فى حلل الانبياء. وجيه فى الدنيا والآخرة ومن المقربين. كنت كنزًا مخفيا فاحببت ان اعرف ولنجعله آية للناس ورحمة منّا وكان امرا مقضيا. يا عيسى انّى متوفيك ورافعك اليّ ومطهّرك من الذين كفروا. وجاعل الذين اتّبعوك فوق الذين كفروا الى يوم القيامة. ثلة من الاولين وثلة من الاخرين. يخوفونك من دونه. يعصمك الله من عنده ولولم يعصمك الناس. وكان ربك قديرا. يحمدك الله من عرشه. نحمدك ونصلى. وانا كفيناك المستهزئين. وقالوا ان هو الا افك ٱفترىٰ. وما سمعنا بهذا فى آبائنا الأوّلين. ولقد كرّمنا بنى آدم وفضّلنا بعضهم على بعض. كذالك لتكون آية للمومنين. وجحدوا بها واستيقنتها انفسهم ظلما وعلوا. قل عندى شهادة من الله فهل انتم مومنون. قل عندى شهادة من الله فهل انتم مسلمون. وقالوا انّى لك هذا، ان هذا إلّا سحرٌ يوثر وان يروا آية يعرضوا ويقولوا سحرٌ مستمر. كتب الله لاغلبن انا ورسلى. والله غالب على امره ولكن اكثر الناس لا يعلمون. هو الذى ارسل رسوله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله لا مبدل لكلمات الله. والذين آمنوا ولم يلبسوا ايمانهم بظلم اولئك لهم الامن وهم مهتدون. ولا تخاطبنى فى الذين ظلموا انهم مغرقون. وان يتخذونك الا هزوا أهذا الذى بعث الله. وينظرون اليك وهم لا

يبصرون. واذ يمكربك الذى كفّر. اوقدلى يا هامان لعلّى اطلع على اله موسى وانى لاظنه من الكاذبين. تبّت يدا ابى لهب وتب ما كان له ان يدخل فيها إلّا خائفًا. وما اصابك فمن الله. الفتنة هٰهنا فاصبر كما صبر اولوا العزم. الا انّها فتنة من الله ليحبّ حبّا جمّا. حبًّا من الله العزيز الاكرم. عطاءً غير مجذوذ. وفى الله اجرك. ويرضى عنك ربّك ويتمّ اسمك. وعسى ان تحبّوا شيئا وهو شرّ لكم وعسى ان تكرهوا شيئا وهو خيرلكم والله يعلم وانتم لا تعلمون[٢٩]*

ژباړه: ای زما احمده! تا ته دې زيرې وي. ته زما مراد او ما سره يې. ما ستا ونه په خپل لاس ولګوله. ستا راز زما راز دی. او ته زما په درګاه کی عزتمند يې. ما ته د خپل ځان لپاره غوره کړی يې. ته ما سره داسې يې لکه څنګه چې زما توحيد او تفريد. نو وخت راغی چې ستا مرسته وکړای شي. او په خلکو کې به ستا نوم ته شهرت ورکړل شي. ای احمده! ستا په شونډو باندې نعمت يعنې حقايق او معارف جاري دي. تاته برکت درکړل شوی. او دا برکت همدا ستا حق وو. خدای تا ته قرآن وښودلو يعنې د قرآن په هغو معنو يې خبر کړې کومې چې خلکو هېرې کړې وې. ترڅو ته هغه خلک وډار کړې د کومو پلار نيکه چې بې خبره تېر شول. او ترڅو چې په مجرمانو د خدای حجت پوره شي. هغوی ته ووايه چې زه دا ټولې خبرې د خپله اړخه نه بلکه د خدای د وحي او حکم څخه کوم. او زه په دې زمانه کې د ټولو مؤمنانو څخه لومړی يم. دوی ته ووايه که چېرې تاسې د خدای سره مينه کوئ نو راشئ زما پيروي وکړئ. ترڅو خدای هم تاسې سره مينه وکړي[٣٠]* او دغه خلک به تدبير وکړي

[٢٩]* دومره الهامونه مونږ د براهين احمديه څخه د اختصار په ډول ليکلي دي او هر څه که څو ځلې د څو ترتيبونو په رنګ کې دا الهامونه شوي دي، د دې له امله د فقرو په يو ځای کولو کې د يو ځانګړي ترتيب لحاظ نه دی، هر يو ترتيب د ملهم د پوهې او فهم مطابق الهامي دی. منه

[٣٠] * دا ځای زمونږ د جماعت لپاره د فکر ځای دی ځکه چې په دې کې قدير خدای فرمايي چې د خدای محبت د همدې سره تړلی چې تاسې په بشپړ ډول منونکي شئ او په تاسو کې يوه زره هم مخالفت پاتې نه شي. او دغه ځای چې زما په اړه په کلام الهي کې د رسول او نبي ټکی غوره شوی دی چې دغه رسول او نبي الله دی. دا اطلاق د مجاز او استعارې په ډول دی ځکه چې کوم کس چې نبغ په نبغه د خدای ځخه وحي حاصلوي او په يقيني ډول د هغه سره خدای خبرې کوي لکه څنګه يې چې د نبيانو سره کړي پر هغه د رسول او نبي کلمه ويل بې ځايه نه ده، بلکه دا خورا فصيحه استعاره ده له همدې کبله په صحيح

حاشيه

او خداى به هم تدبير وكړي. او خداى دېر ښه تدبير كوونكى دى. او خداى به داسې ونكړي چې تا پرېږدي، ترڅو چې د پاک او د پليد تر مينځ توپير ونه كړي. او پر تا باندې په دنيا او دين كې زما رحمت دى. او نن ته زمونږ په نظر كې د مرتبې خاوند يې. او د هغو ځخه يې چا ته چې مرسته وركول كيږي، او ته زما سره هغه مقام اومرتبه لرې چې هغې ځخه دنيا بې خبره ده، اومونږ پر نړۍ د رحمت كولو لپاره ته ليږلى يې. اى احمده! د خپل زوج سره جنت ته داخل شه. اى آدمه! د خپل زوج سره جنت ته دننه شه. يعنې هر يو چې تا سره تعلق لرونكى دى كه هغه ستا ښځه ده يا ستا ملګرى دى نجات به بيا مومي او هغه به جنتي ژوند بيا مومي. او آخر به په جنت كې داخل شي. او بيا يې وفرمايل چې ما اراده كړې چې پر ځمكه خپل ځاى ناستى پيدا كړم، نو ما دغه آدم پيدا كړ. دغه آدم به شريعت قايم كړي، او دين به ژوندى كړي. دا د خداى رسول دى د نبيانو په جامه كې. په دنيا او آخرت كې وجيه او د خداى د مقربانو ځخه. زه يوه پټه خزانه وم، نو ما وغوښتل چې زه وپيژندل شم، او مونږ خپل دغه بنده به خپل يو نشان وګرځوو او د خپل رحمت يوه بېلګه به يې وګرځوو. او له پيل ځخه همدغه مقدر وو. اى عيسىٰ زه به تا ته په طبيعي توګه وفات دركړم يعنې ستا مخالفان به ستا په قتل قادر نه شي او زه به تا خپلې خواته پورته كړم يعنې په واضحه دلايلو سره او په ښكاره ښكاره نښانونو سره به ثابت كړم چې ته زما د مقربانو ځخه يې، او د هغو ټولو الزامونو ځخه به تا پاک كړم، كوم چې پر تا منكر خلک لګوي، او هغه خلک چې د مسلمانانو ځخه ستا پيروان وي زه به هغوى ته پر هغه بله ډله باندې تر قيامته غلبه او فوقيت وركړم، كوم چې ستا مخالف وي. ستا د منونكو ځخه يوه ډله به د وړاندنيو ځخه وي او يوه ډله د وروستنيو ځخه. خلک به په

پاتې حاشيه[۳۰]: بخاري او صحيح مسلم او انجيل، داني ايل او د نورو نبيانو په كتابونو كې چېرته چې هم زما ذكر شوى دى هغلته زما په اړه د نبي لفظ ويل شوى دى. او د ځينو نبيانو په كتابونو كې استعاري په توګه زما په اړه د د فرشتې لفظ راغلى دى، داني ايل نبي په خپل كتاب كې زما نوم ميكائيل ايښى دى، او په عبراني كې د ميكائيل لفظي معنا ده: د خداى په شان، دا ګواكې د هغه الهام په مطابق دى كوم چې په براهين احمديه كې دى، انت منّى بمنزلة توحيدى و تفريدى فحان اَن تُعان و تُعرف بين الناس، يعنې ته زما سره داسې قرب لرې او همداسې زه تا غواړم لكه ځنګه چې خپل توحيد او تفريد، نو ځرنګه چې زه د خپل توحيد شهرت غواړم همداسې به تا دنيا كې مشهور كړم او هر چيرته چې زما نوم لاړ شي ستا نوم به ورسره وي. منه

حاشيه

خپلو وران کاريو تا ډاروي لېکن خدای به پخپله د خلکو د وران کاريو څخه تا وساتي، که څه هم خلک دې ونه ساتي او ستا خدای قادر دی. هغه د عرش څخه ستا ستاينه کوي يعنې خلک چې کومې ښکنځلې کوي د هغوی په مقابل کې خدای د عرش څخه ستا ستاينه کوي، مونږ ستا ستاينه کوو او پر تا درود لېږو او کوم چې خندا کوونکي دي د هغوی د پاره مونږ يواځې کافي يو. او هغه خلک وايي چې دا خو دروغجنه افترا ده چې دغه شخص وکړه. مونږ د خپل پلار نيکونو څخه داسې نه دي اوريدلي. دغه نادانان نه پوهيږي چې چا ته کومه مرتبه ورکول خدای ته ګران نه دي. مونږ د انسانانو څخه ځينو ته پر ځينو فضيلت ورکړئ، نو همدا شان دغه کس ته دغه مرتبه ورکړل شوې ده. د دې لپاره چې د مؤمنانو لپاره نشان وي، مګر د خدای د نښانو څخه دې خلکو انکار وکړ. زړونو خو ومنله ولې دا انکار د تکبر او ظلم له امله و. هغوی ته ووايه چې ما سره د خدای له لورې ځانګړې ګواهي ده نو تاسې يې نه منئ؟ او کله چې نښاني ګوري، نو وايي چې دا خو يو معمولي کار دی چې پخوا څخه راروان دی (واضحه دې وي چې آخري فقره د دی الهام هغه آيت دی د کوم مطلب چې دا دی کله چې کفارو شق القمر ليدلی و، نو همدغه پلمه يې وړاندې کړې وه چې دا خو د تندر نيولو يو ډول دی تل کيږي کوم نشان نه دی. اوس په دې وړاندوينه کې خدای تعالی د لمراو سپوږمۍ تندر نيولو لور ته اشاره کړې ده چې د دې وړاندويني څخه څو کاله وروسته واقع شو کوم چې د مهدي معهود لپاره په قرآن شريف او د دارقطني حديث کې د نشان په ډول ليکلي وو، او دايي هم وفرمايل چې د لمر او سپوږمۍ تندر نيولو په ليدلو به منکر خلک همدا ووايي چې دا خو کوم نشان نه دی دا خو يوه معمولي خبره ده. ياد دې وي چې په قرآن شريف کې د لمر او سپوږمۍ تندر نيولو ته په آيت جُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ (القيامة: ١٠) کې اشاره ده، او په حديث کې د لمر او سپوږمۍ د تندر نيولو په اړه د امام باقر روايت دی د کوم چې الفاظ دا دي ان لمهدينا آيتين، او ډيره عجيبه دا خبره ده چې په براهين احمديه کې د لمراو سپوږمۍ د تندر نيولو د واقعې څخه تقريباً ١٥ کاله وړاندې د دې واقعې خبر ورکړل شوی و، او داهم ويل شوي وو چې د دې د ښکاره کيدو په وخت کې به ظالم خلک دا نښان ونه مني او و به وايي چې دا خو تل کيږي، حال دا چې په داسې شکل، له کله چې دنيا ده، هېڅکله نه دي شوي چې کوم د مهدي دعوه کوونکی وي. او د هغه په زمانه کې لمر او سپوږمۍ په يوه مياشت کې يعنې په روژه کې وشي، او دا فقره چې دوه ځلي فرمايل شوې چې قل عندی شهادة من الله فهل انتم مومنون. و قل عندی شهادة من الله فهل انتم مسلمون. په دې کې د يوه شهادت څخه مراد د لمر تندر نيول او دوهم شهادت څخه مراد د

سپورمی تندر نیول دي.) او بیا یې وفرمایل چې خدای د پخوا څخه لیکلي دي یعني مقرر کړي یې دي چې زه او زما رسولان به غالب وي. ګواکي که هر څنګه مقابله وړاندې راشي، کوم خلک چې د خدای له لوري دي هغه به نه مغلوبیږي. او خدای پر خپلو ارادو باندې غالب دی، مګر اکثر خلک نه پوهیږي. خدای هماغه خدای دی چا چې خپل رسول د هدایت او رښتني دین سره راولیږلو ترڅو دا دین پر تمامو دینونو غالب کړي. هېڅوک نشته چې د خدای خبرې بدلې کړي. او هغه خلک چې ایمان یې راوړ او خپل ایمان یې د کوم ظلم سره ککړ نه کړ هغوی ته د هرې بلا څخه امن دی او هماغه دي چې هدایت موندونکي دي. او د ظالمانو په اړه ما سره هېڅ خبرې مه کوه هغه خو یو ډوب شوی قوم دی او ته هغوی د خندا ځای ګرځولی یې او وایي چې آیا همدغه دی چې خدای مبعوث فرمایلی؟ او ستا خوا ته ګوري او ته هغوی ته نه ښکاري. او هغه وخت یاد کړه کله چې یو کس به پر تا باندې سراسر په مکر سره د کفر فتوه ولګوي. (دا یوه وړاندوینه ده په کومه کې چې د یوه بدمرغه مولوي په هکله خبر ورکړل شوی چې یوه زمانه را روانه ده کله چې هغه د مسیح موعود په هکله د تکفیر کاغذ تیار کړي) او بیا یې وفرمایل چې هغه به خپل مشر هامان ته ووایي چې ته د دې تکفیر بنسټ کېږده، چې ستا اثر په خلکو باندې ډېر دی او ته په خپلې فتوې سره خلک راپاروی شې. نو ته د ټولو نه وړاندې په دې کفرلیک باندې مهر ولګوه ترڅو ټول عالمان وپاریږي. او ستا مهر د لیدلو سره هغه هم مهر ولګوي او ترڅو زه وګورم چې د دې کس سره خدای دی او که نه. ځکه چې زه هغه درواغجن ګڼم (نو هله هغه مهر ولګاوه) ابو لهب هلاک شو او د هغه دواړه لاسونه هلاک شول [٣١]* (یو هغه لاس په کوم سره چې یې هغه تکفیرلیک ونیولو او

[٣١] * د دې الٰهي کلام څخه دا ښکاره ده، چې د تکفیر کوونکي او د تکذیب د لارې غوره کوونکي هلاک شوی قوم دی. له دې امله هغه د دې وړ نه دي چې زما د جماعت کوم کس د هغوی شاته لمونځ وکړي، آیا ژوندی د مړه شاته لمونځ کولای شي؟ نو یاد وساتئ څرنګه چې خدای ماته خبر راکړی چې پر تاسو حرام دي او قطعي حرام دي چې د کوم مکفر او مکذب یا متردد شاته لمونځ وکړئ، بلکه پکار دی چې ستاسو هماغه امام وي چې ستاسو څخه وي، همدې لور ته د بخاري حدیث په یوه ارخ کې اشاره ده چې اِمامکم منکم یعني کله چې مسیح نازل شي نو تاسو به نوره فرقې چې د اسلام دعوای کوي په بشپړه توګه هرومرو پرېږدئ او ستاسو امام به ستاسو څخه وي، نو تاسو همداسې وکړئ. آیا تاسو غواړئ چې د خدای تور ستاسو پر سر وي، او ستاسې عملونه ضایع شي او تاسې هېڅ خبر نه وی، ځوک چې ما د زړه څخه مني هغه د زړه څخه زما اطاعت هم کوي او په هر حال ما حَکَم ګرځوي او د هرې شخړې پرېکړه زما څخه غواړي، مګر کوم څوک چې د زړه څخه ما نه مني په هغه کې به تاسو تکبر، خود پسندي او خپلواکي وګورئ، نو

حاشیه

دويم هغه لاس په کوم سره چې يې مهر ولګاوه يا يې تکفيرليک وليکلو) هغه ته نه وو په کار چې په دې کار کې يې لاسوهنه کړې واى، مګر په ډار ډار او تا ته چې کوم غم ورسيږي هغه د خداى له لورې دى، کله چې هغه هامان په تکفيرليک باندې مهر ولګوي نو لويه فتنه به راپورته شي، ته صبر وکړه څرنګه چې اولوالعزم نبيانو صبر وکړ. (دا اشاره د حضرت عيسىٰ عليه السلام په اړه ده چې پر هغه هم د يهوديانو پليد طبعو ملايانو د کفر فتوه ليکلې وه او په دې الهام کې دغه اشاره ده چې دا تکفير به ځکه کيږي ترڅو په دې خبره کې هم د حضرت عيسىٰ سره مشابهت پيدا شي. او په دې الهام کې خداى تعالى د استفتاء ليکونکي نوم فرعون او د فتوې ورکوونکي چا چې لومړى فتوه ورکړه نوم يې هامان کېښود. نو تعجب نه دى چې په دې خبره کې دې خواته اشاره وي چې هامان په خپل کفر باندې مري لېکن فرعون به څه وخت کله چې د خداى اراده وي ووايي ءَامَنْتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِىٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسْرَٰٓءِيلَ. (يونس: ٩١) او بيا يې وفرمايل چې دا فتنه به د خداى له خوا څخه وي ترڅو هغه تاسره ډېره زياته مينه وکړي کومه چې تلپاتې مينه ده کومه چې به هېڅکله قطع نه شي او په خداى کې ستا اجر دى خداى به له تا راضي وي او ستا نوم به پوره کړي. ډېرې داسې خبرې دي چې ته يې غواړې، مګر هغه ستا لپاره ښې نه دي او ډېرې داسې خبرې دي چې ته يې نه غواړې او هغه ستا لپاره ښې دي، او خداى پوهيږي او ته نه پوهيږې، دغه دې لور ته اشاره ده چې تکفير اړين و، او په دې کې د خداى حکمت و، مګر افسوس پر هغوى د چا په ذريعه چې الهي حکمت او مصلحت پوره شو، که هغه نه وى پيدا شوي نو ښه وه. دومره الهامونه خو مونږ د ښلګې په ډول د براهين احمديه څخه ليکلي دي، لېکن په دې يويشت کاله موده کې د براهين احمديه څخه راپه دې خوا تر ننه پورې ما څلويښت کتابونه تاليف کړي، او شپيته زرو ته نږدې د خپلې دعوې د ثبوت په اړه مې اعلانونه خپاره کړي دي، او هغه ټول زما له خوا د وړو وړو رسالو په ډول دي. او په هغو ټولو کې زما په مسلسل ډول دا عادت پاتې شوى چې خپل نوي الهامونه ورسره سره شايع کوم. په دې صورت کې هر يو عقلمند فکر کولاى شي چې دا يوه اوږده موده د مامور من الله کيدو د ابتدايي دعوې څخه تر اوسه پورې څنګه شپه او ورځ په مصروفيت سره تېر شوي، او خداى نه يوائې تردې وخته پورې ماته ژوند

حاشيه

پاتې حاشيه[٣١]: پوه شئ چې هغه زما څخه نه دى، ځکه چې هغه زما خبرې کومې چې د خداى له لورې ماته راکړل شوي په عزت سره نه ګوري، نو له دې امله په آسمان کې د هغه عزت نشته. منه

رابخښلی بلکه د دې تالیفاتو لپاره يې صحت راوبخښلو او مال يې عطا کړ، وخت يې عنايت وفرمايلو. او په الهامونو کې د خدای تعالی زما سره دا عادت نه دی چې يواځې معمولي الهي مکالمه وي، بلکه اکثر الهامونه زما د پيشګويانو څخه ډک دي. او د دښمنانو د بدو ارادو په هغوی کې ځواب دی، د مثال په ډول ځرنګه چې خدای تعالی پوهېدو چې دښمن به زما د مرګ تمنا وکړي ترڅو دا پايله راوباسي چې دروغجن و ځکه زر مړ شو، له دې املـه د وړاندې څخه هغه زه مخاطب کړم او ويی فرمايل: ثمانين حولا او قريبا من ذالک او تزيد عليه سنيناً و ترىٰ نسلا بعيدًا يعنې ستا عمر به د اتيا کلونو وي يا دوه ځلور کم يا څو کاله زيات او ته به دومره عمر بيا مومې چې يو لېرې نسل به هم وګورې، او دا الهام تقريباً د ۳۵ کلونو را په دې خوا شوی او په لکونو انسانانو کې خپور کړل شوی، همدارنګه څنګه چې خدای پوهېدو چې دښمن به دا هم هيله وکړي چې دا کس د دروغجنو په شان مهجوراو مخذول پاتې شي او پر ځمکه د هغه قبوليت پيدا نه شي ترڅو دا پايله راوباسل شي چې هغه قبوليت کوم چې د صادقينو لپاره شرط دی او د هغوی لپاره د آسمان څخه نازليږي دې کس ته نه دی ورکړل شوی، نو له همدې املـه هغه د مخکې څخه په براهين احمديه کې وفرمايل: ينصرک رجال نوحی اليهم من السمآء ياتون من کل فج عميق. و الملوک يتبرکون بثيابک. اذ جاء نصرالله والفتح. وانتهى امرالزمان الينا اليس هذا بالحق. يعنې ستا مرسته به هغه خلک وکړي د چا په زړونو کې چې زه د آسمان څخه وحي نازله کړم هغه به د لرې لرې لارو څخه ستا لور ته راشي او پاچاهان به ستا د کاليو څخه برکت بياموميِ کله چې زمونږ مرسته او فتحه راشي هغه وخت به مخالفانو ته وويل شي چې آيا دا د انسان افتراء وه او که د خدای کاروبار؟ [۳۲]* همدارنګه خدای تعالی په

[۳۲] *همدا شان خدای تعالی په دې هم پوه و چې که کوم خبيثه ناروغي ولګيږي لکه جذام، ليونتوب، رندېدل او مرګي، نو د دې څخه به خلک دا نتيجه واخلي چې پر ده باندې الهي غضب وشو له همدې املـه هغه ما ته په براهين احمديه کې بشارت راکړ چې د هر يوې خبيثې ناروغۍ څخه به تا محفوظ وساتم او خپل نعمت به پر تا پوره کړم او بيا د دې څخه وروسته د سترګو په اړه په ځانګړې توګه دا هم الهام وشو، تنزل الرحمة على ثلث العين و علٰى الا خريَين. يعنې رحمت به په دري اعضاوو نازل شي، يو سترګې چې بودا توب به هغوی ته ضرر ونه رسوي. او نزول المآء وغيره د کومو څخه چې د بصارت نور له منځه لاړ شي محفوظ وساتل شي. او دوه عضوې نور د کومو چې خدای تعالی وضاحت نه دی کړی پر هغوی به هم دا رحمت نازل شي، او د هغوی په طاقتونو کی به کمزورتيا رانه شي اوس ووايئ چې تاسي په دنيا کې کوم کذاب، ليدلئ چې خپل عمر بنايي خپل بصري صحت او نورو اعضاو د صحت تر آخر د عمره دعوه کوي؟ همداشان ځکه چې

حاشيه

دي پوه و چې دښمن به دا امید هم وکړي چې دا کس منقطع النسل پاتې او نابود شي تر څو د نا پوهانو په نظر کې دا هم یو نشان وي. نو له همدې امله هغه له وړاندې په براهین احمدیه کې خبر راکړ چې ینقطع آباءک و یبدء منک یعنې ستا د مشرانو وړاندې نسلونه به منقطع شي. او د هغوی ذکر نوم او نښان به پاتې نه شي او خدای به ستا څخه یو نوی بنسټ کیږدي. د همغه بنسټ په څېر کوم چې د ابراهیم څخه کېښودل شو. د همدې مناسبت له امله په براهین احمدیه کې زما نوم خدای ابراهیم کېښود. لکه څنګه چې یې وفرمایل: سلام علی ابراهیم صافیناه و نجیناه من الغم. واتخذوا من مقام ابراهیم مصلی. قل رب لا تذرنی فردا و انت خیرالوارثین. یعنې سلام دی پر ابراهیم (یعنې پردې عاجز باندې) مونږ د هغه سره خالصه دوستي وکړه او د هر غم څخه مو هغه ته خلاصون ورکړ. او تاسو چې پیروي کوئ تاسو خپل د لمانځه ځای د ابراهیم د قدمونو ځای وګرځوئ. یعنې کامله پیروي وکړئ ترڅو خلاصون ترلاسه کړئ. او بیا یې وفرمایل ای زما خدایه! ما یواځې مه پریږده او ته ډېر ښه وارث یې. په دې الهام کې اشاره ده چې خدای به تا یواځې نه پریږدي او د ابراهیم په شان به د نسل ډېروالی وکړي او ډېر به د دې نسل څخه برکت بیامومي او دایې وفرمایل چې واتخذوا من مقام ابراهیم مصلّی. دا د قرآن شریف آیت دی او په دې ځای کې د دې دغه معنې دي چې دا ابراهیم چې را استول شوی دی تاسو خپل عبادتونو او عقیدې د ده په طرز باندې پر ځای کوئ، او په هره معامله کې د هغه په ښېګڼې ځان جوړ کړئ. او څرنګه چې آیت وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ (الصف: ٧) دا اشاره ده چې د حضور صلی الله علیه وسلم په آخره زمانه کې یو مظهر ظاهر شي ګواکې هغه به د هغه یو لاس وي [٣٣]* د چا نوم به چې په آسمان

پاتې حاشیه[٣٢]: خدای تعالی پوهېدلو چې خلک به د قتل دسیسې وکړي هغه له وړاندې براهین احمدیه کې خبر ورکړ چې یعصمک الله و لولم یعصمک الناس. منه

حاشیه

[٣٣] * په یاد ولرئ لکه څنګه چې د خدای تعالی دوه لاسونه جلالي او جمالي دي په همدې نمونه باندې ځکه چې زمونږ نبي صلی الله علیه وسلم د الله جل شانه مظهر اتم دی، نو له همدې امله خدای تعالی ده ته هم هغه دواړه لاسونه د رحمت او شوکت عطا وفرمایل. د جمالي لاس لور ته په دې آیت کې اشاره ده چې په قرآن شریف کې دی وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ. (الانبیاء: ١٠٨) یعنې مونږ په ټوله دنیا باندې رحمت کولو سره ته استولی یې او د جلالي لاس خوا ته په دې آیت کې اشاره ده وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى.(الانفال: ١٨) او څرنګه چې خدای تعالی ته منظوره وه چې دا دواړه صفتونه د حضور صلی الله علیه وسلم په خپلو خپلو وختونو کې ظهور بیامومي له همدې کبله خدای

کې احمد وي او هغه به د حضرت مسیح په رنګ کې په جمالی ډول دین خپور کړي همدغه رنګه آیت وَ اتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّیٰ (البقره: ١٢٦) دې خواته اشاره کوي کله چې په امت محمدیه کې ډیرې فرقې شي نو هله به په آخره زمانه کې یو ابراهیم پیدا شي او په هغو ټولو فرقو کې به هغه فرقه نجات بیامومي چې د دې ابراهیم پیرو وي.اوس مونږ د بېلګې په ډول څو الهامونه د نورو کتابونو ځخه لیکو ځرنګه چې د ازاله اوهام په صفحه ٦٣٤ نه تر آخره پورې او همدارنګه په نورو کتابونو کې دا الهامونه دي: جعلناک المسیح ابن مریم. مونږه ته مسیح ابن مریم وګرځولې. دوی به وایې چې مونږ خو د وړاندینیو ځخه داسې نه دي اوریدلي، نو هغوی ته ځواب ورکړه ستاسو معلومات وسیع نه دي تاسې یواځې په ظاهري لفظ او ابهام باندې قانع یاست، او بیا یو بل الهام دی او هغه دا دی اَلحمد لله الذی جعلک المسیح ابن مریم. انت الشیخ المسیح الذی لایضاع وقته. کمثلک درٌ لایضاع. یعنې حمد ټول د خدای دی چا چې ته مسیح ابن مریم ګرځولی یې ته هغه شیخ مسیح یې د چا چې به وخت ضایع نه کړای شي. ستا په شان ملغلره به ضایع نه کړای شي او بیا یې وفرمایل: لنحیینک حیواةً طیبه ثمانین حولا او قریبا من ذالک وترای نسلا بعیدا مظهر الحق و العلاء، کان الله نزل من السمآء. یعنې مونږ به تا ته یو پاک او هوسایه ژوند عطاء کړو، اتیا ٨٠ کاله یا دې ته نږدې نږدې دوه ځلور کاله کم یا زیات او ته به یو لیرې نسل وګورې، د لوړوالي او غلبې مظهر، ګواکې خدای د آسمان ځخه نازل شو او بیا یې وفرمایل یأتی قمرالانبیاء و امرک یتاتی ما انت ان تترک الشیطان قبل ان تغلبه، الفوق معک و التحت مع اعداءک، یعنې د نبیانو سپورمۍ به راوخیږي او ته به کامیاب شې، او ته داسې نه یې چې شیطان پریږدې ترڅو چې پرهغه غالب نه شې، او پاس اوسیدل ستا په برخه دي او لاندې اوسیدل ستا د دښمنانو په برخه کې او بیا یې وفرمایل: انی مهین من اراد اها نتک. وما کان الله لیترکک حتی یمیزالخبیث من الطیب. سبحان الله انت و قاره. فکیف یترکک. انی انا الله فاخترنی. قل رب اِنی اخترتک علی کل شیء. ژباړه: زه به هغه ذلیل کړم ځوک چې ستا ذلت غواړي. او زه به د هغه مرسته وکړم ځوک چې ستا مرسته کوي. او خدای داسې نه دی چې تا پریږدي ترڅو چې هغه په پاک او پلید کې توپیر ونکړي. خدای د هر یو عیب ځخه پاک دی او ته د هغه وقار یې. نو هغه به تا ولې پریږدي. همدا زه خدای یم، نو ته ټول زما لپاره شه. ته ووایه ای زما

حاشیه

پاتې حاشیه[٣٣]: تعالی جلالي صفت د صحابه رضی الله عنهم په ذریعې ظاهر وفرمایلو او جمالي صفت یې د مسیح موعود او د هغه ډلې په واسطې کمال ته ورسولو. په دې آیت کې همدې خبرې ته اشاره شوې ده وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ .(جمعه: ٤). منه

ربه ما ته پر هرڅه باندې غوره کړې. او بیایی وفرمایل: سیقول العدولست مرسلا. سناخذه من مارن او خرطوم. و انا من الظالمین منتقمون. انی مع الا فواج اتیک بغتة. یوم یعض الظالم علی یدیه یا لیتنی اتخذت مع الرسول سبیلا. و قالوا سیقلب الامر و ما کانوا علی الغیب مطلعین. انا انزلناک و کان الله قدیرا. یعنې دښمن به وایي چې ته د خدای له لورې نه یې. مونږ به هغه د پوزې ونیسو. یعنې د قاطعه دلایلو په ذریعې به د هغه ساه بنده کړو. او مونږ به د جزاء په ورځ د ظالمانو څخه بدله واخلو. زه به د خپلو پوځونو سره ناڅاپه ستا خوا ته درشم یعنې کومه ګړۍ چې ستا مرسته وکړای شي د هغې ګړۍ تا ته علم نشته او هغه ورځ به ظالم خپل لاس پرې کړي، ارمان چې ما د دې خدای رالیږلي مخالفت نه وی کړی او د هغه سره وای. او وایي چې دغه جماعت به متفرق شي او خبره به خرابه شي. که څه هم دوی ته د غیب علم نه دی ورکړل شوی. ته زمونږ له خوا یو برهان یې او خدای قادر و چې د اړتیا په وخت کې یې خپل برهان ظاهر کړی وای او بیا یې وفرمایل: اِنا ارسلنا احمد الی قومه فاعرضوا وقالوا کذّاب اشر. وجعلوا یشهدون علیه ویسیلون کماء منهمر. ان حِبّی قریب مستتر. یأتیك نصرتی انی انا الرحمن. انت قابل یاتیك وابل. انی حاشر کل قوم یاتونك جنبا. وانی انرت مکانك. تنزیل من الله العزیزالرحیم. بلجت آیاتی. ولن یجعل الله للکافرین علی المؤمنین سبیلا. انت مدینة العلم. طیّب مقبول الرحمن. وانت اسمی الاعلی. بشری لك فی هذه الایام. انت منّی یا ابراهیم. انت القائم علی نفسه مظهر الحیّ وانت منّی مبدء الامر. انت من مائنا وهم من فشل، ام یقولون نحن جمیع منتصر. سیهزم الجمع ویولون الدبر. الحمد لله الذی جعل لکم الصهر والنسب. انذر قومك وقل انی نذیر مبین. انا اخرجنا لك زروعا یا ابراهیم. قالوا لنهلکنّك قال لا خوف علیکم لاغلبن انا ورسلی. وانی مع الافواج اتیك بغتة. وانی اموج موج البحر. ان فضل الله لآت. ولیس لاحد ان یرد ما اتی. قل ای وربی انه لحق لا یَتَبَدَّلُ ولا یخفی. وینزل ما تعجب منه وحی من ربّ السّموات العلی. لا اله الا هو یعلم کل شیء و یریٰ. ان الله مع الذین اتقوا والذین هم یحسنون الْحُسْنٰی. تُفَتَّحُ لهم ابواب السماء ولهم بشریٰ فی الحیوة الدنیا. انت تربی فی حجر النبی [٣٤]* وانت تسکن قنن الجبال. وانی معك فی کل حال.

[٣٤] * ځینې ناپوهه وایي چې په عربي کې ولې الهام کیږي، د دې همدا ځواب دی چې شاخ د خپلې ربښې څخه نه شي جلا کیدلای. په کوم حالت کې چې دا عاجز د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د عاطفت په غیږه کې پرورش مومي څرنګه چې په براهین احمدیه کې دا الهام هم پر دې ګواه دی چې تبارک الذی[1] من علم و تعلم یعنې دپر برکت والا هغه انسان

حاشیه

[1](د الذی لفظ د کاتب سهوه ده براهین احمدیه کې نشته.) (شمس)

ژباړه: مونږ احمد د هغه قوم لور ته ولیږلو هغه وخت خلکو وویل دا دروغجن دی او هغوی پرهغه باندې ګواهی ورکړي او د سیلاب په شان پرهغه پرېوتل هغه وویل زما ملګری نږدې دی خو پټ. تا ته به زما مرسته راشي. زه رحمان یم، ته وړتیا لري، له همدې امله به ته یو لوی باران ترلاسه کړې، زه به د هر قوم څخه ستا خوا ته ډلې ډلې درولیږم. ما ستا کور روښانه کړ دا د هغه خدای کلام دی چې عزیز او رحیم دی. که څوک ووایي مونږ څنګه پوه شو چې دا د خدای کلام دی، نو د هغوی لپاره دا نښان دی چې دا کلام د نښانونو سره نازل شوی او خدای به هېڅکله کافرانو ته دا موقع ورنکړي چې پر مومنانو باندې کوم واقعي اعتراض وکړی شي. ته د علم ښار یې، طیب او د خدای مقبول، او ته زما د ټولو نه لوی نوم یې، تا ته دې په دې ورځو کې زیری وي. ای ابراهیمه! ته زما یې، ته د خدای پر نفس قایم یې، د ژوندي خدای مظهر، او ته زما څخه د مقصود امر مبدء یې او ته زما د اوبو څخه یې او نور خلک د فشل څخه. آیا دوی وایې چې مونږ یو لوی جماعت یو، بدله اخستونکي؟ دا ټول به وتښتي او شا به واړوي، هغه خدای د ستاینې وړ دی چا چې تا ته د زوموالي او پلرنی عزت وبخښلو، خپل قوم وډار کړه او ووایه چې زه د خدای لخوا ډاروونکی یم مونږ ډېرې کروندې ستا لپاره تیاري کړي دي. ای ابراهیمه! او خلکو وویل چې مونږ به تا هلاک کړو، مګر خدای خپل بنده ته وویل چې هېڅ د ډار ځای نه دی. زه او زما رسولان به غالبیږي. او زه به د خپلو پوځونو سره ډېر ژر راشم. زه به د بحر په شان څپې ووهم. د خدای فضل راتلونکی دی، هېڅوک نشته چې هغه رد کړای شي. او ووایه چې قسم په خدای چې دا خبره ریښتیا ده په دې کې به تبدیلي ونه شي او نه به هغه پټه پاتې شي. او هغه امر به نازلیږي د کوم څخه به چې ته تعجب وکړې. دا د خدای وحي ده چې د لوړو آسمانونو جوړونکی دی. د هغه څخه پرته بل هېڅ خدای نشته. په هر څه پوهیږي او ګوري. هغه خدای د هغو سره

حاشیه

پاتې حاشیه[٣٤]: دی چا چې هغه د روحاني فیض څخه برخمن کړو، یعني سیّدنا رسول الله صلی الله علیه وسلم او دوهم ډېر برکت والا دا انسان دی چا چې د هغه څخه تعلیم حاصل کړ، نو کله چې معلم خپله ژبه عربي ږدي همدغه رنګه باید د تعلیم حاصلونکي الهام هم په عربي باندې وي ترڅو مناسبت ضایع نه شي. منه

دی کوم چې د هغه څخه ډاریږي او نیکۍ په ښه ډول ادا کوي او خپل نېک عملونه په ښکلا سره سرته رسوي. هماغه دي د چا لپاره چې به د آسمان دروازې خلاصې کړای شي او د دنیا په ژوند کې هم د هغوی لپاره زیری دی. ته د نبي دعاطفت په غیره کې پالنه مومې او زه په هرحال کې تا سره یم. او بیا یې وفرمایل: وقالوا اِن هذا الا اختلاق. ان هذا الرجل یجوح الدین. قل جاء الحق وزهق الباطل. قل لو کان الامر من عندغیر الله لوجدتم فیه اختلافا کثیرا. هو الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق وتهذیب الاخلاق. قل ان افتریته فعلیّ اجرامی. ومن اظلم ممن افتری علی الله کذبا. تنزیل من الله العزیز الرحیم. لتنذر قومًا ما انذر آباءهم ولتدعو قومًا آخرین. عسی الله ان یجعل بینکم وبین الذین عادیتم مودةً. یخرّون علی الاذقان سجدا ربنا اغفر لنا انا کنّا خاطئین. لا تثریب علیکم الیوم یغفرالله لکم وهو ارحم الراحمین. انی انا الله فاعبدنی ولا تنسانی واجتهد ان تصلنی واسئل ربك و کن سئولا. الله ولیّ حنّان. علّم القرآن. فبایّ حدیث بعده تحکمون. نزّلنا علی هذا العبد رحمة. وما ینطق عن الهوی. ان هو الا وحی یوحی. دنی فَتَدَلّٰی فکان قاب قوسین او ادنی. ذرنی والمکذبین. انّی مع الرسول اقوم. انّ یومی لفصل عظیم. وانك علی صراط مستقیم. وانا نرینك بعض الذی نعدهم او نتوفینك. وانی رافعك الیّ. و یاتیك نصرتی. انی انا الله ذو السلطان.

ژباړه: او وایي چې دا تصنع ده او دا کس د دین ښېخ اوباسي، ووایه حق راغی او باطل و تښتید. ووایه که دا امر د خدای له خوا نه وای، نو تاسو به په دې کې ډېر اختلاف لیدلی وای یعنې د خدای تعالی کلام څخه به د دې لپاره هېڅ کوم تائید نه وای لاس ته راغلی. او د حقه دلایلونه به هېڅ یو دلیل پر دې قایم نه وای شوی. او په دې کې چې یو نظام، ترتیب، علمي سلسله او د دلایلو ذخیره موجوده ده دا به هېڅکله نه وای. او د ځمکې او آسمان څخه چې کوم نښانونه د دې سره یو ځای کیږي د هغو څخه به هېڅ هم نه وای. او بیا یې وفرمایل خدای هغه خدای دی چا چې خپل رسول یعنې دغه عاجز د هدایت، دین حق او د اخلاقو د تهذیب سره ولیږلو. هغوی ته ووایه چې که چیرې ما افتراء کړي وي، نو پر ما د هغه جرم دی. یعنې زه به هلاک شم او د هغه کس څخه زیات ظالم څوک دی چې پر خدای باندې درواغ وتړي. دا کلام د خدای له لورې دی کوم چې غالب او رحیم دی ترڅو ته هغه خلک ووپروې

د کومو چې پلار نيکه نه وو وپرول شوي. ترڅو نورو قومونو ته د دين دعوت وکړي. نږدې دی چې خدای ستا او ستا د دښمنانو تر مينځ ملګرتيا پيدا کړی [٣٥]* اوستا خدای پر هر څه قادر دی. په هغه ورځ به هغه خلک دې ويلو سره سجده وکړي، چې ای زمونږه خدايه! زمونږه ګناه معاف کړه. مونږ په خطا باندې وو. نن پر تاسو هيڅ ملامتيا نشته. خدای به معاف کړي او هغه الرحم الراحمين دی. زه خدای يم زما عبادت وکړه. او ما ته د رسېدو په خاطر کوښښ کوه. د خپل خدای څخه غواړه او ډېر زيات غوښتونکی اوسه. خدای دوست او مهربانه دی. هغه قرآن وښود. نو تاسو د قرآن په پرېښودلو سره به په کوم حديث باندې عمل کوئ. مونږ په دې بنده باندې رحمت نازل کړی دی او دا د خپل ځان څخه خبرې نه کوي بلکه څه شی چې تاسې اورئ هغه د خدای وحي ده. دا خدای ته نږدې شو يعنې پورته خواته لاړ او بيا لاندی خواته د حق او تبليغ لپاره تيت شو. له همدې امله د دوو قوسونو په منځ کې راغی. پاسه خدای و او لاندی مخلوق. د مکذبينو لپاره ما پرېږده. زه به د خپل رسول سره ولاړ وم. زما ورځ د لويي فيصلې ورځ ده. او ته په نېغه لار يې. او هر څه چې مونږ د دې لپاره وعده کوو کيدلای شي چې د هغو څخه ځينې ستا په ژوند کې تا ته وښايو او يا تا ته وفات درکړو او وروسته هغه وعده پوره کړو. او زه به تا خپلې خواته پورته کړم يعنې ستا رفع الی الله به پر دنيا باندې ثابته کړم. او زما مرسته به تا ته رسيږي. زه هغه خدای يم د چا نښانې چې په زړونو باندې تسلط کوي او هغه قبضه کې راولي. د دې الهامونو په سلسله کې ځينې اردو کې هم الهامونه دي د هغوی څخه لږ څه لاندې ليکل کيږي او هغه دادي:(ژباړه) يو د عزت خطاب، يو د عزت خطاب لَکَ خطاب العزة، يو لوی نشان به د هغه سره وي (د عزت خطاب څخه مراد دا معلوميږي چې داسې سببونه به پيدا شي چې اکثر خلک به ما وپيژني او دعزت خطاب به وکړي، او دا به هله وشي کله چې يو نښان ظاهر شي) او بيا يې وفرمايل خدای اراده کړې چې ستا نوم لوی کړي او د آسمان په څنډو کې به ستا د نوم

[٣٥] * دا خو ناممکنه ده چې ټول خلک ومني ځکه چې دا آيت وَلِذَالِکَ خَلَقَهُمْ (هود:١٢٠) په موجب او د آيت کريمه وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوْقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ (آل عمران:٥٦) د ټولو ايمان راوړل د صريح نص خلاف دي، نو دلته نېکمرغه خلک مراد دي. منه

حاشيه

ځلا ښکاره کړي. زه به خپله بربښنا ښکاره کړم. او په قدرت ښودلو سره به تا پورته کړم. د آسمان څخه ډېر تختونه راکوز شول. مګر د ټولو نه لوړ ستا تخت کیښودل شو. د دښمنانو سره د ملاقات په وخت کې فرښتو ستا مرسته وکړه. تا سره د انګریزانو د نرمۍ لاس و. هماغه خوا خدای و چېرته چې ته وې. آسمان ته لیدونکو باندې د یوه زړې هومره هم غم نه وي دا لاره ښه نه ده، د دې څخه دې منع کړای شي. د مسلمانانو لیډر عبدالکریم ته [٣٦]*. خذو الرفق الرفق فان الرفق رأس الخیرات، نرمي وکړئ نرمي وکړئ چې د ټولو نېکیو سر نرمي ده. (زما ورور عبدالکریم صاحب د خپلې ښځې سره لږ څه په ژبه سخت سلوک کړی و په دې باندې حکم وشو چې دومره سخت ویل نه دي پکار. حتی الوسع اول فرض د مومن د هر چا سره نرمي او حسن اخلاق دی. او ځینې وختونه د ترخو الفاظو استعمال د ترخې دوا په ډول جایز دي، لیکن د اړتیا په حکم او د ضرورت په مطابق، نه دا چې سخت ویل په طبیعت باندې غالب راشي). خدای به ستا ټول کارونه نېغ کړي او ستا ټول مرادونه به تا ته درکړي. رب الافواج به دې خوا ته توجه وکړي. که چېرې د مسیح ناصري لور ته وکتل شي، نو معلوم به شي چې دلته د هغه څخه برکتونه کم نه دي. او ما د اور څخه مه ډاروئ ځکه چې اور زما غلام بلکه د غلامانو هم غلام دی (دا فقره د حکایت په ډول خدای تعالی زما له خوا بیان فرمایلې ده) او بیا یې وفرمایل خلک راغلل او دعوه یې وکړه، د خدای زمري هغه

[٣٦]* په دې الهام کې د ټول جماعت لپاره یوه لارښوونه ده چې د خپلو ښځو سره د رفق او نرمۍ سلوک وکړئ، هغه د دوی کنیزې نه دي، په حقیقت کې نکاح د سړي او ښځې ترمینځ یو خپلمنځي تړون دی، نو کوښښ وکړئ چې پخپله معاهده کې دوکه ورکوونکي ونه ګرځئ. الله تعالی په قرآنکریم کې فرمایي: وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ (النساء: ٢٠)، یعنې د خپلو ښځو سره نېک سلوک سره ژوند وکړئ، او په حدیث شریف کې دي خیرکم خیرکم باهله، یعنې تاسو څخه غوره هماغه دی چې د خپلې ښځې سره ښه دی، نو روحاني او جسماني ډول باندې د خپلو ښځو سره نیکي وکړئ، د هغوی لپاره دعاوې کوئ او د طلاق څخه پرهېز وکړئ ځکه چې ډېر بد د خدای په نزد هغه شخص دی چې په طلاق ورکولو کې ښېره کوي، کوم چې خدای یو ځای کړی هغه د یو ناپاکه لوښي په شان ژر مه ماتوئ.منه

حاشیه

ونیول، د خدای زمري فتحه ترلاسه کړه، او بیا یې وفرمایل: بخرام که وقت تو نزدیک رسید و پائی محمدیان بر مینار بلند تر محکم افتاد [۳۷]*

پاک محمد مصطفی د نبیانو سردار. و روشن شد نشانهای من، هغه ورځ به ډیره مبارکه وي دنیا ته یو وپروونکی راغی مګر دنیا هغه قبول نه کړ، مګر خدای به هغه قبول کړي او په خورا زورورو حملو سر به د هغه ربښتینولي ښکاره کړي. آمین

[۳۷]* د دې فقري څخه مراد چې د محمدیانو پښه په یوه لوړ مینار باندې پرېوته دا دی چې د ټولو نبیانو وړاندوینې چې د آخر زمان مسیح موعود لپاره وې د چا په اړه چې د یهودو خیال و چې زمونږ څخه به پیدا شي، او د عیسایانو خیال و چې زمونږ څخه به پیدا شي، مګر هغه د مسلمانانو څخه پیدا شو ځکه د عزت لوړ مینار د محمدیانو په برخه شو دلته یې محمدي ویلي، دغه دې خوا ته اشاره ده چې کومو خلکو چې تراوسه د اسلام ظاهري قوت او شوکت کتلو د کوم چې محمد نوم یې مظهر دی اوس به هغه خلک په کثرت سره آسماني نشانونه ترلاسه کړي چې د احمد نوم یې لازم حال مظهر دی ځکه چې د احمد نوم انکسار فروتني او د بشپړې درجې محویت غواړي، چې د احمدیت او حامدیت، عاشقیت او محبیت د حقیقت لازم د حال دی او د حامدیت او عاشقیت د حال لازم د تائیدي آیاتونو صدور دی. منه

حاشیه